مورچل

اووم کال نهمه ـ پرلپسې ٦١ګڼه ـ ذی قعدة الحرام ۱۴۳۴ ستمبر ۲۰۱۳م

دتلې ۱۵ مه پرخپلواک هیواددلویدیځوالو نابیره تپری

ملګرملتونوکې داوباما اعلان

دکمونستانو په لاس دشهیدوافغانانو دلست په اړه داسلامي امارت فرمان اواعلامیه

دارزکان دجهادی چارو مسؤل سره د مورچل مرکه

مجاهدین بدخشان! ماندە نباشید

ناتو لحظه های مرگ می شمارد

ایا طالبانو ځګړه ایزایښکارله لاسه ورکړی؟

۲۰۱۴ دافغانانو دخوشحالی او غلامانو دوېرکال!!

مورچل

اووم کال نهمه ، پر لپسې 61 گڼه ، ذی قعدة الحرام 1434 ستمبر 2013م

دمضامینو لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
1	د تلې 15 مه په خپلواک هیواد دلویدیځو..	1
2	ناټو لحظه های مرګ می شمارد.....	3
3	2014 دافغانانو دخوشحالی اودغلامانو....	5
4	دجهادفقهی مسائل.....	11
5	دصحرا زمری ، عمر مختار	26
6	په ملګرو ملتونو کې داوباما اعلان او تر شا	29
7	داسلام غزوات اوسرایا.....	32
8	بدخشان اوطالبان.....	35
9	نور ستاقضاوت.....	38
10	باسجده باخدایت نزدیک شو.....	41
11	دتوحید علمبر داران ، حضرت وحشی....	48
12	ایاطالبانو جګړه ایز ابتکاله لاسه ورګړی.	50
13	المرتضی ، دامیر المؤمنین حضرت علی..	53
14	مجاهدین بدخشان مانده بناشید.....	55
17	دارزګان ولایت جهادي مسؤل سره مرګ	57
18	جیره خور غرب بانګ آزادی.....	64
19	ذبیح الله مجاهد څو شپیې له خپل ولس..	66
20	ددعوت اوارشاد کمیسیون تفصیلي.....	69
21	ام الفضل "لبابة بنت حارث" مادر.....	73
22	جنګي جناتونه.....	76
23	داسلامي امارت پیغام اواعلامیه.....	80
24	میاشتنۍ خبرونه.....	81
25	دمورچل ورځې.....	
26	انځورېز مورچل.....	
27	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	

میاشتنی، علمي، سیاسي او جهادي خپرونه

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،
حسن زوی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر ، حافظ سعید

تخنیکي همکاران :

ارغوان ــ صابر

ادرس اوم کاتباتي پته :

پته : کابل بنار څلورمه حوزه
مجلي دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله : **دتلې (۱۵) مه پر خپلواک هیواد**

دلویدیځوالونا ببره تیری

دمصنوعي او نا قابل توجیه شواهدواو دلایلوپر بنسټ دامریکاپه مشرۍ دناتو مؤتلف پوځ دخپلې عصري تکنالوژۍ په زور او تزویر (۱۳۸۰)هـ ل کال دمیزان یا تلې دمیاشتې په (۱۵)نیټه دیوه خپلواک او اسلامي هیوادپه توګه دافغانستان سپیڅلې خاوره اشغال اودهوا اوځمکي له لارې یې پر تش لاسې افغان ولس اوسوله خوښې اسلامي امارت وحشیانه بریدونه پیل کړل.

داشیبې افغان مسلمان ولس او مجاهدینوته ډیرې دردونکې اوله ساندو ډکې ځکه وي ،چې پردیو خولا څه چې خپلوافغان ډوله مجاهدنما هغو څېروچې تر پرونه به یې امریکایان او لویدیځوال کافر اومشرکان بلل ، له بده مرغه چې پدې ورځ یې دیرغلګرو دپلیوعسکروغوندې دناټودخونکارو پوځونوپه پله دمجاهدینوسره په لومړیو لیکو کې جګړه کوله !

افغان ولس چې دا مهال دخپل مجهول راتلونکې په ابهام کې د(B52)ډوله دهشت اچونکیو الوتکو دزر کیلوییې لیزري بمونو بارودو او لوخړو دسکران ډوله بوږنونکې حالت سره مخ کړی و ،تر دې چې دځینوبا احساسه وګړو حواس مختل او دبعضو له کاره لویدلي و و ،او دیوه واحد ذات ﷺ څخه پرته یې بله اسره نلرله، خو په شراب و کباب مستو یرغلګرو چې دبې اسرې ولس دکوچنیو ماشومانو ، سپین ږیرواو معصومونبځوله کوکارو او فریادونوڅخه خوند اخست اوزمونږپه مظلومانه آهونو دغرب دکلیساووپاپانو او ددوهم صلیبي جنګ د دعوتګر(ډبلیو بش)سینه یخوله.

هغه وخت دلویدیځ دپوځي تکنالوژۍ طلسم ددیرو طاغوت پلوو وګړوسترګي تر خپل یهودي یا نصراني منتر او جادو لاندې تسخیر کړي او تر ننه یې دغولونکیو شعارونوپه خیالي باغونوکې لالهانده وساتل ،چاته دبیا رغاونې ،اوچاته یې دښځو دحقوقواوصنعتي بنسټونوپه احیاء غوړې ژمنې اودرغنده ګامونواخستلو کاذبې وعدې ورکړي ،چې دادی نن ددې غولیدلیو څخه خپل اسلامي اوملي تګلوری ورک دی اولکه ((دابواخستې انسان څګ ته هم لاس اچوي)).

مورچل

خو ښايي دا له هيڅا څخه پټه نوي ،چې د غربيانو آره موخه افغانستان کې د يوه خالص اسلامي نظام سقوط و ،او همدې جنون دوئ له زرګونو کيلومتره ليرې له خپلو شيش محلونو څخه دې خټين او غريز هيواد ته راوستل، که نه ،طالبان او مجاهدين لا ددومره مادي ځواک څښتان شوي نه وو ،چې په څو زنګ وهلو تورو او شلخي توپکونو دې تر واشنګټن ،لنډن او پاريس پورې ځانونه په بريښنايي توګه ورسوي ،پداسې حال کې چې د روسانو روزل شوي افراد اوبقاياوو يې لا هم دهيواد د شمال ستراتيژيکي نقطې ننګولې او طالبان له دې تصفيې څخه هم وزګار نه وو !

پرګران هيواد(۴۲)ګڼ ائتلافيز يرغل دا په ډاګه کړل ،چې کفري حکومتونه دنړۍ په يوه کنج وکنار کې هم د اسلامي شريعت په نوم يوه نظام نه زغملای شي اونه يې کار کولوته پريږدي ،که په هر پلمه وي ،ګردې کفري حلقې به ورته اشرکيږي اوهغه به له منځه وړي ،که هرڅومره د غرب په ماډل ډوله طرحو (انتخاباتو)هم ورغيږي ،خو چې د اسلامي مکتب فکر څخه استازيتوب کوي ،لويديځ والوتـه دمنلو وړ نـدی ،چې دبيلګې پـه ډول لـه افغانسـتانه وروسـته يې د عـراق ،صومالیا ،مالي او اوس دادی دمصر د ولسي حکومت د پرځولو شاهدان يو .

له نيکه مرغه !

هغه څه چې غربيانو افغانستان کې وليدل، هغه دافغانانوله خپل عنعنوي اسلامي دين سره بې کچه مينه او دبهرنيانو دشتون سره فوق العاده حساسيت او بغض ! چې دا دواړه هغه ننګونې دي چې دوئ يې په (۲۰۱۴)زکال کې تيښتې او فوري وتنې ته اړيستي اونوربه يې انشاءالله تعالی د تکبيرونو دې هيواد کې ورځې دشمار وي !

دا حقيقت دی :چې افغان ولس يو کرت بيا دوير په تغر کښيناست او ډيری ځوانی يې دخاورو خوراک شوي، خوداهم دهيرولونه ده، چې دې مجاهد قـام دخپلو اسلافوغوندې دې پيړۍ کې ديوې بلې خونکارې امپراتوری دشکست ويارګاټه اوددې قرن دمسلمانود قيادت او امامت افتخار يې په برخه شو.

مونږ پداسې حال کې چې دميزان دپنځلسمې بلواګرو په جنايتکارانو لعنت وايو او دوئ اوملګرې يې دافغانسـتان داسـتقلال ،تشـخص اوعظمـت دښمنان بولـو ! خپـل مجاهـد قـام تـه ديرغلګروپه وړاندې دسپيڅلي جهاد دفتحې او بري مبارکي ورکوو !

ويـاړوچې د روسـي ښکيلاک لـه انحـلال او مـاتې څخـه پـس مـو دا پيړۍ مسـلمان قـام دامريکايانو او مؤتلفينوپه وړاندې دفتحې په درشل کې ولاړ او ډيره نږدې به ګرد اشغالګرنهيلې او رسوا له هيواده وشړل شي ! انشاءالله تعالی

ناتو لحظه های مرگ می شمارد

ذبیح الله "مجاهد"

جهان در زمان جنگ سرد با دو فتنه قوی نظامی مواجه بود ، هر لحظهء احتمال آن می رفت که ممکن از اثر تصادم این دو پیمان کفری (وارسا و ناتو) جهان به جنگ دیگر جهانی و ویران کننده مواجه گردد ، طبعا در صورت به وقوع پیوستن جنگ جهانی سوم به همه ملت ها زیان و خسارات سنگینی وارد می شد ، اگر وارسا و ناتو در بین هم تصادم می نمودند این تصادم مثل جنگ های قبلی جهانی نه میبود ؛ بلکی خسارات و ویرانی اش به مراتب حتی صد درصد از جنگ های قبلی کرده مهلکتر و به ضد تمام بشریت تمام می شد ، چون هردو پیمان معاصر با اسلحهء های مدهش و ویرانگر اتومی مسلح بودند ، جلو احمتال جنگ سوم جهانی زمان گرفته شد که جهت خطرناک و وبسیار مضر هردو پیمان یعنی وارسا به دست افغانهای راد مرد در هم کوبیده شد ، بدون اینکه سردرد و خطری به جهان ایجاد نماید خود فرو ریخت و جهاد مقدس مردم افغانستان آن پیمان را از صفحه ارض برچید ، همچنان جهت دوم این پیمان نیز چون پا از لیاف بدر آورد ، خطری بالفعل به جهان خصوصا به جهان اسلام ایجاد نمود ، این بار پیمان دوم هم دوازده سال است که به دست افغانهای تاریخ ساز و مسلمان به طرف فروریختن گام می بردارد ،در این اواخر منشی عمومی ائتلاف ناتو میمون ناتو اندرس فوغ راسموسون اعلام داشت:(ماموریت افغانستان ماموریت اخیر پیمان ناتو خواهد بود) ،

راسموسون این حرف مایوس کنندهء را هفته قبل دربروکسل پیرامون مباحث دراز وجنجالی درمورد تمویل ناتو از طرف کشورهای عضو ، مایوسی کامل اتحادیه اروپا و تنها ماندن امریکا ابراز نمود ، پیمان ناتو که اکنون پیمان یکتاز نظامی در جهان است ، در حالت نزع قرار دارد ، از یک سو به ضربه خوردن اقتصاد اروپایها و امریکا درجنگ افغانستان کار تمویل ناتو بسیار دشوار گشته و از سوی هم بالا دستی امریکا در فیصله های مربوط به جهان

در سازمان ناتو اعضای کشورهای اروپا را مایوس ساخته وسعی دارند که دیگر پیمان را ترک کنند ، ماموریت افغانستان بخاطر ناتو ماموریت خطرناکتر جهان بود که زیاد از ده سال این پیمان را در جنگ باختنی وبی ثمر مصروف ساخت ،ناتو که در دوازده سال جنگ افغانستان تلفات هنگفت جانی ومالی را تحمل کرد اکنون در حالت مأیوسی و فروپاشی قرار دارد ، با از بین رفتن این پیمان ، جهان باری دیگر به طرف صلح و آرامش گام خواهد زد ،

جهان اسلام که در قرن بیست و بیست ویک در میان کشمکش های ناتو و وارسا تحت شعاع خطرناک به سر می بورد ، گاهی به دست وارسا و گاهی هم به دست ناتو مورد ظلم وستم قرار داشت ، از بین رفتن هردو پیمان را استقبال می نمایند ، امیدواری زیادی دیده میشود که دیگر غارتگران غرب نه خواهد توانستند موجودیت خود را در جهان اسلام حفظ نماید و به چور وغارت سرمایه مسلمانها هنوز هم بپردازند ، درعقب فروریختن ناتو ملت های مسلمان نفس آرام و راحت خواهد کشیدند ، جوانان مبارز مسلمان به آرمان های دیرینه ایشان نایل خواهد آمدند ، مسئله جنجالی فلسطین که به اثر پیمان ناتو و همکاری امریکا و اروپایها بیشتر از شصت سال طول کشید ، شاهد مظالم ووحشتها از طرف اسرائیل بود ، مثل غدود سرطانی کتله مهم جهان اسلام را می رنجانید من بعد به پیروزی فلسطینیها و سرکوب اسرائیل حل خواهد شد ، منابع مسلمانها در جهان از دسترس غارت گران سرمایدار جهانی دور خواهد گشت ، مسلمانان مثلیکه لازم است باهم برادر و هم پیمان خواهد شدند و زمینهء به میان آمدن نظام اسلامی در جهان مساعد خواهد شد . وماذالک علی الله بعزیز

2014

دافغانانو دخوشحالۍ او غلامانودوبرکال !!

عثماني

څو پېړۍ وړاندې داسې اټکلونه او وړاندوینې شوي وي چې د دوه زره دولسم کال د دسمبر د میاشتې په یوویشتمه نېټه به د ځمکې د کرې پر مخ خلک له قیامت سره مخ شي، د ځمکې حالات به بدل شي او د ځمکې پر مخ به د ژوند کولو ټول امکانات ختم شي، په دې اړه ډېرې ځېرنې او پلټنې وشوې، مقالې او کتابونه پرې ولیکل شول، دغې ګنګوسو د نړۍ د ډېرو خلکو پام یې د ځان پر لور اړولی و، د ډېرو باطلو مذهبونو پیروانو په دغه درواغجن قیامت باور درلود. په اروپا، امریکا، روسیه او نورو ډېرو هېوادونو کې خلکو خپلې شتمنۍ راغونډې کړې او خپل جایدادونه یې وپلورل، خپلې د عمر ټولې کړې پېسې یې په لنډه موده کې خرچ کړې او له دغه قیامت څخه د خلاصون او خوندي ځای په لټه او فکر کې شول. د دسمبر یوویشتمه نېټه رانږدې کېده او د خلکو ترهه ډېرېده، خلک له ښارونو څخه په کډه شول او د خوندي ځای په لټه کې شول، د اړتیا وړ خوراکي او د لنډ مهال دژوند نور اړین توکي یې له ځان سره واخیستل او د غرونو رغونو پر لور ولاړل، تر څو که قسمت ورسره یاري وکړي او هلته د قیامت څخه خوندي او ژوندي پاتې شي. دغو ناپوه خلکو هغه ځایونه چې د دوی په اند ګوندې له قیامت څخه به خوندي وي په ډېره لوړه بېه یا وپېرودل او یا یې په کرایه ونیول. بالاخره د قیامت هغه ورځ یا د دوه زره دولسم کال یوویشتمه نېټه هم راورسېده خو هېڅ پېښ نه شو، یو اټکل هم رښتیا نه شو، هغه قیامت تر اوسه رانغی چې د نړۍ د ډېرو بې ایمانه خلکو خوبونه یې تښتولي وو. د دنیا نظام اوس هم هماغسې روان دی، نه دنیا ورانه شوه او نه هم قیامت راغی، د افریقا په دښتو او جونګړو کې او سېدونکي خلک هم له دغه قیامت څخه خوندي پاتې شول او د اروپا او امریکا په محلونو کې هم، دا یو درواغ وو، یو ډرامه وه، دغسې ډرامې او پروپاګندې له دې وړاندې هم څو څو کرته د نړۍ او سیمې په کچه جوړې شوې او خپرې شوې دي، څو کلونه وړاندې اوازه وه چې له اسمان څخه د ځمکې پر لور یوه لویه ډېره رالویږي، ډېر خلک یې پریشانه کړي وو، ډېره لا هم نه ده رارسېدلې. همدا راز څه موده وړاندې په افغانستان، پاکستان ایران او چین نورو هېوادونو کې د سختې زلزلې د کېدلو اوازې خلک دومره وترهول چې په نیمه شپه، سره هوا او تېز باران کې له خوبه راپاڅېدل او له خپلو کورونو او ودانیو څخه په تېښته شول. دا ټول هسې بې بنیاده اوازې او ګنګوسې دي چې مختلف خلک یې د خپلو خاصو موخو ته د رسېدو لپاره خپروي او عامو خلکو کې وېره خپروي.

دغه مقدمه مې د دې لپاره کښوده چې اوس یو بل درواغجن قیامت راروان دی، دغه قیامت د دوه زره دولسم کال له هغه سره تو پیر لري، دغه د درواغو قیامت د دوه زره څوارلسم کال د دسمبر په میاشت کې دی، د دوه زره دولسم کال د قیامت وبره نږدې د نیمې نړۍ په خلکو وه خو د دوه زره څوارلسم کال د قیامت ترهه یوازې د افغانستان په بېچاره او زوربدلي ملت کې پاشل شوې ده. د دغه قیامت وړاندوینه څه موده وړاندې هله وشوه کله چې په افغانستان کې د ایمان په زور مجبورې شوې اشغالګرو قوا و له افغانستان څخه د تېښتې پربکړه او اعلان وکړ. امریکایان او بریڅې یې لا له وړاندې په دې پوه شوي دي هغه افغانستان چې انګرېز او چنګېز نه دی اشغال کړی، دغه کار زمورږ په توان کې هم نه شته ځکه یې اعلان وکړ چې د دوه زره څوارلسم کال تر پای پورې به خپلې ټولې قواوې له افغانستان څخه وباسي. د افغانستان ملت باید د الله شکر اداء کړي چې د مجاهدینو د قربانیو په پایله کې او د الله تعالی په مرسته په افغانستان کې یو بل سپر پاور هم صفر پاور شو. هغه ورځ چې صلیبي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي باید ولمانځل شي، دغه ورځ د کامیابۍ او فتحې ورځ وبولو. د یوویشتمې پیړۍ پیل د امریکا پخواني ولسمشر بوش له خوا د دریمې صلیبي جګړې له اعلان سره وشو. نومورې خپل ملت ته په زغرده اعلان کړه چې دا دریمه صلیبي جګړه ده. لومړی یې په افغانستان یرغل وکړ او بیا یې عراق ونیوه وګرځېده، خو د ټول اسلامي امت د مجاهدینو قربانیو یې مخه ډب کړه چې دا دی له نړۍ څخه نور د امریکا ټغر په ټولېدو دی. دولس کاله کیږي چې امریکایي او ملګرې قواوې یې یوازې په دې بهانه په افغانستان کې دېره دي چې مورږ افغانستان ته امن او سوله راولو، دیموکراسي راولو، له افغانانو سره مرسته کوو او داسې نور... خو دیموکراسي په رښتیا مورږ ته څه راکړل!!!؟ ټول ملت په دې ګواه دی چې په افغانستان کې امن ورځ تر بلې خرابېږي، د ملکي افغانانو د ژوند د ټولو ارخونو کچه هره ورځ مخ پر ټېټېدو ده، دین او ارزښتونه مو هر وخت تر ګوابښ لاندې دي، نه خپله خوشحالي لمانځلی شو او نه هم د غم پر مهال راټولېدلی شو، یو ځل نه، بلکې په ځلونه مو ودونه او جنازې د ړندو بمباریو په قصدي توګه هدف ګرځېلي دي، چې هر ځل په کې لسګونه کسان شهیدان شوي دي. غربت او نا اندولي د هرې ورځې په تېرېدو د ډېرېږي، تر دې چې د افغانستان په ډېرو سیمو کې مورګانې او پلرونه اړ شوي چې خپلې د زړه ټوټې او د غېږې بچي وپلوري، تر څو یو څه اندازه مال تر لاسه کړي او همدا راز د دغو بچیو له نفقې څخه خلاص شي، زور یې شاید هغه چا ته مالوم وي، چې په چا راغلي وي په تېرو څو کلونو کې د هغو افغانانو شمېره چې په قاچاقي او مرګونو لارو اروپا او نورو هېوادونو ته د پیسو پیدا کولو لپاره ځي د بل هر وخت په نسبت زیاته او لوړه ده، دا هغه افغانان دي چې د دوی له انده که په هېواد کې همدغه ناوړه نظام وي نو خپل راتلونکی په افغانستان کې تاریک وینې. په هېواد کې د ننه ژبنې، سمتي، او مذهبي تعصب خو داسې کچې ته رسېدلی چې د افغانستان په تاریخ کې یې ساری نه لیدل کیږي. له ګاونډیو هېوادونو سره خو مو اړیکې دومره ترینګلې شوي دي چې یو بل ته په مورچلو کې ناست یو... دا او دې ته ورته ټول هغه څه دي چې مورږ ته غربي دیموکراسي. تر اوسه راکړي دي له دومره ډېرو ناخوالو سره بیا هم ډېری افغانان له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل یو بد شګون بولي.

اخر ولې!!!؟لاملونه يې ممکن ډېر وي خو يو عمده لامل يې د افغانانو اقتصادي وضعه ده، ډېر ناپوه افغانان چې په *وَاللهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ* يې باور کمزوری دی ،فکر کوي که بهرنيان له افغانستان څخه ووځي او د امريکا يې خرته ډالر پر دوی بند شي ،نو دوی به ګوندې لوږه ووهي، دوی پر دې پوه نه دي چې امريکايان نور په خپله د سوال په ګډی ناست دي، امريکايان دې زمونږ اقتصاد نه پياوړی کوي ،بلکې مهرباني دې وکړي د چين او جاپان له پورونو دې ځان خلاص کړي، اوس مهال اقتصادي پياوړتيا د امريکا د سياست او تګلارو تر ټولو مهمه برخه ګرځېدلې ده، د امريکا په تېرو ولسمشريزو انتخاباتو کې د کمپاين پر مهال د کانديدانو او عامو امريکايانو له خوا تر ټولو ډېره پاملرنه اقتصادي تګلارو ته کېده. امريکايانو افغانستان يوازې مذهبي او سياسي ګټو په موخه نه دی اشغال کړی، بلکې تر ډېره يې اقتصادي ګټې په نظر کې نيولې دي. امريکايانو په افغانستان کې په جګړه باندې په تريليونو ډالره سرمايه ګذاري او لګښتونه وکړل، دوی ليونی نه ول چې زمونږ لپاره دغه پيسې ولګوي، بلکې دوی فکر کاوه چې په ډېرې اسانۍ سره به د افغانستان طبعي زېرمې چې تر اوسه خوندي دي ،چور او تالا کړي، او شوي لګښتونه به په لنډه موده کې بېرته تر لاسه کړي، د افغانستان د طبعي زېرمو او شتمنيو څخه به شايد ډېر کم افغانان خبر وي، ځکه خو ځان د امريکا اقتصادي مرستو ته اړ بولي. زمونږ يوا ستاد به ويل چې امريکايان دې ته تيار دي، چې د افغانستان د يو ولايت په بدل کې ټوله امريکا درکړي د افغانستان هره سيمه د طبعي زېرمو او شتمنيو څخه ډکه ده، يوه وجه همدا ده چې کله انګرېز، کله چنګېز او کله شوروي او امريکا پر مونږ حمله کړې ده او د دغو زېرمو د چور کولو خوبونه يې ليدلي دي.

سعودي عربستان چې زياته برخه يې وچه او بې اوبو دښته ده، کرنيز توليدات يې ډېر کم دي، د اړتيا وړ خوراکي توکو زياته برخه له نورو هېوادونو څخه واردوي، همدا راز صنعتي توليدات يې هم له هېڅ سره برابر دي، ما خو په خپل ژوند کې داسې شئ نه دی ليدلی چې په هغې دې سعودي جوړ ليکلی وي. څو لسيزې وړاندې سعودي عربستان يو ډېر غريب هېواد و ، خو اوس ځان د پرمختللیو هېوادونو په کتار کې شمېري، اقتصادي وضعه يې دومره ښه ده چې ډېرو پرمختلونکو هېوادونو ته پورونه ورکوي، د عامو خلکو اقتصادي حالت يې د سيمې د هېوادونو په کچه يې ښه ګڼي دی، هر کور موټر لري، هر فرد ته دولت له خوا ميا شتنی پيسې ورکول کېږي، د جنوبي اسيا هېوادونو په لکونو خلک سعودي عربستان ته د پيسو پيدا کولو او مزدورۍ لپاره ځي، د دومره اقتصادي پرمختګ لامل څه شی دی!!!؟ يوازې يو لامل يې دی او هغه هم د پاک الله رحمت چې په دښتو کې يې ورته تېل او نفت راوويستل، تر څو چې تېل ورسره وي، سعوديان به له هر قسم اقتصادي ستونزو او فشارونو څخه بېغمه وي.

د تازه خبرنو او سرويو له مخې د افغانستان طبعي زېرمې له سعودي هغه څخه په څو برابره ډېرې دي، که د افغانستان دغه طبعي زېرمې په سمه توګه راوويستل شي او نيمايي يې هم په افغانستان او د افغانستان په ملت ولګول شي، بيا نه مونږ د امريکا اقتصادي مرستو ته اړتيا لرو او نه د بل کوم

هېواد، بيا د دې پر ځای چې زمونږ ځوانان د پيسو ګټلو او مزدورۍ لپاره خليج هېوادونو ته مسافري وکړي، له هغه ځايه به دلته خلک د مزدورۍ لپاره راځي. څه موده وړاندې د پنټاګون له خوا يو راپور خپور شو، چې په کې ويل شوي وو، افغانستان د ليتيم ډبرې غنې زېرمې لري او کولی شو چې ووايو افغانستان د ليتيم سعودی عربستان دی، د دغه راپور سره سم افغانستان د مسو، کوبالټ، اوسپنې، باريت، سلفر، سرپو، سپينو زرو، جستو، نيوبيو او نورو قيمتي منرالونو غنې زېرمې او د ځمکې د نادرو عناصرو يو اعشاريه څلور ملیون مترہ مکعب زېرمې لري. په پنټاګون کې د ټاسک فورس مشر جيم بولیون وايي: چې د نړۍ د طبعي زېرمو د نقشې له مخې کېدای شي افغانستان د منرالونو په برخه کې د نړۍ مخکښه يا ليډر هېواد شي. د ځمکې نادرو عناصرو ته په پرمختللې اوسنۍ ټکنالوژۍ کې، لکه موبايلونو، کمپيوټر، تلويزون، هايبرډ ماشينونو، بټرۍ، آپټيک فايبر، د ټانک په نويګاسيون سېسټم، د توغندیو د لارښود سېسټم، د جنګي جټ الوتکو په ماشينونو، د توغندیو دفاعي سېسټم، ستلايټ او نورو پرمختللې ټکنالوژۍ کې اړتيا ده. داسې خوشبيني ده چې افغانستان به په دې برخه کې د نړۍ اوږدمهالې اړتياوې پوره کړای شي. د دغه راپور له مخې د افغانستان د طبعي زېرمو اندازه له يو ټريليون ډالرو څخه هم زياته ده، خو د افغانستان اوسنۍ حکومت وايي چې د افغانستان د طبعي زېرمو ارزښت له درې ټريليونو ډالرو هم ډېر دی چې دغه اندازه کولی شي افغانستان د ټل لپاره د پردیو له مرستو او پورونو څخه خلاص کړي.

د لوګر د عينکو د مسو کان د لوګر په شمال ختيځ او د کابل په جنوب کې د دنګو غرونو تر شا پروت دی، چې په سيمه کې د مسو ستر کان پېژندل شوی دی، دغو دنګو غرونو په خپله غېږه کې ستره خزانه ساتلې ده، مس ورځ تر بلې د ورځنۍ ټکنالوژۍ له پر مختګ سره لا نور هم ارزښتمن کيږي. د عينک د مسو کان زېرمه شاوخوا پنځلس ملیونه ټنه اټکل شوې ده، دغه لوی کان په زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابرولی شي. د افغانستان د اوسنۍ اداري د کانونو وزارت له راپور سره سم د عينکو د مسو کان په راويستلو سره به د افغانستان حکومت هر کال څلور سوه ملیونه ډالر ګټه تر لاسه کړي، د نفتو او تېلو په برخه کې هم افغانستان يو غنې هېواد دی، د امريکا د ځمکې پېژندنې اداره د افغانستان د نفتو د زېرمو کچه يو اعشاريه اته بليونه بېرله او يا له دې هم زياته اټکل کړې ده. په افغانستان کې د نفتو پنځه زونونه پېژندل شوي دي:

۱-د کندز او تخار په سيمه کې د افغان تاجک د نفتو حوزه.
۲-په لويديځ هرات کې د تېرپل د نفتو حوزه.
۳-په هلمند کې د هلمند د نفتو حوزه.
۴-په پکتيکا کې د کټواز د نفتو جوزه.
۵-په سرپل، جوزجان او فاريياب کې د اموسيند د نفتو حوزه.

د افغان تاجک د تېلو حوزه د افغانستان په شمال کې موقعیت لري، دغه حوزه بیا په شپږو برخو ویشل شوې ده، د دغې حوزې تېل څه د پاسه یو ملیارد بیرله اټکل شوي دی، د همدغې حوزې د یوې برخې په توګه د مزار شریف په سیمه کې تر اتو ملیارد و متر مکعبو ډېرګاز او تر سل ملیونو بیرلو ډېر نفت شته دی. د صندقلي په سیمه کې یې تر شپږ شیښته ملیونو بېرلو ډېر نفت وجود لري. د امو سیند د تېلو حوزه چې د افغانستان په سرپل، جوزجان او فاریاب ولایتون کې موقعیت لري د سویډنې ځمکپوهانو له خوا کشف شوې وه، په کال ۱۹۵۷ کې داسې اټکل شوې وه چې په یاده حوزه کې به د اووه اتیا ملیونه بېرلو تېلو څخه هم زیات وي، که په دغه حوزه په شفافه توګه کار وشي، هر کال به تر پې څلور سوه ملیونه ډالر تر لاسه شي. له دغې حوزې څخه د تېلو راویستلو قرارداد یې یوه چینایي شرکت سره شوی دی، داسې ویل کېږي چې تېر کال کې یې تر پې یو نیم لک بېرله تېل ویستلې، سږ کال به دغه اندازه درې لکه بېرلو ته ورسېږي او په راتلونکو کلونو کې به څو چنده شي. افغانستان د تېلو تر څنګ د ګازو غني زېرمې هم لري، د افغانستان د کانونو د وزارت د چارواکو په وینا افغانستان د ۵۰۰ بلیونه متر مکعب څخه په زیاته اندازه د مایع ګازو زېرمې لري. د کارپوهانو په وینا که دغه ګازیواز د موټرو او نقلیه وسایلو کې د تېلو پر ځای استعمال شي نو د سلو کلونو لپاره د افغانستان اړتیا پوره کوي. په افغانستان کې د ګازو درې لوی سیمې د جوزجان ولایت د ګازو زون، د افغان تاجک زون او د هلمند نفتي زون دي. د افغانستان په جوزجان ولایت کې د ګازو پېژندل شوې سترې زېرمې وجود لري، له دغو سیمو څخه هر کال تر یو ملیارد مکعب زیات ګاز پخوانۍ شوروي ته صادرېدل. همدا اوس افغانستان ۲۵۰ زره مترمکعب ګاز مصرفوي خو له بده مرغه چې ډېره برخه یې له ترکمنستان او ایران څخه واردېږي. له دې ټولو سره په څنګ کې سره زر چې په یوویشتمه پېړۍ کې د اقتصادي پیاوړتیا لپاره اړین توکی بلل شرط دی، د افغانستان په مختلفو سیمو کې یې کانونه او زېرمې شته، د سرو زرو بېې ډېرې ورځې په تېرېدو سره لوړېږي چې څه موده وړاندې خو یې بیه داسې کچې ته لوړه شوه، چې د انسان په تاریخ کې یې بېلګه نه لیدل کېږي. څو لسیزې وړاندې د پخوانۍ شوروي اتحاد څېړنې بنیې چې د افغانستان د سروزرو د کانونو ارزښت د پنځه ویشت بلیونه ډالرو څخه هم ډېر دی او اوسنۍ څېړنې له دې هم غټ عدد بنیې. د افغانستان د سرو زرو لوېې زېرمې د بدخشان، تخار، بامیان، زابل او غزني ولایتونو کې شته دی. اوسنه چې زمونږ په ورځنۍ ژوند کې د ارزښت ور عنصر دی، په افغانستان کې یې د حاجیګک په نوم د اوسپنې یو لوی کان شته دی، د حاجیګک کان د کابل څخه نږدې سل کیلو متره فاصله کې د بامیانو په ولایت کې پروت دی، چې د اسیې په سطحه د اوسپنې تر ټولو غټ کان دی، په دغه کان کې د اوسپنې د ډېرو اندازه دوه ملیارده ټنه اټکل شوې ده چې دوه شپېته سلنه یې اوسپنه ده. په دغه کان کې د اوسپنې سره په څنګ کې د ډېرو سکاره هم شته دی چې تر ډېره ورځې د سونګ د موادو کار اخیستل کېږي. د حاجیګک له کان څخه د اوسپنې د راویستلو قرارداد له هندي دولتي او شخصي کمپنیو له یوې ډلې سره شوی دی.

په افغانستان کې تر اوسه څوارلس سوه داسې ځایونه په ګوته شوي او څېړنې پرې شوي ،چې هلته پرېمانه قیمتي کانې او منرالونه شته دي، په دغسې یوه وړه لیکنه کې د افغانستان د ټولو طبعي زېرمو په باره کې مالومات راټولول یو ستونزمن کار دی، او د دغې لیکنې له ظرفیت څخه وتلی دی. د افغانستان د زېرمو په اړه اوس د امریکا او چین په شمول د ډېرو هېوادونو موسسې او شرکتونه لګیا دي څېړنې کوي او هر یو یې غواړي چې دلته پانګونه وکړي، که څوک وغواړي اوس په ډېره اسانه توګه کولی شي د افغانستان د طبعي زېرمو په اړه په ډېر څه ځان پوه کړي.

یو بل شی چې افغانستان ته یې سیاسي او اقتصادي ارزښت ورکړی دی ،هغه د افغانستان جغرافیوي او ستراتېجکې موقعیت دی، افغانستان دی چې جنوبې اسیا له منځنۍ اسیا سره نښلوي، د جنوبي اسیا هېوادونه هم د افغانستان په شان پراخه د تېلو او ګاز و طبعي زېرمې لري. ټول هغه تجارتي مالونه په خاصه توګه تېل چې د جنوبي اسیا هېوادونو څخه هندوستان، اروپا او نورې غربي نړۍ ته صادریږي، د نورو لارو (ایران، روسیه او ازربایجان، چین) په پرتله ورته د افغانستان لار ارزانه او اسانه تمامیږي. د جنوبې اسیا له هېوادونو څخه مالونه د افغانستان له لارې د کراچۍ بندر ته او له هغه ځایه بیا د اوبو د لارې اروپا او امریکا ته رسیږي. همدا راز هغه مالونه چې د اروپ څخه د جنوبي اسیا هېوادونو ته رالېږدول کیږي ،نو د افغانستان لار ورته د نورو ټولو لارو په نسبت غوره او اقتصادي ده د مالونو دغه انتقال کبدای شي ،د ځمکې له لارې وي او یا د هوا له لارې وي. دا په ډاډ سره ویل کبدای شي که یوازې له دغو تجارتي مالونو څخه چې د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته وړل کېږي، په سمه او شفافه توګه مالیه واخیستل شي د افغانستن د دولت کلنۍ بودیجې ته بسیا کوي.

که پایله یې وویو ، افغانستان یو غني هېواد دی، مورِ غریب نه یو ، مورِ د شرق او غرب اقتصادي مرستو ته اړتیا نه لرو ، له دې سره په څنګ کې چې مورِ پر دې کلک باور لرو چې الله پیدا کړي یو او الله به راته رزق هم راکوي. زمورِ طبعي زېرمې مورِ ته د یوې نیمې پېړۍ اقتصادي ازادۍ او بسیا ضمانت راکوي، مورِ د دغو طبعي زېرمو او شتمنیو په مټ کولی شو ، چې د نړۍ د لومړۍ درجه اقتصادي قوتونو د هېوادونو په لیکه کې ودرېږو ، زمورِ د نفوس شپېته سلنه ځوانان دي ،چې کاري ورټیا لري او د لږې خواري ځخه وروسته ټول یې په بشري قوه بدلېدای شي، امریکا او اروپا دې خپل مالي بحرانونو ته د حل لار وموميي. د وال سټریټ او نورو مظ هره چیانو ته دې قناعت ورکړي. له پورونو دې ځان خلاص کړي، مورِ د اسلامي قانون په موجودیت کې د امریکا دېموکراسۍ ته اړتیا نه لرو ، یوازې اسلام دی چې مورِ ته د دنیا او اخرت کامیابي راکولی شي.

د خپلواک افغانستان په هیله

د جهاد د فقهي مسائل

دویمه برخه

مفتي ابومحمد "حقاني"

دپوروړې (قرضدار) جهاد ته دتګ د جواز او نه جواز مسئله.

دجهاد دعيني فرضيت دړې ګونې حالتونه.

دجهاد دوجوب شرطونه.

دامیرلخوا دجهاد ديوه چا منع کول.

فقهاء پدې سره خپلو کې يوه خوله دي ،چې کله پور يا قرض حالا يا دمګړی غوښتونکی وي ،نو مديون يا پوروړې به جهاد ته نه ځي ،خو که چيرته پرې پور معجل نه و ،بلکې مؤجل يا يې دغوښتلو نيټه ځنډنی وه ،نودا مسئله مختلف فيها او ډيرې اقوال پکې شتون لري اوهغه داسې چې:

احناف علماء رح وايي چې ددائن يه دپور دخوند له اجازې نه په غير چې دپور دتأديې پيسې نه لري جهاد ته به نه ځي ،که دائن ورته اجازه هم وکړه، بيا هم مستحب داده، چې لاړ نشي ،که بيا هم لاړ باک نلري ،او که قرض يې معجل نه بلکې مؤجل و ،نو بيې دقرضدار داجازې څخه په غير هم تلای شي ،موالک رح وايي چې په هغه پورکې چې معجل وي استيذان يا له دائن نه اجازه اخستل جهاد ته دتګ پر وخت شرط ده، خوچې له مديون سره دومره څه شئ وي ،چې دايې وپلورې او هغه دده پور پرې خلاص کړي ،که چيرته ورسره دومره شئ نه وي يا يې قرض مؤجل او ځنډنی وي ،او تحليل يې دده په غيبوبت کې نه راځي ،نو دا شخص بيا ددائن له اجازې پرته هم جهاد ته تللای شي ، شوافع رح وايي:چې که چيرته قرض معجل يا حالا و ،مديون غريب نه بلکې ددائن دپور دورکړې شونتيا يې درلوده ،نومديون به جهاد ته ددائن له اجازې نه په غير نه ځي ،او صحيح قول دادی ،چې دپوروړې داعسار يا غريبی په صورت کې دا له جهاده نشي منع کيدای ،دا ځکه چې مطالبه ترې دمګړی نشي کيدای، نو جهاد ته تللای شي ،خو که چيرته يې قرض مؤجل و ،نو اصح قول دادی چې له جهاده يې منع اصلا جواز نلري ،دوهم قول دادی:چې منع کول يې جائز دي، مګر که کفيل بالدين يې دځان پر ځای ورپه ګوته کړ نو بيا يې منع کول ندې روا ،اودريم قول دادی چې منع يې جواز لري که چيرته يې دپور ورکولو ته کوم مال نه پاتې کيده .... او حنابله رح وايي چې قرض که معجل وي که مؤجل دغريم يا دائن له اجازې پرته مديون جهاد ته دقرض تر ادا کيدو مخکې نشي

تللای ،البته که دځانه وروسته یې دومره څه پریښې وو ،چې دده پور پرې خلاصیده، یا یې کفیل ورته په ګوته کړ اویا یې هم کوم شئ په رهن یا ګروی کې ورکړ، بیا جهادته تلای شي ،دوئ احادیث په دلیل کې راوړي دي ، داټول دجواز اونه جواز اختلافات هغه وخت صورت مومي چې جهاد فرض کفایي وي ،که چیرته فرض عین وي نوبیا د دائن له اجازې نه په غیرجهاد ته دمدیون په تګ کې فقهاء هیڅ قسم اختلاف نکوي او ټول په یوه خوله وایي:چې دې وخت کې اجازې ته اړتیا نشته، جهد ته تګ کې له کوم حرج پرته وتل مجاز دي ،البته یوازې حنابله مستحب دا بولي ،چې پدې وخت کې ورته مناسب ده ،چې دمبارزې پر وخت دمړینې له احتمال ځای نه ځان وساتي او دجګړې په لومړۍ لیکه کې ونه دریږي،بلکې دجنګي لیکو یه منځ یا کوم کونج کې ودریږي لکه په حاشیه دعلامه ابن عابدین شامي رح ،حاشیة الدسوقی او جواهر الاکلیل پدې عبارتونو کې چې راغلي دي :

اتفقَ الفُقهاءُ عَلى أنّهُ لا يَخرُجُ المَدينُ لِلجِهادِ إذا كانَ الدّيْنُ حالا ، واختلفُوا فيمَا وَراءَ ذلكَ عَلى أقوالٍ:

فذَهَبَ الحَنَفيّةُ إلى أنّهُ لا يَخرُجُ المَدينُ بِغَيْرِ إذْنِ غَريمِه ولَوْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَفاءٌ ؛ لأنّهُ يَتَعَلّقُ بِه حَقُّ الغَريمِ وَهُوَ المُلازَمَةُ . فلَوْ أذِنَ لَهُ الدّائنُ ، ولَمْ يُبْرِئْهُ . فالمُسْتَحَبُّ الإقامَةُ لِقَضاءِ الدّيْنِ ؛ لأنّ البَدْءَ بِالأوْجَبِ أوْلى ، فإنْ خَرَجَ فلا بَأْسَ ، وكَذلكَ حُكْمُ الكَفيلِ إذا كانَ بِأمْرِ الدّائنِ ، ويَسْتَوي في وُجُوبِ الاسْتِئْذانِ ، الكَفيلُ بِالمالِ والكَفيلُ بِالنّفْسِ.

وأمّا إذا كانَ الدّيْنُ مُؤَجّلا فلَهُ الخُرُوجُ بِلا إذْنٍ إنْ عَلِمَ بِرُجُوعِهِ قَبْلَ حُلُولِهِ ؛ لِعَدَمِ تَوَجُّهِ المُطالَبَةِ بِقَضاءِ الدّيْنِ ، لكنّ الأفْضَلَ الإقامَةُ لِقَضائِهِ (ابن عابدين 3 / 221)

وعِنْدَ المالكيّةِ يُشْتَرَطُ الإذْنُ في الدّيْنِ الحالّ إذا كانَ يَقْدِرُ عَلى وَفائِهِ بِبَيْعِ ما عِنْدَهُ ، وإنْ لَمْ يَكُنْ قادِرًا عَلى ذلكَ ، أوْ كانَ مُؤَجّلا ولا يَحِلُّ في غَيْبَتِهِ خَرَجَ بِغَيْرِ إذْنِ الدّائنِ . فإنْ حَلّ في غَيْبَتِهِ ، وعِنْدَهُ ما يُوَفّي مِنْهُ . وكُلُّ مَنْ يَقْضِيهِ عَنْهُ ((2)حاشية الدسوقي 2 / 175 ، وجواهر الإكليل 1 / 252.)

وقالَ الشّافعيّةُ: إنّهُ لا يَخرُجُ المَدينُ في الدّيْنِ إذا كانَ حالا إنْ لَمْ يَكُنْ مُعْسِرًا . أيْ كانَ لَهُ وَفاءٌ ، وكَذلكَ إنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَفاءٌ في قَوْلٍ. والصّحيحُ أنّهُ لَيْسَ لَهُ مَنْعُهُ إذا كانَ مُعْسِرًا إذْ لا مُطالَبَةَ في الحالِ.

وإنْ كانَ الدّيْنُ مُؤَجّلا ، فالأصَحُّ أنّهُ لا يَجُوزُ المَنْعُ ، والثّاني: يَجُوزُ إلا أنْ يُقيمَ كَفيلا بِالدّيْنِ. والثّالثُ. لَهُ المَنْعُ إنْ لَمْ يُحْلِفْ وَفاءً ، وقيلَ. يَجُوزُ لِلدّائنِ أنْ يَمْنَعَ إنْ كانَ الدّيْنُ يَحِلُّ قَبْلَ رُجُوعِهِ (روضة الطالبين 10 / 210.211 ، ونهاية المحتاج 8 / 56 ، 57.).

وعِنْدَ الحَنابِلَةِ لا يَجُوزُ الخُرُوجُ سَواءٌ أكانَ الدّيْنُ حالا أمْ مُؤَجّلا بِغَيْرِ إذْنِ غَريمِه إلا أنْ يَتْرُكَ وَفاءً ، أوْ يُقيمَ بِه كَفيلا أوْ يُوَثّقَهُ بِرَهْنٍ ؛ لِما رُوِيَ أنّ " رَجُلا جاءَ إلى رَسُولِ اللهِ صَلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَمَ فَقالَ يا رَسُولَ اللهِ. أرَأيْتَ إنْ قُتِلْتُ في سَبيلِ اللهِ أتُكَفّرُ عَنّي خَطايايَ ؟ قالَ: نَعَمْ إنْ قُتِلْتَ وأنْتَ صابِرٌ مُحْتَسِبٌ ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ ، إلا الدّيْنَ ، فإنّ جِبْريلَ عَلَيْهِ السّلامُ قالَ لي ذلكَ "(2).

ولأنّ < عَبْدَ اللهِ بْنَ حَرَامٍ وَالِدَ جَابِرٍ الصَّحَابِيَّ الْمَعْرُوفَ خَرَجَ إِلَى أُحُدٍ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ كَثِيرٌ فَاسْتُشْهِدَ ، وَقَضَاهُ عَنْهُ ابْنُهُ مَعَ عِلْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ نَكِيرٍ ، بَلْ مَدَحَهُ ، وَقَالَ: مَا زَالَتِ الْمَلَائِكَةُ تُظِلُّهُ بِأَجْنِحَتِهَا حَتَّى رَفَعْتُمُوهُ(3) . وَقَالَ لِابْنِهِ جَابِرٍ: أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللهُ بِهِ أَبَاكَ ؟ مَا كَلَّمَ اللهُ أَحَدًا قَطُّ ، إِلَّا مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ، وَأَحْيَا أَبَاكَ وَكَلَّمَهُ كِفَاحًا > (4)

(2) حديث: "أن رجلا جاء إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم... "أخرجه مسلم (3 / 1501 ـ ط الحلبي) من حديث أبي قتادة.

(3) حديث: "ما زالت الملائكة تظله بأجنحتها... "أخرجه البخاري (الفتح 3 / 163 ـ ط السلفية) ومسلم (4 / 1918 ـ ط الحلبي) من حديث جابر بن عبد الله.

(4) حديث: "أفلا أبشرك بما لقي الله به أباك ". أخرجه الترمذي (5 / 230 ـ ط الحلبي) وقال: " هذا حديث حسن غريب ".

وَلِأَنَّ الْجِهَادَ تُقْصَدُ مِنْهُ الشَّهَادَةُ الَّتِي تَفُوتُ بِهَا النَّفْسُ ، فَيَفُوتُ الْحَقُّ بِفَوَاتِهَا (1) .

وَأَمَّا إِذَا تَعَيَّنَ الْجِهَادُ فَلَا خِلَافَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي أَنَّهُ لَا إِذْنَ لِغَرِيمِهِ ؛ لِأَنَّهُ تَعَلَّقَ بِعَيْنِهِ . فَكَانَ مُقَدَّمًا عَلَى مَا فِي ذِمَّتِهِ كَسَائِرِ فُرُوضِ الْأَعْيَانِ. وَصَرَّحَ الْحَنَابِلَةُ بِأَنَّهُ يُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ لَا يَتَعَرَّضَ لِمَظِنَّةِ الْقَتْلِ مِنَ الْمُبَارَزَةِ ، وَالْوُقُوفِ فِي أَوَّلِ الْمُقَاتَلَةِ ؛ لِأَنَّ فِيهِ تَفْرِيرًا بِتَفْوِيتِ الْحَقِّ . بَلْ يَقِفُ وَسَطَ الصَّفِّ أَوْ حَاشِيَتِهِ حِفْظًا لِلدِّينِ((2) ابن عابدين 3 / 221 ، وحاشية الدسوقي 2 / 175 ، وجواهر الإكليل 1 / 252 ، ونهاية المحتاج 8 / 57 ، وروضة الطالبين 10 / 214 ، والمغني 8 / 360 ، وكشاف القناع 3 / 45)

دجهاد د فرضيت دري گوني حالات :

په تولیزډول یا فی الجمله دلاندینی منصوصي دلایلو له مخې جهاد فرض دی:

الْجِهَادُ فَرْضٌ فِي الْجُمْلَةِ ، وَالدَّلِيلُ عَلَى فَرْضِيَّتِهِ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: {كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَكُمْ} (سورة البقرة / 216) ژباړه .پر تاسو جهاد فرض کړای شوی دی اودا به تاسو ته بد معلومیږي /وقوله تَعَالَى: {انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ} (سورة التوبة / 41.)

ژباړه. جهاد ته لاړشئ سپک اودرانده /پلي او سپاره .... اوجهاد وکړئ په خپلو مالونو او ځانونو سره د الله ﷻ په لاره کې / وَقَوْلُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. "الْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِي اللهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ أُمَّتِي الدَّجَّالَ " ("أخرجه أبو داود (3 / 40 ـ تحقيق عزت عبيد دعاس) من حديث أنس بن مالك . وفي إسناده جهالة كما في فيض القدير للمناوي (3 / 293 ـ ط المكتبة التجاري)

ژباړه:جهادبه روان وي دهغه وخت څخه چې زه الله ﷻ پیغمبر لیږلی یم ،ترهغې پورې چې زما وروستی امتي به له دجال سره جګړه وکړي.

وَالمُرَادُ - وَاللهُ أَعْلَمُ - أَنَّهُ فَرْضٌ بَاقٍ ؛ لأَنَّ المُضِيَّ مَعْنَاهُ النَّفَاذُ ، وَالنَّفَاذُ إِنَّمَا هُوَ فِي الفَرْضِ مِنَ الأَحْكَامِ ، فَإِنَّ النَّدْبَ وَالإِبَاحَةَ لا يَجِبُ فِيهِمَا الامْتِثَالُ وَالنَّفَاذُ (فتح القدير 5 / 189 وما بعدها ، وجواهر الإكليل 1 / 251 ، وروضة الطالبين 10 / 208 ، والإنصاف 4 / 116 ، والمغني 8 / 345)

ژباړه: دلته د(مضي) لفظ راغلی دی ،ددې معنی نفاذ دی ،او نفاذ په فرضي احکامو کې وي ،ځکه په ندب او اباحت کې امتثال او نفاذ نه وي.

وَقَدْ نُقِلَ عَنِ ابْنِ عَبْدِ البَرِّ أَنَّ الجِهَادَ فَرْضُ كِفَايَةٍ مَعَ الخَوْفِ ، وَنَافِلَةٌ مَعَ الأَمْنِ (الدسوقي 2 / 173 ، وجواهر الإكليل 1 / 251 .).

ژباړه :دحافظ ابن عبدالبر رح نه نقل شوي ،چې دخوف او ویرې سره جهاد فرض کفایي دی او چې کله امن وي نو بیا نفل دی)خو په فرضیت مذکور نصوص ښه حجت کیدلای شي..

دجهاد په باب دجمهورو علماوو نظر :

هغه علماء چې جهادته په عامو حالاتو کې فرض وایي ،ددوئ ترمنځ بیا موضوع اختلافي ده ،خو جمهور علماء وایي چې جهاد فرض کفایي دی ،کله چې یې ځینې وکړي.له نورو څخه ساقطیږي لکه د(حاشیه علامه ابن عابدین رح ،کشاف القناع او المغني)په لاندینو عبارتونو کې چې دا سې راغلي دي:

ثُمَّ اخْتَلَفَ القَائِلُونَ بِالفَرْضِيَّةِ :

فَذَهَبَ الجُمْهُورُ إِلَى أَنَّهُ فَرْضُ عَلَى الكِفَايَةِ إِذَا قَامَ بِهِ البَعْضُ سَقَطَ عَنِ البَاقِينَ لِحُصُولِ المَقْصُودِ وَهُوَ كَسْرُ شَوْكَةِ المُشْرِكِينَ ، وَإِعْزَازُ الدِّينِ. وَمَعْنَى الكِفَايَةِ فِي الجِهَادِ أَنْ يَنْهَضَ إِلَيْهِ قَوْمٌ يَكْفُونَ فِي جِهَادِهِمْ ، إِمَّا أَنْ يَكُونُوا جُنْدًا لَهُمْ دَوَاوِينُ مِنْ أَجْلِ ذَلِكَ ، أَوْ يَكُونُوا أَعَدُّوا أَنْفُسَهُمْ لَهُ تَطَوُّعًا بِحَيْثُ إِذَا قَصَدَهُمُ العَدُوُّ حَصَلَتِ المَنَعَةُ بِهِمْ ، وَيَكُونُ فِي الثُّغُورِ مَنْ يَدْفَعُ العَدُوَّ عَنْهَا ، وَيَبْعَثُ فِي كُلِّ سَنَةٍ جَيْشًا يُغِيرُونَ عَلَى العَدُوِّ فِي بِلادِهِمْ . وَفَرْضُ الكِفَايَةِ: مَا قُصِدَ حُصُولُهُ مِنْ غَيْرِ شَخْصٍ مُعَيَّنٍ ، فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ إِلا وَاحِدٌ تَعَيَّنَ عَلَيْهِ ، كَرَدِّ السَّلامِ ، وَالصَّلاةِ عَلَى الجِنَازَةِ (ابن عابدين 3 / 219 ، وكشاف القناع 3 / 32 ، 33 ، والمغني 8 / 346.). فَإِذَا لَمْ يَقُمْ بِالوَاجِبِ مَنْ يَكْفِي ، أَثِمَ النَّاسُ كُلُّهُمْ. وَاسْتَدَلُّوا بِقَوْلِهِ تَعَالَى: { وَمَا كَانَ المُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ (سورة التوبة / 122) . وَاسْتَدَلُّوا كَذَلِكَ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: { فَضَّلَ اللهُ المُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى القَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلا وَعَدَ اللهُ الحُسْنَى وَفَضَّلَ اللهُ المُجَاهِدِينَ عَلَى القَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا } (سورة النساء / 95 .)

واستدلوا لذلك بأن الجهاد ما فرض لعينه، وإنما فرض لإعزاز دين الله، ودفع الشر عن العباد

والمقصود أن يأمن المسلمون، ويتمكنوا من القيام بمصالح دينهم ودنياهم. فإذا اشتغل الكل بالجهاد لم يتفرغوا للقيام بمصالح دنياهم.

وقد كان رسول الله صلى الله عليه وسلم تارة يخرج، وتارة يبعث غيره، حتى قال: "والذي نفسي بيده، لولا أن رجالا من المؤمنين لا تطيب أنفسهم أن يتخلفوا عني، ولا أجد ما أحملهم عليهم، ما تخلفت عن سرية تغدو في سبيل الله "(1).

فهذا يدل على أن القاعدين غير آثمين مع جهاد غيرهم، فقد وعد الله كلا الحسنى، والعاصي لا يوعد بها، ولا تفاضل بين مأجور ومأزور(2) (وروى أبو سعيد الخدري رضي الله عنه <أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث إلى بني لحيان، وقال: ليخرج من كل رجلين رجل، ثم قال للقاعدين: أيكم خلف الخارج في أهله وماله بخير كان له مثل نصف أجر الخارج> (1 (

وقال سعيد بن المسيب: إن الجهاد من فروض الأعيان(2). {انفروا خفافا وثقالا وجاهدوا بأموالكم وأنفسكم في سبيل الله}(3. (

وقوله: {إلا تنفروا يعذبكم عذابا أليما}(4). وقول الرسول صلى الله عليه وسلم. <من مات ولم يغز، ولم يحدث نفسه بالغزو، مات على شعبة من نفاق>(5). وأن القاعدين الموعودين بالحسنى كانوا حراسا، أي كانوا من هذين كذلك(6 (

(1)حديث: "ليخرج من كل رجلين رجل .. "صحيح مسلم 2 / 100، وفي رواية "لينبعث من كل رجلين أحدهما والأجر بينهما. " (2)نهاية المحتاج 8 / 45 وما بعدها، والمغني 8 / 345 وما بعدها، وكشاف القناع 2 / 32 وما بعدها (3)سورة التوبة / 41. (4)سورة التوبة / 39.

(5)حديث: "من مات ولم يغز ولم يحدث نفسه بالغزو. "أخرجه مسلم (3 / 1517 ـ ط الحلبي) من حديث أبي هريرة. (6)نهاية المحتاج 8 / 45 وما بعدها.

خلص مفهوم او لنډه ترجمه يې: هغه علماء چې د جهاد د فرضيت نظريه لري، جمهور علماء پکې وايي چې د اجهاد فرض کفايي دی، چې په بعضو سره دنورو غاړه خلاصيږي، او هغه د مشرکينود برم له منځه وړل او د دين اعزاز دی، او په جهاد کې د فرض کفايي مفهوم دا دی چې: يو شمير خلک يې په

جهاد بسنه کولای شي ،يا خو دوئ پوځيان وي، چې دفاتر او اداري لري ،يا خو داسې ځوک وي، چې پخپله يې د ثواب په خاطر پوځي زده کړه دهمداسې ورځو لپاره تر لاسه کړي وي ،چې د دښمن د برید پر وخت يې غابښ ماتونکی ځواب ويلی شي ،او په سرحداتو کې هم داسې ځوک وي ،چې د دښمن ځخه يې ساتلای شي ،او هر کال کې دوئ لښکر کشي کوي او د دښمن سيمو ته لښکر ورليږي او پر دوئ برید ونه کوي ،فرض کفايي هغه ته وايي چې له کوم نا معين يا نا معلوم شخص ځخه يې ترسره کول مقصود وي ،که چيرته بل ځوک نه و ، بيا پرې فرض عين ګرځي ،لکه د سلام ځواب ورکول ،او د جنازې لمونځ ،که چيرته دا فرض کفايي هغه ځوک ونکړي ،چې فرض پرې ادا کيدای شي ،نو دې صورت کې ټول خلک پرې ګناه ګار دي ،دوئ د دې لپاره چې جوته کړي ،چې جهاد فرض کفايي دی ، پدې آيت کريمه سره يې استدلال کړی چې ژباړه : او نه دي مؤمنان داسې چې ووځي ټول له ځرمي ((سيلمي))(غزا يا د علم طلب ته په هروخت کې)نو ولې نه ځي له هرې ډلې له دې مؤمنانو ځخه يو ټولی (او نور دې پاتې شي په کور کې)د دې لپاره چې پوهه پيدا کړي د غه (تلونکي)په دين کې او لپاره د دې چې خبر ورسوي ،خپل قوم ته کله چې بيرته راشي ،دوئ د هغو ئ په لور د دې لپاره چې هغوئ ووير يږي (له الله ﷻ او ځانونه وژغوري)له ګناهونو ځخه.)..... او دوئ استدلال پدې نصوصو داسې کړی چې: جهاد فرض عين ندی ،بلکې دا د دين د اعزاز او له بند ګانو ځخه د شر د دفع لپاره فرض شوی دی .له جهاده اصل مقصود دادی چې، مسلمانان په امن کې شي او دوئ د دين او دنيا مصالح تر سره کړي ،نو کله چې دوئ ټول د جهاد په مصالحو اخته شي، د دنيا چاري به تر پاتې شي ،او پخپله رسول الله ﷺ همداسې و ،چې کله به جهاد ته ،کله کله به يې بل ځوک ليږه ،دا پدې دلالت کوي، چې ځينې جهاد کوي او ځينې نور کور کې ناست وي ،نو دوئ ګناهګار ندي .دوارو سره الله ﷻ د حسنى وعده کړې او له عاصي سره خو دنيکې جزا وعده نوي. چې مذکور نصوص همدا تفسير او ترجمه له ځانه سره لري ،سعيد بن مسيب رح وايي چې جهاد فرض عين دی ،خو د جمهورو قول مو مخکې پدې هکله ذکر کړ.

د جهاد د عيني فرضيت درې ګوڼې حالات :

د جمهورو علماوو له نظره په لاندې درېو حالاتو کې جهاد فرض عين ګرځي. الف: د جګړې په حال کې چې د جګړې ليکې منظمې وي. ب: کله چې د دښمن په خلکو ناڅاپه حمله وکړي ج: کله چې پادشاه يا خليفه د نفير عام اعلان وکړي لکه پدې عبارتونو کې:

مَتَى يَصِيرُ الجِهَادُ فَرْضَ عَيْنٍ ؟

- 9ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ إِلَى أَنَّهُ يَصِيرُ الْجِهَادُ فَرْضَ عَيْنٍ فِي كُلِّ مِنَ الْحَالاتِ الآتِيَةِ .

أ - إذا التقى الزحفان، وتقابل الصفان، حرم على من حضر الانصراف، وتعين عليه المقام، لقوله تعالى: {يا أيها الذين آمنوا إذا لقيتم فئة فاثبتوا} .. إلى قوله: {واصبروا إن الله مع الصابرين} (سورة الأنفال / 45، 46.)

ب - إذا هجم العدو على قوم بغتة، فيتعين عليهم الدفع ولو كان امرأة أو صبيًا، أو هجم على من بقربهم، وليس لهم قدرة على دفعه، فيتعين على من كان بمكان بمقاربة لهم أن يقاتلوا معهم إن عجز من فجأهم العدو عن الدفع عن أنفسهم، ومحل التعيين على من بقربهم إن لم يخشوا على نسائهم وبيوتهم من عدو يتشاغلهم بمعاونة من فجأهم العدو، وإلا تركوا إعانتهم

وعند الشافعية يعتبر من كان دون مسافة القصر من البلدة كأهلها، ومن على المسافة يلزمه الموافقة بقدر الكفاية إن لم يكف أهلها، ومن يليهم. وأما من لم يفجأهم العدو فلا يتعين عليهم، يستوي في ذلك المقل منهم والمكثر. ومعناه: أن النفير يعم جميع الناس ممن كان من أهل القتال حين الحاجة لمجيء العدو إليهم، ولا يجوز لأحد التخلف إلا من يحتاج إلى تخلفه لحفظ المكان والأهل والمال، ومن يمنعه الأمير من الخروج، أو من لا قدرة له على الخروج أو القتال ((ابن عابدين 3 / 221، وفتح القدير 5 / 190، والدسوقي 2 / 174، وجواهر الإكليل 1 / 253، وروضة الطالبين 1 / 215، ومغني المحتاج 4 / 219، والمغني 8 / 346، 347، وكشاف القناع 3 / 37)

وقد ذم الله تعالى الذين أرادوا الرجوع إلى منازلهم يوم الأحزاب فقال: {ويستأذن فريق منهم النبي يقولون إن بيوتنا عورة وما هي بعورة إن يريدون إلا فرارًا} (سورة الأحزاب / 13. وانظر: فتح القدير 5 / 191، والمغني 8 / 364)

ج - إذا استنفر الإمام قومًا لزمهم النفير معه إلا من له عذر قاطع؛ لقول الله تعالى. {يا أيها الذين آمنوا ما لكم إذا قيل لكم انفروا في سبيل الله اثاقلتم إلى الأرض أرضيتم بالحياة الدنيا من الآخرة فما متاع الحياة الدنيا في الآخرة إلا قليل} سورة التوبة / 38

وقال النبي صلى الله عليه وسلم: "لا هجرة بعد الفتح ولكن جهاد ونية، وإذا استنفرتم فانفروا" (". تقدم تخريجه (ف / 1). وانظر صحيح البخاري 4 / 66)) وذلك لأن أمر الجهاد موكول إلى الإمام واجتهاده، ويلزم الرعية طاعته فيما يراه من ذلك (حاشية الدسوقي 2 / 175، وجواهر الإكليل 1 / 252، والمغني 8 / 352، والمحلى 7 / 291.

ونص المالكية على أنه يتعين الجهاد بتعيين الإمام ولو لصبي مطيق للقتال أو امرأة، وتعيين الإمام إلجاؤه إليه وجبره عليه، كما يلزم بما فيه صلاح حاله، لا بمعنى عقابه على تركه، فلا يقال: إن توجه الوجوب للصبي خرق للإجماع((1)حاشية الدسوقي 2 / 175، وجواهر الإكليل 1 / 252.)

خلص مفهوم اوژباړه :دجمهورو فقهاوو په اتفاق سره په دې درېو حالاتو کې جهاد فرض عين ګرځي :الف:چې کله دمسلمانانو او کفارو جنګيالي سره مخامخ شي ،نو دې وخت کې تيښته او شا ګرځول حرام او جګړه کې برخه اخستل پرې فرض عين دي ،دالله ﷻ ددې قول له امله چې فرمايي ژباړه:اى هغو خلکو چې ايمان مو راوړى چې کله چې ډډلې (دکفارو ډډلې)سره مخ شوئ نو محکم او ثابت به اوسئ.. ..... .او صبر وکړئ يقينا الله ﷻ له صابرانو سره مل دى. ب:کله چې دښمن په خلکو ناڅاپه حمله وکړي ،نو دې صورت کې پدې خلکو عام ددې څخه چې ښځه وي که ماشوم وي، دڅان دفاع فرض عين ده ،او يا پداسې قوم باندې کفار حمله وکړي، چې دهغوئ دخپلې دفاع وسه نه کيږي ،نو چې څوک ورته نږدې او ګاونډي وي، پدوئ دې وخت کې جهاد فرض عين او ددې قوم دفاع چې نا څاپه پرې يرغل شوى فرض ده ،په دې ګاونډيانو هغه وخت جهاد فرض عين ګرځي ،چې په جهاد او ددې قوم په دفاع کې يې پر خپل مصروفيت خپلې ښځې او کورونه له يرغلګرو څخه په امن کې وي ،که دا ډاډ نه و ،نو بيا دې يې معاونت پرېږدي ،او دشوافعو رح په نزد دقرب په وجه ددفاع جهادي عينيت پدې شرط اعتبار لري ، چې ددوئ او ددې قوم تر منځ دسفر له اندازې نه کم مزل وي ،که چيرته زيات وي، بيا پرې ددې قوم دفاع فرض عين نه، بلکې کفايي ده . او که چيرته پدې قوم ناڅاپه حمله نه وه شوي ،نو بيا پرې دقرب مکاني په وجه دفاع فرض عين نده ،کله چې نفير عام وي ،نو ټول هغه څوک چې دجنګ ورتيا لري ،برخه به پکې اخلي او دادفرضيت حکم ورته تعميم پيدا کوي ،دمال ، اهل يا مکان دساتنې په عذر يادجهادي امير يوه چاته دنه اجازې او له خروج نه منع کول يا هم دچا چې دجګړې څواک نوي يا نشي وتلاى) پردوئ سربيره نور هيڅوک ترې پاتې کيداى نشي او هيڅاته ترې تخلف روا ندى.

ج:چې کله خليفه يا امام دنفير عام حکم ورکړي او اعلان وکړي، چې ټول خلک به جهاد ته ځي ،نو په ټولو ددې اطاعت لازم دى اودې وخت کې پرې دکوم قاطع عذر نه پرته خروج فرض عين ګرځي ، دلايل پرې نصوص دي او ددې رايه او اختيار امام ته محول اوموکول دى ،چې ده څنګه پريکړه وکړه، همدا به يې واجب الاطاعت وي، خو ماليکان رح بيا عيني فرضيت دامام په فيصلې پورې ترې ،چې هغه چاته حکم وکړ ،که ماشوم هم و ،په ده فرض عين ګرځي، خو دجمهور علماوو نظر مخکې تير شو ،هغه په داسې مسايلو کې کفايت کوي.

دجهاد دوجوب شرطونه

فقهاوو پدې اتفاق کړى چې:جهاد به هغه وخت په يوه شخص واجب کيږي ،چې دا لاندينې شروط پوره کړي ،که بې پوره نکړي وجوب به پرې نوي ،البته دا شرطونه په هغه جهاد کې مراعت کيږي ،چې کله جهاد فرض کفايي او عمومي صورت حال وي ، کله که فرض عين و ، نو بيا به ځينې ددې شرطونو نه پر ځاى نوي پاتې ،لکه ذکورت يا بلوغ.. .پرښځه او هغه ماشوم چې دجګړې څواک لري ،دنفير عام پر وخت

به وسله اخلي او دفاع به کوي ،خو په عامو حالاتو کې پرې نه فرض کيږي ، (الموسوعة الفقية الكويتية)دجهد دوجوب شروط پدې عبارت کې نغاړلې ، چې په لاندې تفصيل سره يې تشريح شوي دي :

شُرُوطُ وُجُوبِ الجِهَادِ :

أ - الإِسْلاَمُ:

16 - اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ مِنْ شُرُوطِ وُجُوبِ الْجِهَادِ : الإِسْلاَمَ ؛ لأَنَّهُ مِنْ شُرُوطِ وُجُوبِ سَائِرِ الْفُرُوعِ ؛ وَلأَنَّ الْكَافِرَ غَيْرُ مَأْمُونٍ فِي الْجِهَادِ ، وَلاَ يَأْذَنُ لَهُ الإِمَامُ بِالْخُرُوجِ مَعَ جَيْشِ الْمُسْلِمِينَ ؛ لِمَا رَوَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى بَدْرٍ فَتَبِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ فَقَالَ لَهُ. تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ؟ قَالَ :لاَ ، قَالَ: فَارْجِعْ فَلَنْ أَسْتَعِينَ بِمُشْرِكٍ)("أخرجه مسلم(3 / 1450 - ط الحلبي) من حديث عائشة)

ژباړه :دفقهاوو په اتفاق سره دجهاد دوجوب لپاره لومړی شرط اسلام دی ،ځکه چې اسلام دنورو فروعاتو لپاره هم شرط دی او کافر په جهاد کې مامون ندی اونه به ورته دجهاد قاید دمسلمانانو له لښکر سره دوتلو اجازه ورکوي ،دليل ورته دحضرت عايشې ﷺ هغه روايت چې فرمايې چې رسول الله ﷺبدر ته ووت ،نو دمشرکانو څخه يو کس ورپسې روان شو ،نو رسول الله ﷺدې سړي ته وويل:چې آيا ته په الله ﷻاودهغه په رسول ﷺايمان لري ؟دې سړي ورته وويل چې نه اونو رسول الله ﷺورته وويل :چې بيرته وګرځه ! زه هيڅکله له مشرک څخه مرسته نه غواړم)او بل داچې دده په شتون کې يې له ضرره ويره وي دا ددې څخه ډير دی چې ګټه دې ورسوي... ...

البته داسلامي فقه نورو کتابونو لکه (البحر الرايق ،الجوهرة النيرة ،او المبسوط لمحمد الشيباني)ليکلې چې که ضرورت و ،نو خليفه کولای شي ،چې دجهاد لپاره دکافر څخه مرسته وغواړي، لکه دبحر الرايق دې عبارت کې چې:

والذمي إنما يرضخ له إذا قاتل أو دل على الطريق لانه فيه منفعة للمسلمين إلا أنه يزاد على السهم في الدلالة إذا كنت فيه منفعة عظيمة، ولا يبلغ فيه السهم إذا قاتل لانه جهد والاول ليس من عمله فلا يسوى بينه وبين المسلم في حكم الجهاد ، ودل كلامهم على أنه يجوز الاستعانة بالكافر على القتال إذا دعت الحاجة إلى ذلك كما قدمناه.(البحر الرايق على كنز الدقايق)

دې عبارت کې له کافر څخه دارتيا په صورت کې دمرستې غوښتلو مسئله جايز ښکاري ،لاندې د(جوهرې)عبارت کې له کافر څخه دمرستې غوښتل نا مستحب ښودل شوي ،خو بيا ليکي چې که چيرته همدا کافر دمسلمانانو په ملګرتيا کې جهاد ته حضر شو ،نو له غنيمت نه به يې برخه نه ،بلکې رضيخه وي ،لکه دې عبارت کې چې:

وَكَذَا الذِّمِّيُّ إِنَّمَا يَرْضَخُ لَهُ إِذَا قَاتَلَ أَوْ دَلَّ عَلَى الطَّرِيقِ وَيَنْبَغِي لِلْإِمَامِ أَنْ لَا يَسْتَعِينَ بِأَهْلِ الذِّمَّةِ عَلَى الْقِتَالِ ؛ لِأَنَّهُ لَا يُؤْمَنُ غَدْرُهُمْ وَخِيَانَتُهُمْ بِالْمُسْلِمِينَ إِلَّا أَنَّهُمْ إِذَا حَضَرُوا وَقَاتَلُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ بِإِذْنِ الْإِمَامِ فَإِنَّهُ يَرْضَخُ لَهُمْ وَلَا يَبْلُغُ لِرَجَّالَتِهِمْ سَهْمَ الرَّجَّالَةِ وَلَا لِفُرْسَانِهِمْ سَهْمَ الْفُرْسَانِ لِنُقْصَانِ مَنْزِلَتِهِمْ وَانْحِطَاطِ رُتْبَتِهِمْ

(الجوهرة النيرة)

دحضرت عايشې رضى الله تعالى عنها د پورتني روايت له مخې له كافر څخه په جهاد كې مرسته غوښتل ناجايز معلوميږي ،خو ځينې نورو روايتونو كې شته چې په ځينو غزواتو كې رسول الله ﷺ كله له اهل ذمه وو او كله له يهودو څخه مرسته غوښتې ،لكه دصفوان بن اميه څخه دځغرو غوښتل او داسې نور...امثال شته چې استعانت ترې جوتيږي ،نو تطبيق به يې داسې وشي ،چې داړتيا پروخت كه امام المسلمين ضرور وبولې مرسته ترې غوښتلاى شي ،كه ضرورت نه و ،نو مستحب داده چې كمك ترې ونه غواړې.والله تعالى اعلم

).ب - العَقْل:

17 - المَجْنُونُ غَيْرُ مُكَلَّفٍ فَلَا يَجِبُ عَلَيْهِ الجِهَادُ ، وَلَا يَتَأَتَّى مِنْهُ.

ژباړه: ب: بل شرط عقل دى ليونى چې مكلف ندى نو دجهاد وجوب هم ترې ساقط دى.

ج - البُلُوغُ:

18 - لَا يَجِبُ الجِهَادُ عَلَى الصَّبِيِّ غَيْرِ البَالِغِ ضَعِيفِ البِنْيَةِ وَهُوَ غَيْرُ مُكَلَّفٍ. فَفِي الصَّحِيحَيْنِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: عُرِضْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ فَلَمْ يُجِزْنِي فِي المُقَاتِلَةِ (("أخرجه البخاري (الفتح 5 / 276 - ط السلفية) ومسلم (3 / 1490 - ط الحلبي). وانظر: فتح القدير 5 / 193 وما بعدها ، وابن عابدين 3 / 221 ، 222 ، والمدونة 3 / 5 وحاشية الدسوقي 2 / 175 والمهذب 2 / 230 ، ونهاية المحتاج 8 / 52 وروضة الطالبين 10 / 209 ، 210 ، والمغني 8 / 347 ، وكشاف القناع 3 / 62.).

وَقَدْ رَدَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ بَدْرٍ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَالبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ ، وَزَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ ، وَزَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ ، وَعَرَابَةَ بْنَ أَوْسٍ ، فَجَعَلَهُمْ حَرَسًا لِلذَّرَارِيِّ وَالنِّسَاءِ ("أخرجه البخاري (الفتح 7 / 290 ط السلفية) .) ، وَلِأَنَّ الجِهَادَ عِبَادَةٌ تَتَعَلَّقُ بِالبَدَنِ فَلَا يَجِبُ عَلَى الصَّبِيِّ وَالمَجْنُونِ ، كَالصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ وَالحَجِّ.

وَلِأَنَّ مَا يُخَافُ مِنَ الضَّرَرِ بِحُضُورِهِ أَكْثَرُ مِمَّا يُرْجَى مِنَ المَنْفَعَةِ ، وَهُوَ لَا يُؤْمَنُ مَكْرُهُ وَغَائِلَتُهُ ؛ لِخُبْثِ طَوِيَّتِهِ ، وَالحَرْبُ تَقْتَضِي المُنَاصَحَةَ ، وَالكَافِرُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِهَا.

ژباړه: ج: بلوغ هم دجهاد دوجوب شرط دی ،پرهغه ماشوم چې بالغ نوي ،جهاد ندی واجب ،په صحیحینو کې له ابن عمر ﷺ څخه روایت شوی ،هغه فرمایي چې زه داحد په ورځ رسول الله ﷺ ته وړاندی کړای شوم او زه دا وخت څوارلس کلن وم، نو ما ته یې په جګړه دبرخې اخستو اجازه رانکړه ،او رسول الله ﷺ دبدر په ورځ اسامه بن زید ،البراء بن عازب ،زید بن ثابت ،زید بن ارقم او عرابه بن اوس ،ﷺ څواب کړل او اجازه یې په بدر کې دجګړې لپاره ورنکړه ،دوئ یې دماشومانو او ښځو څوکیداری ته موظف کړل ،او بل دا چې جهاد لکه دلمانځه ،روژې او حج هسې بدني عبادت دی او دا پرماشومانو نشته ،

د - الذكورة:

19 - تُشْتَرَطُ الذُّكُورَةُ لِوُجُوبِ الجِهَادِ ، لِمَا رَوَتْ عَائِشَةُ قالتْ: يَا رَسُولَ اللهِ ، هَلْ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟ فقال: جِهَادٌ لا قِتَالَ فِيهِ: الحَجُّ وَالعُمْرَةُ (أخرجه ابن ماجه (2 / 968 - ط الحلبي) وصححه ابن خزيمة (4 / 359 - ط المكتب الإسلامي) من حديث عائشة.

وَعَلَى ذَلِكَ فَلا يَجِبُ عَلَيْهِنَّ الجِهَادُ مَا لَمْ يَتَعَيَّنْ فِي الأَحْوَالِ الثَّلاثَةِ المُتَقَدِّمَةِ.

أَمَّا إِخْرَاجُ النِّسَاءِ مَعَ المُجَاهِدِينَ فَيُكْرَهُ فِي سَرِيَّةٍ لا يُؤْمَنُ عَلَيْهَا ؛ لأَنَّ فِيهِ تَعْرِيضَهُنَّ لِلضَّيَاعِ ، وَيَمْنَعُهُنَّ الإِمَامُ مِنَ الخُرُوجِ لِلافْتِتَانِ بِهِنَّ . وَلَسْنَ مِنْ أَهْلِ القِتَالِ لاسْتِيلاءِ الخَوَرِ وَالجُبْنِ عَلَيْهِنَّ ؛ وَلأَنَّهُ لا يُؤْمَنُ ظَفَرُ العَدُوِّ بِهِنَّ ، فَيَسْتَحِلُّونَ مِنْهُنَّ مَا حَرَّمَ اللهُ تَعَالَى.

وَصَرَّحَ الحَنَابِلَةُ بِاسْتِثْنَاءِ امْرَأَةِ الأَمِيرِ لِحَاجَتِهِ ، أَوِ امْرَأَةٍ طَاعِنَةٍ فِي السِّنِّ لِمَصْلَحَةٍ فَقَطْ ، فَإِنَّهُ يُؤْذَنُ لِمِثْلِهِمَا ؛ لِمَا رَوَتِ الرُّبَيِّعُ بِنْتُ مُعَوِّذٍ قالتْ: كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَسْقِي القَوْمَ وَنَخْدُمُهُمُ المَاءَ ، وَنَرُدُّ الجَرْحَى وَالقَتْلَى إِلَى المَدِينَةِ (أخرجه البخاري (الفتح 6 / 80 - ط السلفية). وانظر المغني 8 / 365 ، 366.).

وَلَكِنْ لا بَأْسَ بِإِخْرَاجِ النِّسَاءِ مَعَ المُسْلِمِينَ إِذَا كَانُوا عَسْكَرًا عَظِيمًا يُؤْمَنُ عَلَيْهِ ؛ لأَنَّ الغَالِبَ السَّلامَةُ ، وَالغَالِبُ كَالمُتَحَقَّقِ. وَلا يَجِبُ الجِهَادُ عَلَى خُنْثَى مُشْكِلٍ ؛ لأَنَّهُ لا يُعْلَمُ كَوْنُهُ ذَكَرًا ، فَلا يَجِبُ مَعَ الشَّكِّ فِي شَرْطِهِ (المرجع السابق.)

د - ژباړه: دجهاد دوجوب لپاره بل شرط نارینتوب دی ،یعنې په ښځه جهاد ندی واجب ،لکه له حضرت ام المؤمنین عایشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی ،چې دې رسول الله ﷺ ته وویل: آیا په ښځو جهاد شته ؟نو رسول الله ﷺ ورته وویل چې جهاد دی پرې ،خو جګړه پکښې نشته ،چې هغه حج او عمره دي)ددې روایت له مخې پرې جهاد ندی واجب . البته په هغو درېو حالتونو کې چې هلته په نر او ښځې دواړو فرض عین ګرځیده، دا تړې هم نده مستثنی ،کله چې بیا هغه درې حالتونه راغلل ،هلته پرې فرض عین ګرځي. ددې ځای پورې خو داخبره وه، چې په ښځو جهاد واجب ندی، خو که چیرته

همدا سې دا ښځه له مجاهدينو سره کومه دا سې(سريه) کې تلله چې ورته خطر متوجه و ،نو بيا مکروه دی ،ځکه دې کې ددې ضيع منځته راځي ،امام يا جهد دې مشربه دا ښځې مجاهدينو سره له وتلو څخه منع کوي ،ځکه دفتنې خطر شتون لري او دوئ دخپل طبعي جبن او ويرې له مخې دجګړې او جنګ وړتيا او استعداد نلري ،اوپدوئ سره پر دښمن غلبه هم باور ي نده، نو دا دښمنان به ځانته ددئ ښځو منو څخه هغه څه حلال کړي چې الله ﷻ حرام کړي دي.

او حنابله رح وايې چې دامير سره يې خپله ښځه اوهغه ښځه چې عمر خورلې وي ،مجاهدينو سره وتلای شي ،او دوئ ته به اجازه ورکول کيږي داځکه چې (الربيع بنت معوذ)روايت کوي :چې مونږه به له رسول الله ﷺ سره غزا ته تللو ،مجاهدينو ته به مو سقی کوله او ددوئ ته داوبو خدمت به مو کاوه او ټپيان او شهيدان به مو مدينې ته بيرته راوړل.

ليکن دا باک نلري ،چې ښځې مجاهدينو سره ووځي خو شرط به داوي ،چې دمجاهدينو ځواک ډير وي او ددې ښځو دستنې اومصئونيت باور موجود وي ،نو بيا باک نلري چې ورسره ووځي ،ځکه غالب ګمان دادی چې دا ښځې به دکفارو لخوا متضررې نشي او غالب داسې وي لکه متحقق !

همدا سې په خنثی مشکل باندې ددې امله جهد ندی واجب ،چې دده نرتوب جوت ندی او دشک په صورت کې وجوب نه راځي

هـ - القُدْرَةُ عَلى مُؤْنَةِ الجِهَادِ :

20 - يُشْتَرَطُ لِوُجُوبِ الجِهَادِ القُدْرَةُ عَلى تَحْصِيلِ السِّلاَحِ.

وَكَذَلِكَ لاَ يَجِبُ عَلَى الفَقِيرِ الذِي لاَ يَجِدُ مَا يُنْفِقُ فِي طَرِيقِهِ فَاضِلاً عَنْ نَفَقَةِ عِيَالِهِ ، لِقَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ : {وَلاَ عَلَى الذِينَ لاَ يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ (سورة التوبة / 91)

فَإِنْ كَانَ القِتَالُ عَلَى بَابِ البَلَدِ أَوْ حَوَالَيْهِ وَجَبَ عَلَيْهِ ؛ لأَنَّهُ لاَ يَحْتَاجُ إِلَى نَفَقَةِ الطَّرِيقِ ، وَإِنْ كَانَ عَلَى مَسَافَةٍ تُقْصَرُ فِيهَا الصَّلاَةُ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى وَسِيلَةٍ تَنْقُلُهُ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ ؛ لِقَوْلِهِ تَعَالَى : {وَلاَ عَلَى الذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لاَ أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلاَّ يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ(2)}.

وَإِنْ بَذَلَ لَهُ الإِمَامُ مَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ مِنْ وَسِيلَةٍ نَقْلٍ وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يَقْبَلَ وَيُجَاهِدَ ؛ لأَنَّ مَا يُعْطِيهِ الإِمَامُ حَقٌّ لَهُ ، وَإِنْ بَذَلَ لَهُ غَيْرُ الإِمَامِ لَمْ يَلْزَمْهُ قَبُولُهُ (ابن عابدين 3 / 220 ، 221 وحاشية الدسوقي 2 / 175 ، وروضة الطالبين 10 / 210 والمغني 8 / 348). (1) (2) سورة التوبة / 92. (3).

هـ ژباړه :دجهاد دوجوب بل شرط دادی چې دوسلې ځواک ولري او قدرت په مؤنت دجهاد ضروردی چې ددې نه پرته نه واجيږي ،همدا رانګه په هغه فقير واجب نشو ،چې هغه دومره وس

ونلري، چې داهل وعيال له نفقې نه يې زيات وي او دا يې لاره کې مصرف کړي ،نظر ددې قول له الله تعالى نه چې فرمايې ژباړه :اونه په هغه خلکو څه حرج شته چې دومره څه نه مومي چې نفقه يې کړي)البته که جګړه دښار په څنډو او يې دروازه کې وه،نو بيا خو دنفقې اړتيا نشته .نو ځکه پرې جهاد واجب دى اوکه چيرته دومره فاصله کې و ،چې لمونځ په قصر سره ادا کيده ،نو بيا پرې نه واجبيږي.....که بيا امام يا جهادي مشر ورته دجهاد وسايل برابرکړل، نو پرده يې اخستل واجب دي او جهاد ته به ځي، البته که بل څوک و ، نو بيا پرې ددې اخستل واجب ندي

و - السَّلامَةُ مِنَ الضَّرَرِ:

21 - لا يَجِبُ الجِهَادُ عَلى العَاجِزِ غَيْرِ المُسْتَطِيعِ ؛ لأَنَّ العَجْزَ يَنْفِي الوُجُوبَ ، وَالمُسْتَطِيعُ هُوَ الصَّحِيحُ فِي بَدَنِهِ مِنَ المَرَضِ. وَمِنْ ثَمَّ فَلا يَخْرُجُ المَرِيضُ الدَّنِفُ الَّذِي يَمْنَعُهُ مَرَضُهُ مِنَ الرُّكُوبِ أَوِ القِتَالِ ، بِأَنْ تَحْصُلَ لَهُ مَشَقَّةٌ لا تُحْتَمَلُ عَادَةً.

وَلا يَسْقُطُ وُجُوبُ الجِهَادِ بِالمَرَضِ إِنْ كَانَ يَسِيرًا لا يَمْنَعُهُ ، كَوَجَعِ ضِرْسٍ ، وَصُدَاعٍ خَفِيفٍ ، وَنَحْوِهِمَا ؛ لأَنَّهُ لا يَتَعَذَّرُ مَعَهُمَا الجِهَادُ (حاشية رد المحتار 3 / 221 ونهاية المحتاج 8 / 55 ، والمغني 8 / 348 وكشاف القناع 3 / 36).

وَإِنْ قَدَرَ عَلَى الخُرُوجِ دُونَ القِتَالِ فَيَنْبَغِي أَنْ يَخْرُجَ لِتَكْثِيرِ السَّوَادِ إِرْهَابًا (رد المحتار 3 / 221 ، وفتح القدير 5 / 193).

وَكَالمَرِيضِ مَنْ لَهُ مَرِيضٌ لا مُتَعَهِّدَ لَهُ غَيْرُهُ (نهاية المحتاج 8 / 55).

وَلا يَخْرُجُ الأَعْمَى ، وَلا الأَعْرَجُ ، وَلا المُقْعَدُ ، وَلا الأَقْطَعُ ، لأَنَّ هَذِهِ الأَعْذَارَ تَمْنَعُهُمْ مِنَ الجِهَادِ ، وَقَدْ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {لَيْسَ عَلَى الأَعْمَى حَرَجٌ وَلا عَلَى الأَعْرَجِ حَرَجٌ وَلا عَلَى المَرِيضِ حَرَجٌ (سورة الفتح / 17).}

وَقَالَ: {لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلا عَلَى المَرْضَى وَلا عَلَى الَّذِينَ لا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ (سورة التوبة / 92).}.

فَأَمَّا الأَعْمَى فَمَعْرُوفٌ أَنَّهُ لا يَصْلُحُ لِلقِتَالِ فَلَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ ، وَكَالأَعْمَى ذُو رَمَدٍ ، وَضَعِيفُ بَصَرٍ لا يُمْكِنُهُ اتِّقَاءُ السِّلاحِ ، فَإِنْ كَانَ يُدْرِكُ الشَّخْصَ وَمَا يَتَّقِيهِ مِنَ السِّلاحِ وَجَبَ عَلَيْهِ ؛ لأَنَّهُ يَقْدِرُ عَلَى القِتَالِ ، وَإِنْ لَمْ يُدْرِكْ ذَلِكَ لَمْ يَجِبْ عَلَيْهِ ؛ لأَنَّهُ لا يَقْدِرُ عَلَى القِتَالِ.

وَيَجِبُ عَلَى الأَعْوَرِ وَالأَعْشَى ، وَهُوَ الَّذِي يُبْصِرُ فِي النَّهَارِ دُونَ اللَّيْلِ ؛ لأَنَّهُ كَالبَصِيرِ فِي القِتَالِ

(1) نهاية المحتاج 8 / 55 ط مصطفى البابي الحلبي ، والمهذب 2 / 228 ، وكشاف القناع 3 / 36).

وأَمَّا الْعَرَجُ فَالْمَقْصُودُ بِهِ الْعَرَجُ الْفَاحِشُ الَّذِي يَمْنَعُ الْمَشْيَ الْجَيِّدَ وَالرُّكُوبَ كَالزَّمَانَةِ وَنَحْوِهَا ، وَهُوَ عَرَجٌ بَيِّنٌ ، وَلَوْ كَانَ فِي رِجْلٍ وَاحِدَةٍ ، فَإِذَا كَانَ يَسِيرًا يَتَمَكَّنُ مَعَهُ مِنَ الرُّكُوبِ وَالْمَشْيِ ، وَإِنْ تَعَذَّرَ عَلَيْهِ شِدَّةُ الْعَدْوِ ، فَلَا يَمْنَعُ ذَلِكَ وُجُوبَ الْجِهَادِ ، لِأَنَّهُ مُمْكِنٌ فَشَبَهَ الْأَعْوَرَ.

وَمِثْلُ الْأَعْرَجِ الْأَقْطَعُ وَالْأَشَلُّ وَلَوْ لِمُعْظَمِ أَصَابِعِ يَدٍ وَاحِدَةٍ ، إِذْ لَا بَطْشَ لَهُمَا وَلَا نِكَايَةَ ، وَمِثْلُهُمَا فَاقِدُ الْأَنَامِلِ.

وَلَا تَأْثِيرَ لِقَطْعِ أَصَابِعِ الرِّجْلَيْنِ إِذَا أَمْكَنَ مَعَهُ الْمَشْيُ مِنْ غَيْرِ عَرَجٍ بَيِّنٍ((2) نهاية المحتاج 8 / 55 ، والمهذب 2 / 228.).

و. ژباړه له جسماني امراضو څخه سلامتيا د جهاد لپاره بل شرط دی ، نو په هغه چا جهاد نه واجبيږي ، چې دده توانايي نوي ، ځکه عجز د وجوب سره منافات لري ، او استطاعت هغه دی ، چې جسمي روغ رمټي وي ، نو ويلای شو چې هغه مريض به جهاد ته نه ځي ، چې همیشنی ناروغي ولري ، چې له املې يې له سپرلی او جګړې څخه منع کوي ، يعنې معمولا ده ته ، پکې مشقت او تکليف وي ، اود سر او دغابنونو غوندې عادي او معمولي دردونه د جهاد لپاره مانع نه ګرځي ، دا ځکه چې دا په اعذارو کې نه حسابيږي ، رد المحتار او فتح القدير ليکلي چې : که چيرته جهاد ته تللای شو ، مګر د جنګ طاقت يې نه درلود ، نو پر کفارو د رعب اچولو لپاره به هم د مجاهدينو د صف او ليکو غټولولو يا تکثير لپاره به له جهادي کاروان سره ځي ، او د مريض په حکم کې هغه څوک هم راځي ، چې کور کې مريض ولري ، خو د خدمت لپاره يې دده نه پرته بل څوک نوي ، روند ، ګوډ ، شل او د مزمن مرض لرونکی به هم د جهاد له وجوب څخه خلاص وي ، پرده کوم حرج نشته ، د چا چې سترګې کمزورې وي او د وسلې د ساتلو لپاره ورسره څوک وي ، په ده هم جهاد واجب ګرځي ....

مَنْ يَمْنَعُهُ الإِمَامُ مِنَ الْخُرُوجِ فِي الْجِهَادِ :

22 - صَرَّحَ الشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ بِأَنَّهُ يُسَنُّ لِلإِمَامِ أَوْ نَائِبِهِ مَنْعُ مُخَذِّلٍ وَمُرْجِفٍ مِنَ الْخُرُوجِ وَحُضُورِ الصَّفِّ وَإِخْرَاجِهِ مِنْهُ مَا لَمْ يَخْشَ فِتْنَةً ، بَلْ يُتَّجَهُ وُجُوبُ ذَلِكَ عَلَيْهِ حَيْثُ غَلَبَ عَلَى ظَنِّهِ حُصُولُ ذَلِكَ مِنْهُ وَأَنَّ بَقَاءَهُ مُضِرٌّ بِغَيْرِهِ (نهاية المحتاج 8 / 57 ، والمغني 8 / 351 ، وروضة الطالبين 10 / 240.).

وَالْمُخَذِّلُ مَنْ يَصُدُّ غَيْرَهُ عَنِ الْغَزْوِ وَيُزَهِّدُهُمْ فِي الْخُرُوجِ إِلَيْهِ مِثْلُ أَنْ يَقُولَ : الْحَرُّ أَوِ الْبَرْدُ شَدِيدٌ ، وَالْمَشَقَّةُ شَدِيدَةٌ ، وَلَا تُؤْمَنُ هَزِيمَةُ الْجَيْشِ وَأَشْبَاهُ هَذَا . يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ : {لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالاً وَلَأَوْضَعُوا خِلَالَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ (سورة التوبة / 47.)}.

ژباړه : هغه څوک چې امام يا مشر يې له خروج نه منع کړي ، د جهاد وجوب پرې نشته ، شوافع رح او حنابله رح وايي چې امام ته سنت داده ، چې داسې څوک له خروج څخه را ايسار کړي ، چې هغه مخذل او

مرجف وي ،مخذل هغه څوک دی، چې دسختي ګرمۍ ،يخنۍ ،ډيرو سختيو ،دلښکردشکست او نوروپلمو په جوړولو خلک له جهاده را ايساروي او پښيمانه کوي يې ،مرجف هغه چاته وايي چې خلکوته وايي چې سريه يا هغه دمجاهدينو دلګی له منځه تللی دی او هيڅاپسې کمک او مرسته ورنه وړه اونه ددوئ دکفرو داهلاک وسه وه.. .....همداسې به خليفه يا جهادي امير هغه چاته دجهاد تللو اجازه نه ورکوي ،چې هغه دکفارو لپاره تجسس کوي او مجاهدينو پټ احوال ورته رسوي ،اونه هغه څوک چې دمجاهدينو ترمنځ بدبيني او اختلاف پيدا کوي ،ځکه دا خلک فساد ته لمن وهي او جهادته ضررناک دي ،خوکه بيا هم ددوئ څخه څوک له مجاهدينو سره لاړ ،نو نه به غنيمت کې برخه سهم ورکول کيږي او نه رضيخه يا لږ شئ !ددې څخه .اګرکه دوئ سره مسلمانان نوغلبه ترلاسه کړي ،خو ددوئ اراده فساداو نفاق وه، نو ځکه ترې بې برخې شول ،

قِيل فِي التَّفْسِيرِ: لأَوْقَعُوا بَيْنَكُمُ الاخْتِلافَ ، وَقِيل: لأَسْرَعُوا فِي تَفْرِيقِ جَمْعِكُمْ (المهذب 2 / 230).

وَالمُرْجِفُ هُوَ الذِي يَقُول: هَلكتْ سَرِيّةُ المُسْلِمِينَ وَمَا لهُمْ مَدَدٌ وَلا طَاقةَ لهُمْ بِالكُفارِ وَنَحْوُ هَذَا ؛ لِقَوْلِهِ تَعَالى: {وَلَكِنْ كَرِهَ اللهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيل اقْعُدُوا مَعَ القَاعِدِينَ (سورة التوبة / 46 .)}.

وَلا يَأْذَنُ لِمَنْ يُعِينُ عَلى المُسْلِمِينَ بِالتَّجَسُّسِ لِلكُفارِ ، وَإِطْلاعِهِمْ عَلى عَوْرَاتِ المُسْلِمِينَ ، وَمُكَاتَبَتِهِمْ بِأَخْبَارِهِمْ ، وَدَلالَتِهِمْ عَلى عَوْرَاتِهِمْ ، أَوْ إِيوَاءِ جَوَاسِيسِهِمْ ، وَلا مَنْ يُوقِعُ العَدَاوَةَ بَيْنَ المُسْلِمِينَ وَيَسْعَى بِالفَسَادِ ، لِلآيَةِ: {وَلَكِنْ كَرِهَ اللهُ انْبِعَاثَهُمْ} ؛ وَلأَنَّ هَؤُلاءِ مَضَرَّةٌ عَلى المُسْلِمِينَ فَيَلْزَمُهُ مَنْعُهُمْ (المغني 8 / 351 .).

وَإِنْ خَرَجَ مَعَهُ أَحَدُ هَؤُلاءِ لَمْ يُسْهَمْ لَهُ ، وَلَمْ يُرْضَخْ ، وَإِنْ أَظْهَرَ عَوْنَ المُسْلِمِينَ ؛ لأَنَّهُ يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ أَظْهَرَهُ نِفَاقًا وَقَدْ ظَهَرَ دَلِيلُهُ ، فَيَكُونُ مُجَرَّدَ ضَرَرٍ فَلا يَسْتَحِقُّ مِمَّا غَنِمُوا شَيْئًا ، وَإِنْ كَانَ الأَمِيرُ أَحَدَ هَؤُلاءِ لَمْ يُسْتَحَبَّ الخُرُوجُ مَعَهُ ؛ لأَنَّهُ إِذَا مَنَعَ خُرُوجَ المُخَذِّلِ ، وَالمُرْجِفِ ، وَالجَاسُوسِ وَنَحْوِهِمْ ، تَبَعًا فَمَتْبُوعٌ أَوْلى ؛ وَلأَنَّهُ لا تُؤْمَنُ المَضَرَّةُ عَلى مَنْ صَحِبَهُ (المغني 8 / 351 ، وروضة الطالبين 10 / 240 .).

هَذَا ، وَكُلُّ عُذْرٍ مَنَعَ وُجُوبَ الحَجِّ مَنَعَ وُجُوبَ الجِهَادِ إِلا خَوْفَ طَرِيقٍ مِنْ كُفَّارٍ ، فَإِنَّهُ وَإِنْ مَنَعَ وُجُوبَ الحَجِّ لا يَمْنَعُ وُجُوبَ الجِهَادِ ؛ لأَنَّ مَبْنَى الجِهَادِ عَلى رُكُوبِ المَخَاوِفِ.

که چيرته امير دداسې خلکو څخه و ،نو بيا مستحب داده چې مجاهدين يې تر مشرۍ لاندې جهادته لاړشي.....په لنډه به ووايو چې هر هغه عذر چې دحج وجوب منع کوي ،نو هغه دجهاد وجوب هم منع کوي صرف لاره کې ددښمن ويره يې نشي منع کولای ،دا که څه هم حج منع کوي ،خو جهاد لپاره مانع نه ګرځي او دا ځکه چې مبنی دجهاد په مخاوفو او ويرو باندې ده.

ژباړه: ډاکټر غنچه ګل ارمان

د صحرا زمری

عمر مختار

ژوند کړه او زده کړه:

عمر مختار په ۱۸۶۲م کال کې د لیبیا په ختیځ کې پرتې، دفنة نومي سیمې په جنزور کلي کې نړۍ ته سترګې وغړولې. په کوچني توب کې د پلار له سیوري بې برخې شو او د یتیم ماشوم په توګه رالوی شو.

لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي، جنزور، کې وکړې او بیا جغبوب نومي سیمې ته لاړ او هلته یې د نورو علماوو تر څنګ د سنوسي اصلاحي حرکت له مخکښ امام سید المهدي السنوسی څخه زده کړې وکړې. په دې اتو کلونو کې یې عربي ژبه، شرعي علوم ولوستل او قران مجید یې حفظ کړ، مګر څرنګه یې چې غوښتل، هغه ډول یې تعلیم بشپړ نه شو کړی.

استاذ سید مهدي سنوسي د ده له نجابت او د عقل له پوخوالي اغیزمن شو، همدا لامل وو چې د علماوو، قومي مشرانو او نورو مخورو په مجلسونو کې به یې نوم د هر چا په ژبه یادیده. سید المهدي به د ده په هکله ویل: ((که مونږ سره د عمر المختار په څیر لس کسان وي، زمونږ له پاره بس دي.((

د کاینناتو خالق پرې داسې زیږ بدوي غږ، خوږه ژبه، ساحرانه جاذبیت او په خطاب کې د اغیزنو کو کلماتو د غوراوي وړتیا پیرزو کړې وه چې د اوریدونکو زړونه به یې تسخیرول.

جهاد او مبارزه:

عمر المختار د مجاهدینو په صفونو کې د لویدیځ سودان په سیمو کې په لیبي فرانسوي جګړې کې وجنګید. نوموړي د جهاد تر څنګ د اسلام د لارې د بلونکي په توګه هم خپل مسؤلیت تر سره کړ.

کله چې صلیبي ایټالویانو د ۱۹۱۱م کال د سپتمبر په ۲۹مه د عثماني خلافت پر ضد، چې هغه مهال یې لیبیا هم یوه برخه وه، جنګ اعلان کړ، عمر مختار د جهاد او مقاومت د صفونو په تنظیمولو پیل وکړ، او د صلیبي غلیم پر وړاندې یې سینه ډال کړه. ایټالویانو ته یې په ډیرو جنګونو کې د سر او مال درانه تاوانونه واړول.

عمر مختار او نورو سرښندونکو مجاهدینو په کلونو، کلونو خیلې مبارزې ته ادامه ورکړه، تر دې چې د ایتالیې فاشیست موسولیني یې د جګړې پر کړنلارې بیاکتنې ته اړ کړ. عمر مختار ته یې د خبرو اترو وړاندیز وکړ. هغه هم د نورې ویجاړتیا و او ویرانې د مخنیوي په خاطر وړاندیز ومانه او د ۱۹۲۹م کال د اپریل په ۲۰مه یې ور سره خبرې اترې پیل کړې. کله چې عمر مختار په دې وپوهید چې په پایله کې ترې غلیم د مال او چوکۍ د ژمنو په بدل کې د هیواد پریښودل، جهاد ته د پای ټکی کیښودل او تسلیمیدل غواړي، د غلیم ټول وړاندیزونه یې رد کړل او د یوه شریف او ستر مجاهد اتل په توګه یې د بري یا شهادت تر ورځې د جهاد ادامه غوره کړه.

عمر مختار چې کله د غلیم پر چل او درغلي پوه شو، د ۱۹۲۹م کال د اکتوبر په ۲۰مه یې د هیواد بچیان مخاطب کړل او ترې ویې غوښتل چې د یرغلګرو د لوبو په وړاندې ویښ واوسي.

زمری د غلیم په ولکه کې:

د ۱۹۳۰م په اکتوبر کې په (سانیة) جګړې کې د دغه اتل عینکې وغورځیدې او چې کله ایتالوي عسکرو ته په لاس ورغلې، هغوی خپل مشر تابه ته یوړې. کله چې ګراتسیاني ولیدې، ویې ویل: اوس یې عینکې په لاس راغلې، یوه ورځ به یې سر په لاس راشي!

د ۱۹۳۱م کال د سپتمبر په یوولسمه نیټه عمر مختار (سلنطة) نومي ځای کې له خپلو شهسوارانو سره څار کاوو چې د ایتالوي دُښمن سترګې پرې ولګیدې. له خوا او شا یې محاصره کړ. عمر مختار د محاصرې د ماتولو او ځان ایستلو هڅه وکړه، تر وسه، وسه وجنګید، مګر کله یې چې اس د غلیم پر ګولیو ولګید، د اس له غورځیدو سره دا نومیالی مجاهد هم پرپووت، او لاس یې داسې تپي شو چې نه یې پرې توپک چلولی شو، او نه یې له ځانه دفاع کولی شوه. تر دې چې صلیبي دُښمن ته په لاس ورغی او هغوی ژر تر ژره د بنغازي لوی محبس ته ولیږدوو.

کله چې د دغه اتل مجاهد د نیولو خبر د هغه غلیم، ګراتسیاني، ته ورسید، هغه پرې ب و ر نه کوو، ځکه چې هغه د ده د پرله پسې ګوزارونو له کبله د ذهن د ارامولو په موخه پاریس ته تللی وو. ګراتسیاني باور نه کاوو چې د صحرا زمری به ریښتیا د دوی په منګولو کې اسیر شوی وي، زړه یې وار نه کاوو، ځکه یې نو د لیدلو له پاره په ځانګړې الوتکې کې بنغازي ته راغی او امر یې ورکړ چې عمر مختار دې د ده دفتر ته راوستل شي چې دی یې په خپلو سترګو وګوري.

ګراتسیاني د سپتمبر په ۱۴مه بنغازي ته ورسید، او په سبا یې د ځانګړې محکمې د دایرولو اعلان وکړ.

کله چې ګراتسیاني ته وروستل شو، ترې ویې پوښتل: د څه له پاره دې د فاشیستي حکومت پر وړاندې دومره پرله پسې او سخته جګړه کوله؟

شیخ ځواب ورکړ: زما د دین او زما د هیواد په خاطر!

ګراتسیاني: ستاسې څه باور وو چې پ‌ی به څه تر لاسه کړئ؟

عمر ځواب ورکړ: هیڅ شی، مګر ستاسې شړل... ځکه چې تاسې نیوا کګر یئ. پر مونږ جګړه فرض ده، او بری د خدای له لوري دی!

ګراتسیاني: ته چې د دومره جاه او نفوذ څښتن یې، که ته پاڅون کوونکو ته امر وکړې، په څو ورځو کې به هغوی زمونږ واکمني ومني او وسله به کیږدي؟

اتل ځواب ورکړ: زه هیڅ شی نه شم کولی، او زما امر په دې هکله هیڅ اهمیت نه لري. مونږ قسم کړی چې یو به له بل پسې مرو، او دا چې نه به تسلیمیږو او نه به وسله ږدو!!!

ګراتسیاني وایي چې کله یې را څخه مخ ګرځاوو، د هغه له هیبته مې زړه وریږدید. سره له دې چې ما ډیر صحرایي او د نړیوالې کچې جګړې په لار اچولې وې، مګر سره له دې مې هم شونډې رپیدې او نورې مې خبرې نه شوې کولی، ځکه مې نو امر وکړ چې بیرته یې محبس ته بوځي او شپې یې محاکمې ته وړاندې کړي.

د عمر مختار له پاره صلیبي غلیم یوه بیړنۍ محکمه جوړه کړه، او په همدغې ناستې کې یې پرې د اعدام حکم صادر کړ.

د تلپاتې کور په لور:

د ۱۹۳۱م کال د سپتمبر په ۱۲مه نیټه ور ته په زرګونو خلک او ټول سیاسي بندیان راټول کړل شو، او دا اویا کلن زمری لاس ترلی د دار سر ته راوستل شو .صلیبي غلیم خپل ټول شته ځواکونه احضار کړي وو، الوتکې په هوا ګرځیدې چې د شور له کبله د اتل عمر مختار اواز څوک وا نه وري!

د سهار په پوره نهو بجو عالم، د خدی د لارې بلونکی، او د اسلام د لارې دغه ستر مجاهد، عمر مختار، جلاد ته وسپارل شو، او څو دقیقې وروسته یې خپل روح د کینات و رب ته وسپاره. ان لله وانا الیه راجعون. روح یې ښاد، او لار یې له لارویانو ډکه!

دملګرو ملتونو اسامبلۍ کې داوباما اعلان او ترشا پټ شوم اهداف

حسن زوی

دملګرو ملتونو په اسامبلۍ کې د سږ کال ۲۰۱۳ په عمومي غونډې کې چې د نړۍ د کابو ټولو هېوادونو مشرانو پکې ګډون کړی و د امریکا ولسمشر د ټولو ګډونوالو په حضور کې د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل چې دالقاعدې مرکزي هسته له منځه وړل مو هدف وچې امریکا داهدف ترلاسه کړی نو نړیوال ایتلاف په راتلونکي ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې جګړې ته د پایې ټکی ګدي او د یاد کال تر پایه به ټول بهرني متحارب ځواکونه له افغانستان څخه ووځي ،،

دا حقیقت ټولو نړیوالو ته لکه د لمر رڼانه دی او پدې اړه هیڅوک هم د دلایلو یاشواهدو وړاندې کولو حاجت نه محسوسوي چې امریکا او د ناټو په نوم د صلیبي اتحاد اشغالګرو ځواکونو د افغان مېړنیو مجاهدینو د ملاماتونکو ګوزارونو او افغان مومن غیرتي اومجاهد ملت د اوږد جهادي مقاومت او احساس په وړاندې له رسوایۍ ډکه ماتې خوړلی ده ؛ ماتې خوړلو او روحیات بایللو ټولو بهرنو فوځیانو اوس دلوړوعزائمونه دبرخمنو ، اتلو اوفاتحو مجاهدینو په مقابل کې د مخامخ جګړې توان په کلی ډول له لاسه ورکړی ځکه خو د جنګ د هر ډګر نه په تېښته دي اوپه ډېر سرعت د خپلو فوځي اډو پورې خپل ځانونه محدود وي خو دمجاهدینو په مېړانۍ او فدا کارۍ آفرین چې دجنګ له ډګرونو دا تېښتېدلي صلیبي ځواکونه په خپلو مرکزونو کې هم په ارام نه پرېږدی ، په هېواد کې یې یوه فوځي اډه هم د دوئ د حملو نه مصئونه نده پاتې په هر مرکز یې ډلې ډلې فدایان ورننوځي او درانده مالي او ځاني تاوونونه وراړوي ؛ او دیوې اډې نه بلې ته تلونکی داشغالګرو یوکاروان تر یې هم خوندي نه شي تېرېدای ؛ همدا نن د دسمبر په ۳۰ مې نېټې چې دا څو کرښې لیکم په هلمند کې د شوراب

امریکائي ستري هوايي اډې د يوې دروازې مخې ته يو مجاهد خپل د بارودو ډک کرولا موټر د غاصبو فوځيانو د ټانکونو سره جنګولی چې له امله يې ۱۲ امریکايي فوځيان مړه او ۴ ټانکونه يې تخريب شول.

داشغالګرو ځواکونو پر ضد چې کله په افغانستان کې جګړه ګرمه او ددې ځواکونو ځاني او مالي تلفات د هرې ورځې نه بلې ته په زياتېدو شول نو هماغه وخت ددوئ لپاره د افغانانو د تاريخ رامخې ته کولو ، په ناسمو پرېکړو د بيا غورکولو او د دې هېواد نه د پښوسپکولو ښه مناسب وخت وترڅو له يوې خوا د بې ګټو سترو مالي او ځاني تاوانونو نه خوندي پاتې شوي واى او له بلې خوا د غريبو افغانانو پر ضد بې نتيجې ظلم او وحشت ته د طول ورکولو له امله د امريکا بدنامي هم دومره نه واى زياته شوې چې دا ځومره زياته شوه خو د غاصبو ځواکونو له بده مرغه چې مشري يې دهغه امريکا په غاړه وه چې ټول تاريخ يې په غصب او اشغال کې تېرشوى او په نړۍ کې ځان د يواځني لوى ځواک ګڼلو له امله په خپلو مادياتو ، عصري ټيکنالوژۍ او په جنګي وسايلو دومره مغروره وه چې پرې د مجاهدينو له لورې د ښو قوي حملو او ورته د تاوانونو رسولو سره سره هم لاددې خبرې منلو ته نه تيارېده چې طالبان داسې قوت دى چې د نړيوالو غاصبو ځواکونو پر ضد د اوږدې مودې لپاره جنګ جارى ساتلاى شي ؛ امريکا بيا مجبوراً د مجاهدينو زور ومنلو خو ايله هغه وخت چې جنرالانو يې دا اعترافونه پيل کړى و چې ،،ددې جنګ ګټل زمونږ لپاره نه شوني دي ،،

هغه وخت هم ددې و چې امريکا د جنګ دلازياتو تاوانونو نه د ځان او خپلو متحدينو د ژغورلو لپاره د جنګ ودرولو او زمونږ د هېواد اشغال ته دپې ټکي اېښودلو معقول اقدام کړى واى خو تعجب دى د امريکا په حريص نظر او فکر چې پکې د ناکامۍ په دې حالت کې لاهم په جنګ کې د نغښتو اهدافو امېدونه ترهغې تاوېدل چې خبره د ناټو تر ټوټه کېدو او د داسې شرمونکې ماتې راورسېده چې اوس يې سره دټولو کونبښونود پټولو ټول امکانات له منځه تللي .

اوباما په خپلې وينا کې ويلي دي چې مونږ خپلو اهدافو ته رسېدلي يو او دالقاعدې هسته مولە منځه وړېده ؛ اوباما په خپلې وينا کې د خلکو په سترګو کې دخاورو اچولو او په خپلې ماتې د پردې راغورولو هڅې کړيدي خو دا ناکامې هڅې دي ؛ اوباما په دوه ګوتو لمر پټول غواړي خو لمر په دوه ګوتو نه پټېږي ؛ ټوله نړۍ پدې پوهېږي چې افغانانو پخپله د خپل هېواد دازادۍ او دلته د يو خپلواک سوچه اسلامي واکمنۍ دپيا راوستلو لپاره داشغالګرو پر ضد دکمزورو چيريکي عملياتو نه جهد پيل او دولس کلونه پس يې د ډېرو سترو قربانيو په برکت

دې ځای ته راورسولو چې بهرني اشغالګر یې ترخپلو فوځي اډو او داخلي لاسپوڅي یې دولایتونو تراوولسوالیو ترمرکزونو محدود کړیدي او پدې منځ منځ کې یې بهرنیانو ته دومره سترځانې او مالي تاوانونه وراړولي دي چې له امله یې نور د بهرنیانو لپاره دلته پاتې کېدل ناشوني شویدي ځکه خو هریو زموږ د هېواد نه د تېښتې نېټې اعلانوي او د شرمونکې ماتې سره یو ځای د دې هېواد نه کډې باروي ؛ طالبان په یوې یوې حملې غونډې غونډې ولسوالئ نیسي ؛ دولایتونو د سقوط طرف ته خبره په ډېرې تېزۍ روانه ده نو اوس دې نړیوال پخپله قضاوت وکړي چې آیا امریکا خپل اهداف ترلاسه کړي که د ډېرې تاریخي او سترې ماتې سره یو ځای زموږ له ټاټوبي تښتي ؟

په رسمي ډول د جنګ بندول او د خپلو فوځیانو ویستل اوس هم ښه اقدام دی لږ تر لږه د باقي پاتې بهرنو فوځیانو ژوند به وژغورل شي ؛ په افغانانو تپل شوې جګړه به بنده او دلته به یوه دامن نه ډکه فضا قائمه شي.

خو اوباما چې په خپلې وینا کې د متحاربو توری زیات کړی نو داسی ښکاري چې د امریکا په اوړو کې لاهم ډېره زیاته شګه ده ؛ امریک چې د کابل اداري سره د امنیتي تړون رامنځته کولو ته نېږدې شویده ؛ غواړي چې د دې تړون په نوم د ۲۰۱۴ نه پس هم خپل اشغال اوږد او خپلو عسکرو ته قانوني مصئونیت ورکړي ؛ معلومېږي دا چې د امریک ارادې ښه نه دي او لاهم خپلو شومو اهدافو ته د رسېدلو کوششونه کوي خو امریک باید پدې پوه شي چې افغان هر بهرنی فوځي ته د غاصب په نظر ګوري او دلاسپوڅې اداري سره د یو کاغذ په امضا کولو اشغالګرو ځواکونو ته د سپینو بازانو په نظر نه شي کتلای.

افغانان پدې باوري دي چې امریک چې د ټولو متحدینو سره یو ځای یې د مجاهدینو په مقابل کې ماتې وخوړه د ۲۰۱۴ نه پس پاتې کېدونکي دا څوزره فوځیان به یې هم د سخت شکست سره مخامخ او بیا به ډېر ژر همداسې یو اعلان وکړي لکه چې نن یې وکړو خو هغه به ډېر شرمونکې وي نو دا اوس په امریکا ده چې ټول فوځونه وباسي او که ځان د یو بل ستر شرم سره مخامخ کوي ؟

د اسلام غزوات اوسرايا

شپارلسمه برخه

ابو ظهير

سويق غزوه

سويق غزوي ته رسول الله (ﷺ) دذی الحج په ۵ مه نيټه ديکشنبي په ورځ روان شو ، په مدينه منوره کې يې ابولبابه بن المنذر العمری خپل نايب اوخليفه وګرځاو (الطبقات الکبير ۱توک ۲۲۲مخ)

ځېرنه: دادعلامه ابن سعد روايت دی چې دذي الحجې مياشت وه، ليکن دنورو تاريخ پوهانو اوسيرت ليکونکو په رايه: يادذي الحج وه يا محرم، اويه صفر وه .

خوبنا په هرصورت ددې غزوي شاليد په بدر کې دمشرکانو شکست و ، کله چې هغوئ مکي مکرمې ته خجالت اوشرمنده ستانه شول،ابوسفيابن حرب دا سوګند و خوړ چې څومې په مدينه حمله نه وي کړي، له رسول الله (ﷺ) اودهغه له ملګرونه مې غچ نه وي اخستی، ترهغه به دجنابت غسل نکوم په بل روايت تيل يا خوشبو به نه لګوم دزهري په روايت هغه له دوه سوه سپرو سره يوځای ذی الحج په شروع کې روان شو ،دابن کعب په روايت له ځلويښتو سپرو سره ؛ دعلامه ابن سعد په روايت:کله چې ابوسفيان النجديه ته ورسيد دشپې بنو نضيرته ورغی ، "حيي بن اخطب "ته يې دروازه وټکوله ،خوله هغه څخه درسول الله (ﷺ) اود دملګرو حالت يې څانته معلوم کړي، هغه ورته ددروازې پرانستلونه انکار وکړ، بيا "سلام بن مشکم" ته يې دروازه وروټکوله ، هغه دروازه بيرته کړه ، ميلمستيا يې ورکړه شراب يې پرې وڅکل اودرسول الله (ﷺ) له حالت يې خبر کړل

کله چې دمه شول بيا د مدينې منورې نه ددرې ميله په واټن بيرون "العريض" سيمې ته لاړل، دخرماوو په يو باغ کې يې دابن سعد په روايت دانصارو يومزدورقتل کړ او د زرقنې په روايت :يوانصاري اويو مزدوريې قتل کړل ،ونو او وانښوته د اورونو اچولو وروسته تښتيدل دابن سعد په روايت. څوکورونه يې هم وسيزل (ابن سعد ۱توک ۲۲۲مخ)

کله چې رسول الله (ﷺ) خبر شو ، سملاسي يې صحابه راټول کړل له مهاجرينو او انصارو څخه يې دوه سو تنه واخستل ،د ابوسفين اودهغه دملګرو دپل په نښو په هغوئ پسې روان شو ، ابوسفيان اودهغه ملګري په منډه اوتيښته وو ، ددې لپاره چې رسول الله (ﷺ) ته ژوندې په لاس ورنشي دخپلو بارونو دسپکولو په غرض يې څوله مميزو څخه خلتي چې څانو سره يې دخوراک اوله لاري دتوښې په غرض

راوړي وي په لار کې وغورځولي ،هغه ټولي دمسلمانانو په لاس ورغلي، له دې وجې د دې غزوي نوم هم دسويق غزوه يا "ستوو الاغزوه" راغلی (زرقاني ۱ټوک ۴۵۸مخ ابن سعد ۱ټوک ۲۲۲مخ)

هغوی مسلمانانو ته په لاس ورنغلل، په دې سفر کې رسول الله (ﷺ) پنځه ورځې له مدينې منوري نه بيرون و، دذی الحج په ۹ نيټه بيرته مدينې ته ستون شو ،دذی الحج په لسمه يې دلوی اختر دوه رکعته لمونځ ادا کړ ،دوه مالونه يې قرباني کړل او هم يې مسلمانانو ته د قربانې حکم وکړ دا د مسلمانانو لومړی قرباني وه (زرقاني ۱ټوک ۵۲۰مخ)

غطفان غزوه:

له سويق غزوي څخه د ستنيدو وروسته د ذی الحج پاتې ورځو کې رسول الله (ﷺ) په مدينه منوره کې وه ،چې ورته خبر راغی چې بني ثعلبه ، اوبني محارب (کوم چې د غطفان قبيلي ښاخونه دي) د نجد په ذي امر کې د دې لپاره راغونډ يږي ،چې د مدينې منوري په شاوخوا دلوټ تالان کولو لپاره يرغل وکړي او دبنې محارب قبيلي يو تن "دعثور بن الحارث غطفاني يې سردار دی ، دا دهجرت درېيم کال (پينځو يشتمه مياشت) و دابن کثير په روايت: د محرم مياشت وه اودابن سعد په روايته د ربيع الاول وه ، رسول الله (ﷺ) په غطفانيانو باندې دبريد په موخه له مدينې منوري نه دنجد په لور روان شو ، مدينه منوره کې يې عثمان بن عفان (ﷺ) خليفه پريښود ، له ځان سره يې څلور سوه پنځوس صحابه واخستل ،غطفانيان چې د رسول الله (ﷺ) له ورتګ خبر شول هغوئ غرونو ته وتښتيدل ، په "ذي القصه "نومي ځای کې مسلمانانو "دبني ثعلبه" يو تن ونيو، هغه جبار نومید ، رسول الله (ﷺ) ته ور وستل شو ، هغه وويل: کله چې خلک ستا له راتلو خبر شول ، نو غرونو ته خواره شول ، رسول الله (ﷺ) هغه ته داسلام بلنه ورکړه ، هغه مسلمان شو او له بلال (ﷺ) سره يې کړ ، دابن کثير په وينا: رسول الله (ﷺ) د صفري ټوله مياشت هم هلته تيره کړه، خو هيڅوک يې مقابلي ته رانغلل ، رسول الله (ﷺ) اوصحابه وو هغوئ ليدل چې د غرونو په څوکو باندې وو خو جنګ ونشو ، پرته له جنګه رسول الله (ﷺ) بيرته مدينې منوري ته ستون شو (البدايه والنهايه ۴ټوک ۲مخ دابن سعد ۱ټوک ۲۲۵مخ)

په دې سفر کې دا واقعه هم و شوه ، رسول الله (ﷺ) اوصحابه چې کله بيرته ستنيدل ،په لار کې ورباندې باران وشو ،دکوم په وجه چې د رسول الله (ﷺ) اوصحابه وو کالي لامده شول ، رسول الله (ﷺ) خپل دتن کالي په يوه ونه ددې لپاره وغورول څو وچ شي خپله د هم هغې ونې لاندې څملاست ، اعرابيانو وليده ! هغوئ خپل سردار "دعثور بن الحارث" ته خبر ورکړ چې محمد (ﷺ) ددې ونې لاندې يواځي ويده دی ، ته ورشه ! قتل يې کړه ، "دعثور" ځان سره يوه نيمه تيره توره واخسته او راغی د رسول الله (ﷺ) له سر مېړې له بره ودريد اووي ويلي:

اې محمده ! وايه نن به تا څوک ځما له توري وژغوري !

رسول الله (ﷺ) وويل: الله تعالى به مې ژغوري !

درسول الله (ﷺ) ددې وينا سره سم جبريل امين هغه سينه کې په سوک وواهه ، توره يې له لاس نه پريوته، رسول الله (ﷺ) توره پورته کړه ، "دعثوربن الحارث "ته يې وويلي:ته وايه !نن به ت څوک ځما له توري وژغوري ! هغه وويلي:هيڅوک نه !اسلام يې راوړو داکلمه يې وويله: لا اله الا الله محمد الرسول الله اوژمنه يې وکړه چې نوربه تا سره دمقابلې لپاره خلک راټول نکړم ، رسول الله (ﷺ) "دعثور بن الحارث "ته دهغه توره بيرته ورکړه "دعثور "چې ترڅه ځايه لاړ بيرته راوګرځيد ،رسول الله (ﷺ) ته يې عرض وکړ: "والله !ته له ما غوره يې" ! کله چې خپل قوم ته ورغی ،خلکو ورته ويلي: ته چې د کومي خبري پسې لاړوي هغه څه وشول ؟ "دعثور "ورته ټوله کيسه تيره کړه اووي ويلي: ناڅاپه ځما په سينه دسوک ګذار راغی ولګيد ، چې په وجه يې زه ولړزيدم اوپريوتم ! په دې ځما باور راغی ، چې سوک وهونکي ، فرښته وه ، له دې وچې ما اسلام قبول کړ اودرسول الله (ﷺ) په رسالت ګواهي ورکوم !

هغه خپل قوم ته داسلام بلنه ورکړه چې په اړه يې بيا دا ايت نازل شو :

يا ايها الذين امنوا اذكروا نعمة الله عليكم اذ همّ قومٌ ان يبسطوا اليكم ايديهم فكفّ ايديهم عنكم (المائده ۱۱ ايت) اې دايمان څښتنانو دالله (ﷻ) هغه انعام يادکړئ کله چې يوه قوم اراده وکړه چې په تاسو لاس پورته کړي الله (ﷻ) دهغوئ لاس ونيو !

امام بيهقي وايي: ددغه ډول واقعه په "ذات الرقاع غزوه "کې پېښه شوي ، علامه واقدي په "غطفان غزوه "کې راوړي ، دځينو په وينا: که دا محفوظ وي نوبيا دا دواړه جلا واقعي دي يوه په غطفان غزوه کې پېښه شوي اوبله په ذات الرقاع غزوه کې (البدايه والنهايه ۴ټوک ۲مخ ابن سعد ۱ټوک ۲۳۲مخ) زرقاني وايي: چې دمحققينو په رايه دا دواړه جلا ، جلا پېښې دي (۲ټوک ۱۲مخ)

بحران يادبنوسليم غزوه:

له غطفان غزوي څخه د رسول الله (ﷺ) دستنيدو وروسته په "ربيع الثاني "کې خبر راغی چې په بحران نومي سيمه کې چې د "بحران الفرع "په شاوخوا کې ده، د "مديني اوفرع "ترمنځ "۹۲ "ميله مسافت دی ، هلته "بنو سليم "(دچا په وجه چې دې غزوي ته د بنوسليم غزوه هم ويل شوي) داسلام په مخالفت کې راغونډيږي ! د دې خبر وروسته رسول الله (ﷺ) ددې سوه صحابه وو سره يوځای دبحران په لور روان شو ، مدينه منوره کې يې عبد الله ام مکتوم (ﷺ) نايب پرېښود اوپه ډېره تيزی يې ځانونه بحران ته ورسول ، هلته راغونډ شوي خلک وتښتيدل ، له دې وچې دجنګ نوبت رانغی ، هلته ټول لس ورځې تم شو ، پس دلسو بيرته مدينې منوري ته ستون شو (ابن سعد ۱ټوک ۲۲۷مخ) نوربيا

بدخشان او طالبان

خبیر احمد ' مجاهد '

له ښایسته ډیرې مودې راهیسې له بدخشان څخه د طالبانو د بریاوو راپورونه اوریدل کیږي ، چې هلته په ځینو ولسوالیو کې هغوی قبضه اوولکه لري او څوځله یې د کابل رژیم ستر عملیاتونه هم په شاوتمبول ؛ خو د کابل رژیم د دفاع اوکورنیو چارووزارت مصنوعي جنرالان د دغو راپورونو په نشر سخت ناراضه کیږي اوله جزیاتو ورکولو یې ډډه کوي ، ترڅو د بدخشان ولایت له پیښو څخه خلک ناخبره وساتي.

دغو پلاستیکي جنرالانو له تیرو ۱۳ کلونو راهیسې د خپلو تبلیغاتو ماشینونه ټول د افغانستان جنوب اوختیځ ته نصب اومتوجه کړي اوچې هرڅه به هلته پیښ شول ، نو لنډ په لنډ به یې پره په ګاونډي هیواد پاکستان وروا ړوله چې وسلوال له پولې په اسانۍ راا وړي بریدونه کوي اوبیرته ځي ، یاني دغو شرمیدلو ددې پرځای چې اصلي خبره افغانانو ته وکړي اوپه خپلې ناتوانۍ اوشکست باندې اعتراف وکړي ، سمدلاسه ګاونډی هیواد پکې تورنوي اویولوی ببوترې جوړوي.

له تیرو ۲ او ۳ کلو نور اهیسې د شمال په کندوز ، تخار ، او نوروبرخوکې طالبانو د یام ورنظامي تحرکات او لاسته راوړنې درلودي ، خو د الرخوري میډیا د کابل چارواکو په خاص رمز او هدایت که به هرڅومره لویه پیښه هم وشوه پرده به یې پرې واچوله اوخبرې اڅانسونو او رسنیو ته به یې هم ګوت څنډنه کوله چې پام خبر کټ مټ خپو رنکړي چې بیا طالبان روحیه پیدا کوي اوپه شمال کې د هغوی نفوذ زیاتیږي.

خو د بدخشان په ولایت کې د طالبانو له لوري (په ځانګړې ډول د سرکال بریالیو عملیاتو) چې په نتیجه کې یې ګڼې سیمې اوولسوالی لاس ته ورغلې ، خبره یې د کابل ډنډورچیانو له ګوتو راوویستله

اوپه رومبی وارخلکو ته ښکاره اوپه ډاګه شوه چې طالبان تنها په جنوب اوختیځ اومرکزي ولایتونوکې نفوذ اوسلطه نلري ، بلکې دبدخشان په څیرهغه ولایت اوستراتیژیکه سیمه باندې چې تلوالې او کابل رژیم هغه دځان لپاره بې خوفه اوبې خطره ځمکه بللې وه هم پراخ واک اودولس مرسته لري.

دوه اوونۍ وړاندې دکابل ددفاع بزدله وزیر (بسم الله خان) بدخشان ته په یوه سفر کې دوردوج ولسوالی کې په یوې څنډې کې صرف ددوساتولپاره له چورلکې ښکته شو اواخو ادیخوایې دوربین واچواوبیایې دهوا په څیوکې اعلان وکړ چې نوموړي ولسوالی یې دطالبانو له لاسه وویستله ؛ ولې نه یې دولسوالی تعمیرچاته وښوداونه یې هم هغه دعوه ثابته کړه چې لسګونه طالبان یې دولسوالی دنیولو په مهال مړه اوژوبل کړي !؟

خو یوه اونۍ لا وتلې نه وه چې دبدخشان غیورو مجاهدینو نه داچې دوردج ولسوالی په ګډون پراخې اوپاتې سیمې لاندې کړې او د رژیم دری زره مجهزو عسکرو اوقوتونوته یې شرمناکه تیښته ورکړه ، دوه نورې مهمې ولسوالی (کران اومنجان) هم فتحه اودډول وسلو اوتجهیزاتو ډیپوګان اوزخیرې یې لاسته ورغلې.

دبدخشان اجیروالي ،چې دادیب په نامه یادیږي ددې پرځای چې خپل شکست ومني اوحقایق ووایي ، بیرته یې هغه زړه ببولاله اوخندنی وجه تکرار کړه چې د (کران اومنجان) ولسوالیو په نیولو کې دګډونډي هیواد استخباراتي شبکې لوی رول لوبولی !!!

ښایي درانه لوستونکي خبروي چې په بدخشان کې داسلامي امارت دولایتي اوجهادي تشکیل مسؤلین او افراد چې داځوکاله تاکل شوی یوخو ترډیره حده تغیرنده پکې راغلی ، مهمه خبره داده چې هغوی په خپلو دیربطه سیمو او علاقو کې ژمی اودوبی میشت وي اوحتی شاوخواولایتونو ته هم ندي تللي اوراغلي ، علت یې دادی چې بدخشان غرنی ولایت دی اودتګ اوراتګ پیچلی لاري لري اوبیګاونډي هیواد پاکستان ته تګ اوراتګ خو له حده زیات کړاونه لري ، چې دنا ادیب په وینا دې له پاکستان څخه طالبان تمویل اواکمالات اوپلان دې له هغه ځایه ورته راورسیږي !!؟

له بل لوري دبدخشان عام وګړي اومهم غیري دولتي شخصیتونه هم له رسنیو سره په خبروکې دبدخشان دوالي ، تورونه بې ځایه بولي اوټولې پرې دچارواکو په غاړه وراچوي ، ددوست په نامه دبدخشان دفیض اباد استوګن وایي چې ددولتي چارواکو په خبرو باید هیڅ باورونشي ، ځکه وردوج له ډیره وخته دطالبانو په لاس کې ده ، ولې دخپل شرم دپټولو لپاره یې پرې اعتراف نه کاوه ، هماغه وو چې دوه نورې ولسوالی هم طالبانو ترې ونیولې ، دهغه په اند مهم علت یې دادی چې دبدخشان اداره په فساد ، قاچاق اودرغلیو کې تردو غوږونو پورې ملوثه ده اوهغوی پرته له خپلو شخصي منفعو

دولس ستونزو اومشکلاتو ته هیڅ ارزښت نه ورکوي ، له همدې امله خلکو له طالبانو سره همکاري وکړه اوولسوالی طالبانوونیولې.

ددوست دغه خبري چې هشت صبح ورځپاڼې رااخیستي وایي: دوردوج ولسوالی طالبانو دیوې ورځې لپاره په تکتیکي ډول پرېښوده ، هماغه وو چې بسم الله خان اعلان وکړ چې نوموړي ولسوالی هغوی ونیوله ، ولې په سباورځ طالبان بیرته راښکاره شول دکمینو نو اومخامخ حملو په نتیجه کې یې دولتي قوتونو ته درانه زیانونه واړول اوهم یې ولسوالی بیرته ترلاسه کړه اوانبارونه نوي وسلې اومهمات یې قبضه کړل.

همدغه ډول نوراغا چې دخاش ولسوالی دانکشافي شورا مشردی وایي: له څوکلونوراهیسي دبدخشان په ځینوولسوالیو کې لوی عملیات کیږي اوپه میلونونه ډالرېږي مصرفیږي اوعسکروته دسردرانه زیانونه اوړیدلي ، خوهیڅ کومه نتیجه یې نده لرلې ،بلکې طالبان ورځ تربلې تقویه کیږي او له اردو څخه پراخ وسایل اووسایط نیسي اوپه ډاډه ډول تري استفاده کوي.

نوموړی همدارنګه وایي چې تنها وردوج ، کران او منجان ولسوالی دطالبانو په لاس کې ندي ، بلکې ۴ نورې ولسوالی چې تولې ۷ ولسوالی کیږي په هغوکې هم طالبان موجوددي اوخپل اجرأت سره ته رسوي.

دکتونکو په اند ، په بدخشان کې تردې دمه چې دکابل رژیم څومره عملیات سرته رسول شوي ،پرته له شرمناکې ماتې یې بل هیڅ شی ندی ترلاسه کړي ، عمده علت یې دادی چې دنوموړي ولایت پرګنې له دولتي دارمارانو تردوسپورمو راغلی ،ځکه دهغوی چوراوچپول ، ستم اواخلاقي فسادپه سترګوویني ، نو دخپلې ایماني جذبې له مخې طالبانو ته پناه وروړي اوپه دې خبره بوورلري چې طالبان یې پت اوعزت ساتي ، جبر اوزیاتی نه ورسره کوي او امنیت یې خوندي کوي

،داسې کړه راپورونه هم دي چې عام ولس طالبانو ته لازمي اسانتیاوي برابروي ، خوراک اوځښاک ورکوي اوهغه جنګي اسباب اومرمی چې دروس په خلاف دجهاد دوخت ورته پاتې دی زنګونه یې ورته صفاکوي او ان مرکزونو اوسنګرونو ته یې وروړي ، چې دادانتهایي محبت اوایمانداری نښه اودمسؤلو طالبانو دښه چلند لویه علامه ده اوهغه بالاخره ددې امید ښنې چې دنوموړي ولایت په پاتې سیمو به هم طالبان خپل سیوری غوړوي اودولس سراومال به خوندي کوي(انشاالله)

دجوزجان ولایت دخمآب ،آقچه ، خان آقا ، درزاب او فیض آباد ولسوالیو څخه ۶۴تنو پولیسو ، عسکرو او اربکیانو خپلې وسلې په ځمکه کیښودې او د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول ، دغوکسانو چې د اسلامی امارت ددعوت کمیسیون او د سیمیزو مجاهدینو دهلو ځلو په نتیجه کې یې حقیقت او واقعیت درک کړل ژمنه وکړه چې نور به له کفارو او دهغو له غلامانو نه هیڅ ډول حمایت نه کوي او د هیواد دآزادۍ او خپلواکۍ لپاره به د خپلو مجاهدینو وروڼو ترڅنګ پاتې کیږي ، دیادو کسانو نومه په لاندې ډول دي:

۱ـ عبدالوهاب دحق نظر زوی
۲ـ عبدالقهار د دانک اتار زوی
۳ـ حفیظ الله دحق نظر زوی
۴ـ حیات مراد دمحمدامین زوی
۵ـ شمین د امام نظر زوی
۶ـ چاري دروزي زوي
۷ـ محمدابراهیم دموخی زوی پورته کسان دخمآب ولسوالی او سیدونکي دي
۸ـ محمدصادق دنورمحمد زوی
۹ـ محمدبشیر د محمدیعقوب زوی
۱۰ـ محمدیعقوب د فیض الله زوی
۱۱ـ عبدالمنان دعبدالله زوی
۱۲ـ عبدالرشید د محمد زوی
۱۳ـ عبدالرحیم د خدای نظر زوی پورته کسان د آقچې ولسوالي او سیدونکي دي
۱۴ـ الله قلي دعبدالرحیم زوی
۱۵ـ معراج د عبدالمجید زوی
۱۶ـ فیض الله دمحمدعظیم
۱۷ـ حبیب الله د احمد زوی
۱۸ـ نقیب الله دقمرالدین زوی
۱۹ـ محیب الله دحاجي مجید زوی

ثور ستا ڤضاوت

په جوزجان کې ۶۴ تنو پولیسو، عسکرو او اربکیانو خپلې وسلې په ځمکه کیښودې او له مجاهدینو سره یوځای شول

۲۰ـ آورزد ابراهیم زوی
۲۱ـ محمود د محمد مراد زوی
۲۲ـ محمد شریف اربکي په اولاد کلي
۲۳ـ عبدالرزاق د حاجي رؤوف زوی
۲۴ـ انصار معاون د خان محمد زوی
۲۵ـ ګل آغا د محمد مراد زوی
۲۶ـ عبدالودود د محمد مراد زوی
۲۷ـ عبدالمنان د عبدالسلام زوی
۲۸ـ محمد موسی د عبدالاحد زوی
۲۹ـ عبدالغفار د عبدالکریم زوی
۳۰ـ بازار د حاجي بای زوی
۳۱ـ عبدالاحد د محمد زوی
۳۲ـ محمد عمر د حاجي اکرم زوی
۳۳ـ محمد امین د محمد اکرم زوی
۳۴ـ عزت الله د محمد مراد زوی
۳۵ـ محمد مراد د محمد عظیم زوی
۳۶ـ علی محمد د عبدالرحیم زوی
۳۷ـ حمید الله د رحمت الله زوی
۳۸ـ محمد سخي د عبدالخالق زوی
۳۹ـ نقیب الله د نجیب الله زوی
۴۰ـ خیر محمد د مؤمن زوی
۴۱ـ محمد شریف د حاتم زوی
۴۲ـ روزی محمد د بابه رحیم زوی
۴۳ـ محمد آصف د عبدالرشید زوی
۴۴ـ ذبیح الله د محمد نبي زوی
۴۵ـ محمد آصف د عبدالحي زوی

۴۶ـ ابراهیم د مهدي زوی پورته کسان د درزاب ولسوالي اوسیدونکي دي

۴۷ـ نجیب الله د سرور زوی
۴۸ـ حمید الله د موسی جان زوی
۴۹ـ محمد نبي د موسي جان زوی
۵۰ـ امان الله د شیر أغا زوي
۵۱ـ سرور د آغا محمد زوی
۵۲ـ یوسف د اختر محمد زوی
۵۳ـ خیر محمد د عبدالنصیر زوی
۵۴ـ ایوب خان د محمد وزیر زوی
۵۵ـ خان وزیر د عبدالرحیم زوي
۵۶ـ ګلاب د سید الرحمن زوی
۵۷ـ محمد عالم د احمد خان زوی
۵۸ـ دوست محمد د حبیب الله زوی
۵۹ـ خلي د عبدالرحیم زوی
۶۰ـ محمد عوض د خدای نظر زوی
۶۱ـ محمد د چاری زوی
۶۲ـ عنایت الله د شیر محمد زوی
۶۳ـ عبدالله د حیدر زوی
۶۴ـ آصف د عبدالرؤف زوي پورته کسان د فیض اباد ولسوالي او سیدونکي دی

دغو ټولو ۶۴ کسانو ته د اسلامي امارت سیمیزو مجاهدینو لخوا ښه راغلاست وویل شو او وهڅول شول چې خپل ارام ژوند وکړي او دارتیا په صورت کې د اسلامی امارت له مجاهدینو سره په لازمو برخو کې مرسته او همکاري وکړي ، همدا راز ورته وویل شول چې که هر افغان د یرغلګرو په ځنګ کې ونه دریږي او د خپلوملي ارزښتونو په ضد موقف ونه نیسي زمونږ ورور دي او ورته د هیڅ ډول مشکل د پیښیدلو روادار نه یو .

ذبیح الله مجاهد د اسلامی امارت ویندوی
۲۰/۱۱/۱۴۳۴هـ ق
۴/۷/۱۳۹۲هـ ش ـ 2013/9/26م

با سجده به خدایت نزدیک شو

نویسنده: محمد کمال الدین
برگردان: عبدالملک فاضلی

سجده اوج درجه ی تذلل و خشوع در پیشگاه پروردگار متعال است چسپاندن چهره بر زمین و مالیدن آن بر خاک برای انسان رمز عظمت عزت و زیبایي است، بدون شک که انسان با سجده به خداوند نزدیک شده و ارتباط محکم و وثیقي بین سجده و نزدیک شدن به خداوند متعال وجود دارد . پس هر قدر که به سجده ات بیفزایي به همان پیمانه به خدایت نزدیک خواهي شد و هر قدر که خواهان نزدیکي بیشتر به خداوند هستي سجده را وسیله و سبب برای این کار قرار ده انسان مومن در دو جایگاه در پیشگاه خالقش قرار مي گیرد که همانا جایگاه اول نماز و جایگاه دوم روز ملاقات کردنش با خدایش مي باشد.

کسي که به طور شایسته در جایگاه اول قرار گیرد مقام دوم برایش آسان خواهد شد اما کسي که به این جایگاه استهانت کند و حقش را ادا نکند جایگاه بعدی برایش سخت خواهد شد. خداوند متعال مي فرماید: (وَمِنَ اللَّيْلِ فَاسْجُدْ لَهُ وَسَبِّحْهُ لَيْلًا طَوِيلًا (26) إِنَّ هَؤُلَاءِ يُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَاءَهُمْ يَوْمًا ثَقِيلًا (27) (الإنسان) و شبانگاهان برای خدا سجده و کرنش بیر ، و در شب خیلي او را تسبیح و تقدیس کن . این (کافران و مشرکان (زندگي زودگذر دنیا را دوست مي‌دارند ، و روز سخت و دشوار آخرت را پسِ پشت خود مي‌افکنند .

سجده یي انسان را به خداوند نزدیک مي کند که به خاطر آرام صورت گرفته و شخص در آن دغدغه های دنیوی و نفسي اش را کنار زند و با قلب خاشع و اعضای ساجد در آن داخل شود و همانا این سجده ی واقعي خواهد بود و سبب قرب انسان به خداوند خواهد گردید.

هنگامي که خداوند خواست تا حبیش حضرت محمد صلي الله علیه وسلم امتحان کند مقام سجده را برایش انتخاب مي کند آنجا که مي فرماید: . (الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ (218) وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ (219) ((الشعراء) آن خدائي که تو را

مي‌بينند بدان گاه كه (براي نماز تهجّد (برمي‌خيزي . و (همچنين مي‌بينند) حركت (قيام و ركوع و سجود و نشست و برخاست) تو را در ميان (صف جماعت) سجده برندگان .

هنگامي كه نبي خدا داود عليه السلام به خطايش پي برد به سجده افتاد : (وخرّ راكعًا وأناب) پس از پروردگار خويش آمرزش خواست و به سجده افتاد و توبه كرد .

خداوند در مقام مدح بندگان مومنش بارز ترين وممتاز ترين خصوصيت شان را ذكر مي كند : (سيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ) (الفتح: من الآية 29) نشانه ايشان بر اثر سجده در پيشانيهايشان نمايان است.

در جاى ديگرى ميفرمايد: (الرَّاكِعُون السَّاجِدون الآمِرُون بِالْمَعْرُوفِ والنَّاهُونَ عن الْمُنكَرِ) (التوبة: من الآية 112 هنگامي كه خداوند خواست تا ابوالبشر حضرت آدم عليه السلام را مورد تكريم قرار داده و او را از ديگر مخلوقاتش متمايز سازد سجده را علامت احترام و تكريم وى قرار مي دهد) :فَقَعُواْ لَهُ سَاجِدِينَ) (الحجر: من الآية 29) در برابرش به سجده افتيد

ساحران فرعون بهترين، بارز ترين و سريع ترين وسيله براى توبه را جز سجده چيزى ديگرى نمي دانند: (وأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِين (120) قَالُواْ آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ) ((121)الأعراف) و جادوگران به سجده افتادند (و كرنش كردند) گفتند : به پروردگار جهانيان ايمان آورديم .

خداوند جل جلاله سجده را نشانه ى مطيع و رام شدن آنچه در آسمانها و زمين است قرار مي دهد: (وَلِلَّهِ يَسْجُدُ من فِي السَّمَاوَاتِ والأَرْضِ طَوْعًا وكَرْهًا) (الرعد: من الآية 15) آنچه در آسمانها و زمين است – خواه ناخواه – خداي را سجده مي‌برد (و در برابر عظمت او سر تسليم و تكريم فرود مي‌آورد).

)أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ ومَن فِي الأَرْضِ) (الحج: من الآية 18)آيا نديده‌اي و ندانسته‌اي كه تمام كساني كه در آسمانها بوده و همه كساني كه در زمين هستند ، و خورشيد و ماه و ستاره‌ها و كوهها و درختان و جانوران و بسياري از مردمان ، براي خدا سجده مي‌برند

اوست كه حضرت مريم را بعد از اينكه بر مي گزيند و پاكيزه اش مي نمايد به سجده دستور مي دهد: (يا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ واسْجُدِي وَارْكَعِي مع الرَّاكِعِينَ (43)) (آل عمران) اي مريم ! (به شكرانه اين نعمت بزرگ) هميشه خاشعانه به اطاعت و عبادت پروردگارت مشغول شو و با نمازگزاران به سجده و ركوع بپرداز (و يا آنان نماز بخوان) .

جاى تعجب نيست كه حتي پرندگان معنا و مدلول سجده را درک مي كنند اين هدهد سليمان عليه الصلوة والسلام است كه بر بلقيس و قومش كه سجده را براى غير خدا مي برند مورد انكار قرار مي دهد خداوند از زبان هدهد مي فرمايد : (وَجَدتُّهَا وقَوْمَهَا يَسْجُدُون لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللهِ وزيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمالَهُمْ فصَدَّهُمْ عنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُون (24) أَلَّا يَسْجُدُوا للهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّماواتِ والأَرْضِ ويَعْلَمُ ما تُخْفُون وما تُعْلِنُون (25)) (النمل) من او و قوم او را ديدم كه به جاي خدا براي خورشيد سجده مي‌برند ، و اهريمن اعمالشان را در نظرشان آراسته است و ايشان را از راه (راست) به در برده است ، آنان (به

خدا و یکتاپرستي) راهیاب نمي گردند. (آنان را از راه بدر برده است) تا این که براي خداوندي سجده نبرند که نهانیهاي آسمانها و زمین را بیرون مي‌دهد و مي‌داند آنچه را پنهان مي‌دارید و آنچه را که آشکار مي‌سازید

بدون شک چیزی که ابلیس را از رحمت خدا محروم کرد و وی را در وادی هلاکت دایمي پرت نمود امتناع از سجده بود :)فَسجد الْملآئكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُون (30) إِلاَّ إِبْلِيس أَبى أَن يَكُون مع السَّاجِدِين (31)) (الحجر) فرشتگان همه جملگي سجده کردند. مگر اهریمن که خودداري کرد (و خویشتن را بزرگتر از آن دید (که از زمره سجده کنندگان باشد

سجده نکردن براى خداوند از صفات کفار مي باشد: (فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (20) وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ (21)) (الانشقاق). ایشان را چه شده است که ایمان نمي‌آورند ؟ و هنگامي که قرآن بر آنان خوانده مي‌شود (در برابر صاحب قرآن و پروردگار زمین و آسمان به خاک مذلّت و بندگي نمي‌افتند و (کرنش نمي‌برند ؟

سجده نهایت درجه ی فروتني در حضور خداوند و در عین حال اوج عظمت بلندی و سبب قربت به خداوند متعال مي باشد، پیامبر خدا صلي الله علیه وسلم میفرمایند: "أقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد.. فأكثروا الدعاء " فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَاب لَكُمْ – رواه مسلم

حالتي که بنده به پروردگارش نزدیکتر است، حالت سجده است، پس در آن زیاد دعا کنید، زیرا سزاوار است که دعاي شما در آن مورد، قبول قرار گیرد

برادر عزیزم: بدان که از بزرگترین مظاهر و اسباب ترقي در سیر به سوی پروردگار جهانیان سجده است پیامبر خدا میفرمایند: (عليك بكثرة السجود.. فإنك لن تسجد لله سجدة إلا رفعك الله بها درجة، وحط عنك بها خطيئة) رواه مسلم.

)زیاد سجده کن، زیرا هرگز براي خدا سجده، بجا نمي آوري مگر اینکه خداوند ترا بدان درجه، بالا مي برد و در برابر آن، گناهي از ترا کم مي سازد(

وعن ربيعة الأسلمي خادم الرسول صلي الله عليه وسلم قال: "كنت أَبِيتُ مع رسول الله صلي الله عليه وسلم، فآتيه بوضوئه، وحاجته فقال: سلني. فقلت: أسألك مرافقتك في الجنة. فقال: أو غير ذلك؟ قلت: هو ذاك، قال: فأعني علي نفسك بكثرة السجود" (رواه مسلم) (ربیعه بن کعب اسلمي رضي الله عنه. خادم رسول الله صلي الله علیه وسلم که از اصحاب صفه بود، روایت است که گفت:

من شبها را با پیامبر صلي الله علیه وسلم مي گذراندم، آب وضوء بر ایشان مهیا مي کردم و نیازهاي شان را بر طرف مي ساختم.

به من گفتند: از من چیزي بخواه.

گفتم: مي خواهم که همراهت در بهشت باشم.

فرمودند: آیا غیر از این هم درخواستي داري؟

گفتم: همانست که گفتم.

فرمود: هان مرا با کثرت سجود بر خویشتن یاري ده(

حافظ بن حجر رحمه الله میفرماید: کسي که سجده اش زیاد شود به این درجه ی عالیه دست خواهد یافت. در حدیثي دیگری پیامبر صلي الله علیه و سلم میفرمایند: (ما مِنْ حَالَةٍ يَكُونُ العَبْدُ عَلَيْهَا أَحَبَّ إِلَي اللهِ مِنْ أَنْ يَرَاهُ سَاجِدًا يُعَفِّرُ وَجْهَهُ فِي التُّرَابِ)(بهترین حالتي که خداوند دوست دارد بنده اش را در آن ببیند سجده است که بنده چهره اش را در خاک مي مالد(.

در حدیث دیگر آنجناب مي فرمایند" :مَا مِن عَبْدٍ يَسْجُدُ للهِ سَجْدَةً إِلاَّ كَتَبَ اللهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَمَحَا عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً، وَرَفَعَ لَهُ بِهَا دَرَجَةً فَاسْتَكْثِرُوا مِنَ السُّجُودِ"، هر مرتبه ی که انسان مومن سجده مي کند خداوند برایش حسنه ی نوشته کرده و گناهي از وی را محو مي کند و درجه ی بر درجاتش مي افزاید پس در سجده زیاد دعا کنید.

و نیز فرمودند: إذا قرأ ابن آدم السجدة فسجد اعتزل الشيطانُ يبكي ويقول يا ويلاهُ أُمر هذا بالسجود فسجد فلهُ الجنة وأُمرتُ أنا بالسجود فعصيتُ فلي النارُ.."

هنگامي که فرزند آدم آیه ی سجده را مي خواند و سجده مي کند شیطان گوشه رفته و گریه مي کند و مي گوید: وای برمن انسان به سجده مامور شد و سجده کرده و بهشت نصیب وی مي شود اما من به سجده مامور شده و نافرماني کردم و جهنم نصیب من شد.

مردی از حسن بصری پرسید: بهترین چیزی که بنده با آن به خداوند عزو جل تقرب جوید چیست؟ وی در پاسخ گفت: با فضیلت ترین چیزی که بنده با آن مي تواند به خدایش تقرب جوید بر خواستنش در دل شب برای نماز مي باشد.

سجده اسراری دارد که صاحبش آن را درک مي کند. طعم لذیذش برای کسي قابل درک است که بالا ترین درجه تذلل و فروتني در وی تحقق یافته باشد. در سجده است که چشم های دوست دارندگان خداوند و عاشقانش پر از اشک مي شود آن هنگام که با خدایشان خلوت مي کنند و طعم نزدیکي به وی را احساس مي کنند.

در حقیقت سجده ی زیاد جوازی است برای داخل شدن در بهشت پر از نعمت و به گشت و گذار و تفریح پرداختن در نعمت هایش و حاصل نمودن قرب و مرافقت خداوند در آن.

پیش از آنکه پهلوهایت به خاک رسد به پروردگارت سجده بر تا به وی نزدیک شوی (واسجد واقترب) در سجده خدایت را در نظر داشته باش با اخلاص و با تجرد به وی سجده کن در این هنگام خواهد بود که عظمت سجده را حس خواهي کرد.

برادر عزیزم:

نزدیک شدن به محبوب آرزوی نهایي هر عاشق است نیازی نیست تا بار سفر بسته و مسافت های زیادی را طي کنیم و ساعت ها را با سرعت در هم پیچیم تا به خدایمان برسیم. کافي خواهد بود تا بوسیله ی توجه کنیم که کتاب های عاشقان که به حسیات مي پردازند از آن غافل بوده اند و اشعارشان که با مادیات اشباع شده آن را احتوا نکرده اند.

کافي خواهد بود تا به وسیله ی توجه کنیم که راه نزدیک شدن به خداوند را کوتاه مي کند قلب هایمان به وسیله اش آرامش مي یابد و چشم های مان با آن احساس خنکي مي نماید این وسیله همانا سجده خواهد بود بلي سجده!!! سجده یگانه وسیله و کوتاه ترین راه نزدیک شدن به او تعالي مي باشد.

امام ابوحنیفه در کتاب فقه اکبر مي نویسد: نزدیک شدن به او تعالي و دوری از وی از طریق طول و کمي مسافت سنجیده نمي شود بلکه کرامت نشانه ی نزدیکي به خداوند و سبکي انسان علامت دوری وی از خداوند است انسان مطیع به خداوند نزدیک بوده و انسان گنه کار بلا کیف از خداوند دور است.

پس (اقترب) به معنای نزدیکي به وی از طریق مسافت نیست بلکه هدف تقرب به وی از طریق طاعات و عبادات مي باشد.

برادر عزیزم:

آنگاه که خواستي قرب خدایت را بدست بیاوری و شوق تقرب به او تعالي در دلت شعله ور شد و بانگ مملو از شادی در دلت جوانه زد شتابان به سویش حرکت کن و این فرموده اش را بیادآور: (وَاسْجُدْ واقْتَرِبْ) (العلق: من الآیة 19و سجده ات را برایش طولاني نما.

آنگاه که دنیا تو را از خداوند دور مي کند و در مشاغل و زرق و برق فریبنده اش تو را غوطه ور مي سازد دستانت را از گرد و غبار دنیا تکان ده و پاک کن و این فرموده ی پروردگارت را بیادآور: (وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب) و سجده ات را برایش طولاني نما.

آنگاه که راهها بر تو تنگ شد و مشکلات بر تو چیره گشت و به جستجوی راهي برای نجات شدی به او تعالي پناه بر و این فرموده اش را بیادآور) :وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب) و سجده ات را برایش طولاني کن

آنگاه که فتنه ها از تمام جوانب تو را احاطه کرد و بر سر راهای مختلفي قرار گرفتي شکوک از یک طرف و شهوات از طرفي دیگر بر تو سرازیر شدند به خدا پناه بر و برایش سجده کن: (واسجد واقترب(

در تاریکي های شب و وحشت آن برایت وحشتي نخواهد بود در داخل قبر به تنهایي، تنها نخواهي بود و در روز هراس بزرگ هیچ هراسي نخواهي داشت و هنگامي که ترس سر تاسر وجود مردم را فراگرفته نخواهي ترسید تا هنگامي که به وسیله ی سجده خودت را به وی نزدیک کني.

آنگاه که خداوند برایت نعمت های را مي بخشیده که حساب و شماره اش بر تو دشوار است پس سجده را وسیله ی تقرب به او قرار ده (واسجد واقترب)

برادر عزیزم: بیا تا با هستي یکجا شویم زیرا تمام هستي خواهان است تا به خدایش سجده کند و تمام هستي سجده ی خالقشان را مي کنند. بیا تا با صدای از دل برخواسته این فرموده ی خداوند را تکرار کنیم: (أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ) (الحج: من الآیة 18) آیا

ندیده‌اي و ندانسته‌اي که تمام کساني که در آسمانها بوده و همه کساني که در زمین هستند ، و خورشید و ماه و ستاره‌ها و کوهها و درختان و جانوران و بسیاري از مردمان ، براي خدا سجده مي‌برند (و به تسبیح و تقدیس او مشغول و سرگرمند ؟(

برادر عزیزم:

بیا تا به قافله ی بنده های خدای رحمن بپیوندیم که خداوند پیرامونشان مي فرماید: (والَّذین یَبیتُونَ لربِّهِمْ سُجَّدًا وقیامًا (64)) (الفرقان) و کسانیند که (بخش قابل ملاحظه‌اي از شب ، و گاهي تمام) شب را با سجده و قیام به روز مي‌آورند (و با عبادت و نماز سپري مي کنند)

هنگامي که به قافله این بندگان قرار گیری (که انشاء الله قرار خواهي گرفت) خداوند برایت عالي ترین منزلگاه بهشت را خواهد بخشید آنگاه که خداوند مي فرماید: (أُولَئكَ یُجزَوْنَ الْغُرْفةَ بِمَا صَبرُوا وَیُلَقَّوْنَ فِیها تَحِیَّةً وسلامًا (75)) (الفرقان(به اینان بالاترین درجات و عالي ترین منزلگاههاي بهشت داده مي‌شود در برابر صبر و استقامتشان

اگر دنیا بر تو فشار آورد تو با سجده به آن فشار آور و به خدایت نزدیک شو.

همچون عابدان خاشعانه و متواضعانه نماز بخوان انگار کن که آخرین نمازت را مي خواني و با دنیا وداع خواهي نمود.

با رغبت و میل خودت متواضعانه به پیشگاه خالقت پیشانیت را به خاک گذار دعایت قبول و امیدت تحقق خواهد یافت

اگر به سبب گناهانت آتش بر تو احاطه کرد مطمئن باش که سجده ات در دنیا سبب نجاتت خواهد شد. پیامبر صلي الله علیه وسلم مي فرمایند: "إذا أراد الله رحمة من أراد من أهل النار، أمر الله الملائكة أن یخرجوا من یعبد الله، فیخرجونهم ویعرفونهم بآثار السجود، وحرم الله علي النار أن تأكل أثر السجود، فیخرجون من النار، فكل ابن آدم تأكله النار إلا أثر السجود" (رواه البخاري(

)سپس، رحمت خداوند شامل حال دوزخیاني مي شود که خدا بخواهد. آنگاه، به فرشتگان دستور مي دهد تا کلیه کساني را که او را پرستش کرده اند، از دوزخ بیرون بیاورند. فرشتگان، خداپرستان را از آثار سجده شان مي شناسند. زیرا خداوند اعضاي سجده را بر آتش دوزخ، حرام گردانیده است. آنها را از آتش بیرون مي آورند. آتش همه اعضاي بدن انسان را مي سوزاند مگر جایي که اثر سجده باشد(

برادر عزیزم:

هر اندازه بیشتر براي خدا سجده کني به همان پیمانه به نزد خداوند منزلت خواهي یافت سجده براي خدا عزت وسعادت را به دنبال دارد؛ سجده براي غیر خدا ذلت پستي و فرومایگي را در پي خواهد داشت.

برادر عزیزم: براي خدایت زیاد سجده نما زیرا با هر سجده، خداوند بر درجاتت افزوده و گناهي از گناهانت رااز بین مي برد.

سجده براي خداست که انسان را از قید تقالید، عرف و عادات رها مي کند. انسان پیشاني اش را در پیشگاه خداوند به خاک مي مالد، زمامش را به قلبش مي دهد نفسش را در همان مسیر فطري آن قرار مي دهد. اینجاست که بر اشک هاي که مي ریزد

و خشوعي كه در سجده اش دارد ملامت نمي شود، اشک های که از روی شوق از دلش مي جوشد و از کاسه ی قلبش لبریز مي شود.

آری! با سجده است که قلب انسان لرزان مي شود و کوه ها به تپش مي افتد و زمین به تحرک مي آيد و بلاخره پایه های ظالمین و گردنکشان به لرزه مي افتد.

سلف صالح ما در شب عابداني بودند که از همه بیشتر با خدای خود راز ونیاز مي کردند و در روز دلیراني بودند که از اسلام دفاع مي کردند؛ علمبرداران و

مشعلداران اسلام بودند. ایشان بودند که شوکت کسرا و هرقل را شکستند وزمین در زیر قدم های شان در هم پیچیده شد ایشان بودند که از خود یادگاری های به سواحل بحر اطلس و جنگل های انبوه افریقا به جا گذاشتند و ایشان بودند که سرزمین چین را فتح کردند و ایشان...

کسي که خود را پیش رب العالمین خم کرده و برایش سجده کند هرگز به غیر رب العالمین سجده نخواهد برد زیرا او تنها نفسش را ذلیل و ساجد به پیشگاه رب العالمین سبحانه مي داند خدایش را به پاکي یاد کرده و مي گوید: خدایا! با خضوع در پیشگاه تو بزرگي مي یابم و با سجده به غیر تو احساس حقارت و خاری میکنم

برادر عزیزم: باید در روی زمین برای خود جاهای را برای سجده قرار دهیم با شور و شوق به سراغ سجده برویم آن مواضع را دوست داشته باشیم او هم ما را دوست خواهد داشت

چه زیبا خواهد بود آن هنگام که این مواضع، با اشک های مملو از محبت پر شود و قلب های عاشقین به خداوند در آن هنگام به تپش آید. بدون شک این همان لحظه تقرب به خداست در این لحظه آنچه آرزو داری از خدایت بخواه اجابت خواهي شد از خداوند رضایتش را بخواه خداوند بخشش های فراواني بر تو خواهد کرد. از خداوند مي خواهم که من و همه ی برادرانم را در سلک بندگان فرمانبردار، رکوع کنندگان و سجده گنندگان قرار دهد.

وصلي الله علي نبينا محمد وعلي آله وصحبه أجمعين

په تېر پسې...

مولوي میرزامحمد "شکیب"

د توحید علمبردار

وحشي بن حرب

«(قتل خير الناس بعد محمد... و قتل شر الناس ايضا)) المؤرخون»

کله چې دوي مکې ته راغلل زه طائف ته وتښتېدم او هلته مې پناه واخیسته ، خو څو شپې وروسته د طائف خلګ هم د اسلام لپاره تیار شول، یوه ډله خلګ حضرت محمدﷺ ته ورغلل او د اسلام اعلان یې وکړ ، دا مهال زه پر خپلو کړو ډیر پښیمانه شوم ، مخکه سره له دومره پراخوالي راباندې تنګه او ټولي لاري مې پرمخ وټړل شوې، له ځان سره مې وویل: شام یا یمن او یا به نورو ښارونو ته ځم.. زه په دې فکر او غم کې وم چې د یوسړي زړه راباندې وسوځید او د نصیحت په ډول یې راته وویل: ای وحشي ! خوارشي، هرڅوک چې د حضرت محمدﷺ په دین کې داخل شي او د زړه له تله کلمه ووایي، دی یې بیا نه وژني، ماچې کله د دغه سړي خبره واوربده سمدستي د یثرب لورته د نبي کریمﷺ په لټه پسې روان شوم، کله چې یثرب ته ورسیدم پوښتنه مې وکړه ، دی په مسجد کې وو له ډیر ډارسره مسجد ته ورننوتلم، د نبي کریمﷺ لورته ورغلم چې د ده له ځنګه ودربدم او ورته ومې ویل: اشهد ان لااله الاالله و اشهد ان محمداً عبده ورسوله، کله چې نبي کریمﷺ زما له خولې کلمې واوریدې سترګې یې راپورته کړې کله چې یې وپیژندلم بیرته یې مخکې ته وکتل او ویې ویل: آیا ته وحشي یې؟ ! ماورته وویل: هو ! یارسول اللهﷺ ، نبي کریمﷺ راته وویل: کښینه اوس کیسه راته وکړه چې حضرت حمزه رضی الله عنه دې ځنګه شهید کړ؟

زه هم ورته کښېنستلم او کیسه مي ورته وکړه ، کله چې زه له کیسې وزګار شوم ، نبي کریمﷺ مخ راڅخه واړاوه او ویې ویل: وحشي ! هلاک شي مخ دي راڅخه پرته کوه چې بیا دي ونه وینم...

له هغې ورځې را وروسته ماهڅه کوله چې نبي کریمﷺ ته مخامخ نه شم کله چې به صحابه نبي کریمﷺ ته مخ مخ کښېنستل زه به د دوي له شا کښېنستلم تر څو چې نبي کریمﷺ وفات کیدی زما داحال وو ، وحشي زیاته کړه او ویې ویل: له دې سره ، سره چې زه په دې پوهیدم چې اسلام هر هغه ګناه چې تر اسلام مخ ته چا کړي وي له مینځه وړي خو د اسلام په راوړلو سره ما ته د خپل کړي کار بدي را معلومه شوه او په دې کار ډیر شرمېدم چې اسلام او مسلمانانو ته مي لوي غم ورپېښ کړی وو او له هغې ورځې څخه مي دا شیبې شمیرلې چې کله به مسلمانانو ته د دې بدله ورکړم

کله چې نبي کریمﷺ له رفیق الاعلی سره پیوست شو ، د خلافت واګې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په لاس کې واخیستې ، د مسیلمة الکذاب ډله «بنو حنیفه» له دینه واوښتل او د نبي کریمﷺ خلیفه «حضرت ابوبکر رضی الله عنه» لښکر تیارکړ تر څو له مسیلمه سره جګړه وکړي او د ده قوم بیرته اسلام ته راواوړي، ما په زړه کې وویل: ای وحشي ! قسم په خدايﷻ دغه دي وار دی فکر کوه چې دا موقع دي له لاسه ونه وزي، سمدستي مي تیاری ونیو او د مسلمانانو له لښکر سره ولاړم ، له ځان سره مي هغه نیزه واخیستله چې سید الشهداء حضرت حمزه رضی الله عنه مي په شهید کړی وو او دا مي له ځانه سره لوړه وکړه چې یا به په دې نیزه مسیلمة الکذاب وژنم او یا به د شهادت لوړ مقام ته رسیږم

کله چې مسلمانانو مسیلمه او د ده لښکر «حدیقة الموت» ته ننه ایستل او د خدايﷻ تر دښمنانو راتاو شول ما د مسیلمه ځارنه کوله چې یو ناڅاپه مي په داسي حال کې په سترګه شو چې ولاړ وو ، توره یې په لاس کې وه ، یو انصاري مي ولید چې زماغوندي انتظار یې ورته کاوه ، موږ دواړو د ده د وژلو تکل درلود...

کله چې ده ته دومره ورنژدې شوم چې زړه مي غوښت ؛ نو مي نیزه په لاس کې ښه سمه کړه چې پرلاس مي ښه جوړه شوه ، وار مي ورباندې وکړ او نیزه پکښې ښخه شوه ، خاص په دغه ګړي چې ما پر مسیلمه د نیزې وار وکړ او نصاري د توري وار ورباندې وکړ او په توره یې وواهه... لوي خدايﷻ به خبر وي چې له موږ دوو چا وژلی وي ، که چیرې ما وژلی وو ؛ نو زه به هغه څوک یم چې له محمدﷺ وروسته مي ترټولو خلګو غوره انسان وژلی ؤ او بد انسان مي هم وواژه.

آیا طالبانو جګړه ایز ابتکار له لاسه ورکړی؟

حبیب "مجاهد"

څه موده وړاندې په افغانستان کې دبهرنیو اشغالګرو ځواکونو مشر جنرال جوزیف ډانفورډ له رسنیو سره په خبرو کې دعوه وکړه ، چې سږکال طالبانو جګړه ایز ابتکار له لاسه ورکړی او دده په باور نه دي توانیدلي چې خپل نظامي اهداف ترلاسه کړي ، نوموړي وویل چې مجاهدین اوس نه شي کولای دپخوا غوندې بریدونه ترسره کړي.

د جنرال ډنفورډ خبرې له انتظار سره سم دلویدیځو رسنیو لخوا بدرګه شوې او دیوې تبلیغاتي سوژې کار یې ترې واخیست، خو دده په خبرو ډیر موده نه وه وتلې چې مرستیال یې په یوه مرکه خبرې رد کړې ، او ویې ویل چې طالبان دهرې ورځې په تیریدو سره قوي کیږي ، او ناټو یا امریکا باید دا تمه ونه کړي ، چې طالبان به له منځه یووړل شي.

دلویدیځو پوځي مشرانو ګډې وډې او متدافعې څرګندونې په خپل ځای ، خوراځئ موږ او تاسو دعیني جریاناتو په هنداره کې وګورو ، چې جهادي عملیات څنګه روان دي ، مجاهدینو کومې لاسته راوړنې درلودلې دي او آیا رښتیا جهادي عملیات کمزوري شوي او که د کمیت ، کیفیت او تاکتیک له اړخه دپخوا په نسبت مؤثر شوي دي.

معمولا دنظامي وضعیت ارزیابي دروانو جنګي عملیاتو له تحلیل څخه کیدلای شي ، که موږ په تیرو څو اونیو کې دافغانستان په مختلفو سیمو کې دجهادي عملیاتو جریان مطالعه کړو ، رامعلومه به شي چې جهادي عملیات دهرکله په نسبت په ښه توګه پرمخ ځي او مجاهدینو له نویو او بې سابقې تاکتیکونو څخه په استفاده ددښمن په سر او مال درانه ګوزارونه کوي.

د سیمو فتحه

دسږکال دعملیاتو یوه لویه بریا دا وه ، چې مجاهدین توانیدلي دي هغه سیمې فتحه او ترخپل نفوذ لاندې راولي ، چې تردې پخوا ددښمن تر تسلط لاندې وې ، په هلمند کې د ساروان کلا او مارجې سیمې او په روزګان کې دهراوود ولسوالۍ هغه سیمې وې ، چې یرغلګرو په خورا درنو تلفاتو ترخپل تسلط لاندې راوستې وې ، خو دسږنیو عملیاتو په نتیجه کې مجاهدین توانیدلي چې په پوره

بریالیتوب سره داسیمې یوځل بیا تر نفوذ لاندې راولي ، او س ددې دریو مهمو جهد ي سیمو اکثریت برخې دمجاهدینو تر تسلط لاندې راغلي دي او له پاتې برخو څخه ددښمن دایستلو لپاره یې بریالي عملیات روان دي.

په دې سربیره په فاریاب ، بادغیس ، او بدخشان کې ډیرې سیمې دمجاهدینو تر تسلط لاندې راغلي دي ، دسرپل دکوهستانتو ولسوالۍ ډیرې سیمې فتحه شوي دي او غزني ولایت دوه ولسوالۍ زنه خان او رشیدان په بشپړ ډول فتحه شوي دي او ددښمن تغر تړې ټول شوی دی ، دافغانستان په نورو برخو کې هم دفتحو بهیر جریان مینډلی او ډیرې سیمې په بشپړه توګه دمجاهدینو تر واک لاندې راغلي دي.

په دښمن ستر مرګوني اوزیان اړونګي بریدونه

دخالدبن ولید په نامه دسرښیو جهادي عملیاتو یوه بله ځانګړنه دسترو او خبرسازو بریدونه ده ، په تیرو څو میاشتو کې دافغانستان په لراوبر کې په دښمن خورا ستر بریدونه ترسره شوي دي ، په پلازمینه کابل ، غزني ، پنجشیر ، زابل ،میدان ښار ، لوګر ، هرات او ګڼونورو ولایاتو کې په سترو فدایي بریدونو سربیره دهیواد په مختلفو سیمو کې په دښمن باندې بریالي کمینونه هم وهل شوي دي اوبشپړ اکمالاتي کتارونه یې داور په لمبو کې سوزیدلي دي.

دروان کال دسبتمبر په ۱۹ په بدخشان ولایت کې مجاهدینو په داخلي عسکرو داسې تاریخ ساز عملیات سرته ورسول ، چې په دې سیمه کې یې پخوا ساری نه وو لیدل شوی ، مجاهدینو په هغو عسکرو چې دعملیاتو په موخه سیمې ته تللي وو ، ناڅاپي برید وکړ چې په نتیجه کې یې ۶۰ تنه عسکر ووژل شول ، او ۷۰ نور ټپیان شول ، مجاهدینو د ۱۰۰ میله وسلې په غنیمت سربیره ۱۴ تنه حکومتي عسکر ژوندي هم ونیول ، او په دې توګه یې ددښمن هغه یرغلګر لښکر له منځه یووړ چې له څو میاشتو راهیسې یې دبدخشان په وردوج کې عملیاتو ته ځان جوړاوو.

دوردوج عملیات دکرزي دحکومت دکورنیو چارو وزارت لخوا دپولیسو قتل عام وبلل شو ، او دپلټنو لپاره یې ځانګړی هیئت وټاکه ، تردې پیښې دری ورځې وروسته دکندهار په شوراوک کې په یوه تعرضي برید کې ۱۵ تنه سرحدي عسکر دمجاهدینو لخوا ووژل شول چې دشمن خپله هم دغه تلفات ومنل.

په ځاني تلفاتو سربیره دسړکال په عملیاتو کې ددښمن مالي تلفات هم زیات دي ، د فراه په ولایت کې دیرغلګرو داکمالاتي موټرو د مکملې قرارګاه سوزول ، په میدان وردګو کې په مکرر ډول دلسګونو اکمالاتي موټرو سوزول ، په تورخم کې دلسګونو ټانګونو او اکمالاتي موټرو سوزول ، هغه

رانه تلفات دي چې دښمن ته اوښتي ، اوهره يوه پېښه يې دمجاهدينو دبريدونو په مؤثريت دلالت کوي.

تاکتيکي او حساس بريدونه

خو ورځې وړاندې دکابل ښار قمبر څلورلارې ته نږدې په يوه کور کې داستخباراتو په عسکرو باندې درنې چاودنې ترسره شوې ، چې په مطبوعاتو کې يې په اړه ډير څه رانغلل.

دغه پېښه چې دکرزي دادارې ګڼ استخبارتي منسوبين په کې ووژل شول ، يوه تاکتيکي بريد وو چې مؤثريت ته په پام سره يې دکابل چارواکو هڅه وکړه ترخو له مطبوعاتو يې پټ وساتي.

دکابل ادارې پخواني د ملي امنيت رئيس امرالله صالح په خپله فيسبوک پاڼه باندې وليکل چې دغه تاکتيکي بريد ديوه خطرناک تاکتيک څخه پرده پورته کوي ، نوموړي دبريد دځرنګوالي په اړه ليکلي وو چې مجاهدينو په يوه کور کې بمونه عيار کړي وو ، او بيا يې ديوه کس په توسط ملي امنيت ته خبر ورکړی وو ، چې دلته مجاهدين پټ دي ، داستخباراتو کسان په ډيره چټکی راځي او په دې کور چې په وهي ، خو کله چې کورته داخليږي هلته وربانديې دروندانفجار کيږي او ټول استخباراتيان په کې له منځه ځي.

دغه بريد ځکه حساس او خطرناک بلل شوی دی ، چې له دې وروسته دکابل استخبارات نه شي کولای دپخوا غوندې په مجاهدينو زړورې چاپې ووهي او يا په هر راپور باور وکړي.

دمجاهدينو ويند ذبيح الله مجاهد رسنيو ته وويل چې مجاهدينو له يوه کشف شوي مبايل نه استفاده کړې وه ، او دغه کور يې دانفجار لپاره له وړاندې عيار کړی وو ، کله چې داستخباراتو کسان ورته راغلل مجاهدينو انفجار ورکړ او دشمن ته يې درانه تلفات واړول.

دغه تاکتيکي بريد دغه ډول په هرات کې دامريکا په قونسلګری ترسره شوي بريد وښودله چې مجاهدين په تاکتيکي لحاظ هم دپيشرفت په حالت کې دي ، په هرات کې دامريکا په قونسلګری بريد دومره مؤثر وو ، چې حتی امنيت شورا يې غبرګون ته مجبوره کړه او په ځانګړې اعلاميه کې يې دغه بريد خطرناک وبالله.

دغه ټول حقائق څرګندوي ، چې دامريکايي تبليغاتو خلاف سړکال نه يوازې داچې مجاهدين کمزوري شوي نه دي ، بلکې دپخوا په پرتله يې جهادي عملياتو لا قوي او اغيزمن شوي دي او دپوځی وضعيت ابتکار يې په بشپړ ډول په لاس کې دی.

لیکوال: نامتو اسلامي فکري مفکر علامه مولانا سید ابوالحسن علي ندوي (رح)
ژباړه: ش ' منصور'

المرتضی کرم الله وجهه

دامیر المؤمنین علی ابن ابي طالب ● ژوند لیک

کورنۍ !اوپه راتلونکي نسل يې اغېزې:

ام هانئ

درسول الله (ﷺ) دتره "ابوطالب" لور وه ،په يوروايت نوم يې "فاخته" په بل فاطمه نو اوځيني وايي "هند" نومیده .البته په دې ټولويادو نوموکې لومړی نوم (ام هانی) زيات مشهوردی

د "هبيره بن عائذ مخزومي" په نوم سړي ميرمن وه ، دنومورې (ام هانی) په باره کې رسول الله (ﷺ) فرمايل به:په هغو ميرمنو کې چې په اوښاتو سورلي کړي ،دقريشو ميرمني غوره دي ! اوهغوئ دخپلو اولادونو په پالنه کې تربل هرچا زياتې مهرابانې دي

په هغو ميرمنو چې په اوښانو سورلي کړي دقريشي ميرمنو دغوره والي مطلب دادی چې هغوئ ازادي ميرمنې او دشريفو خلکو لورګاني دي(ژباړن)

ابوعمرويلي: کله چې مکه مکرمه فتحه شوه ، نوهبيره له مکي نه وتښتيده اونجران ته لاړ ،د تيښتي په وخت يې څو شعرونه هم وويل په هغو کې يې د خپلې تيښتي عذرته هم اشاره وکړه ، کله چې ورته د داخبر لاړ چې ام هانی ايمان راوړی اومسلمانه شوي هم يې څوشعرونه وويل، له ام هانی څخه دهبيره خوی عمرو نومید ، په همدي نامه هبيره ځانته کنيت (ابوعمرو) ايښی و.

دمکي دفتحې په ورځ چې رسول الله (ﷺ) مکي ته ننوت ، په دې ورځ ام هانی (ﷺ) دبنومخزوم دوه تنو ته پناه ورکړې وه ، حضرت علي (ﷺ) ددواړو وژلو ګوابن وکړ، خوکله چې رسول الله (ﷺ) راغی وي وفرمايل "مرحباً واهلاً بام هانی" !څه خبره ده ؟ام هانی دهغو دوه تنو عرض وراندې کړ ،رسول الله (ﷺ)

ورته وفرمایل:چاته چې تا پناه ورکړي هغوئ ته مې هم پناه ورکړي چاته چې تا امن ورکړی دی مې هم هغوئ ته امن ورکړ ، مونږ هغوئ دواړه نه وژنو !امهاني وایي: په دغه ورځ رسول الله (ﷺ) زمونږ په کور کې غسل وکړ، بیا بې اته رکعته لمونځ وکړ(صحیح البخاری باب منزل النبی ﷺ یوم الفتح)

له امهانی احادیث هم روایت دي ، کوم چې په صحاح سته اونورو کتابونو کې شته دي ترمذي وایي: چې له حضرت علی(ؓ) وروسته هم ژوندی وه (الاصابه فی تمیز الصحابه ۸ټوک ۳۱۷مخ.۳۱۸)

جمانه بنت ابی طالب( )

دجمانه بنت ابی طالب په باره کې ابو احمد عسکري لیکلي ، هغه دا بو سفیان بن الحارث بن عبد المطلب دځوی عبد الله موروه ،د دارقطنی په "کتاب الاخوة" کې شته ،ورسره ابو سفیان بن الحارث نکاح کړي وه.له هغه نه یې عبد الله پیدا شوی و ، لیکن دهغه په اړه یې څه ندي لیکلي ،زبیربن بکار ویلي:جمانه دام هانی خوروه ،ابن اسحاق ویلي:دخیبر دفتحې وروسته چې چا ته په غنیمت کې برخه ورکړل شوي په هغوئ کې جمانه هم وه، چې ورته دیرش وسق ورکړل شوي وو

ځیرنه:بیو وسق یو صاع وي ، اودصاع اوسنی پیمانه نیږدې درې کیلو دوه سوه پنځشپیته ګرامه ده

فاکهي په "کتاب مکه" کې له عبد الله بن عثمان بن جشم نه روایت کړی دی چې دروژي په اوویشتمه عطاء ، مجاهد ، او ابن کثیر نورو پرخلک مې لیدلي چې هغوئ تنعیم ته تلل ، دجمانه خیمې څخه یې دعمري احرام تاړه ، دادابوطالب لوروه ، دهغې له خیټې څخه دابو سفیان بن الحارث ځوی جعفر بن ابو سفیان پیدا شوی و اورسول الله (ﷺ) ورته دخیبر په غنیمت کې دیرش وسق ورکړل

دحضرت علي(ؓ) زوکړه:

دصحیحو روایتونو له مخې:علي بن ابي طالب(ؓ) درسول الله (ﷺ) له بعثت څخه لس کاله وړاندې پیدا شوی و ،دابن سعد په وینا:نوموړی په رجب کې دعام الفیل په دیرشم کال (دعیسویت پیړۍ ۷مه)په ۱۲مه نیټه پیدا شوی دی "حاکم دحکیم بن حزام" په حالاتو کې لیکلي:دا په تواتر ثابته ده چې دفاطمې بنت اسد له خیټې نه علي بن ابی طالب دکعبې دننه پیدا شوی ، اوحکیم بن حزام هم په کعبه کې دننه پیدا شوی وو

ابن ابی الحدید په شرح نهج البلاغه کې لیکلي:دعلي(ؓ) دزوکړې ځای په باره کې اختلاف دی چې چېرې شوي، دشیعه ګانو لویه ډله په دې باور لري چې نوموړی دکعبې دننه زیږیدلی دی ،محدثین ددې له منلو انکار کوي ، هغوئ وایی.کوم سړی چې دکعبې دننه زیږیدلی هغه حکیم بن حزام بن خویلد ،بن اسد ، بن عبد العزی بن قصی و .نوربیا

مجاهدین بدخشان، مانده نباشید!

محمود احمد "نوید"

خبر پیروزی مجاهدین قهرمان در ولایت بدخشان و به تصرف در آمدن ولسوالي مستقل آن ولایت (ولسوالي کران و منجان) خبر بي نهایت مسرت بخشي بود که شنبه 6/7/1392هش در دنیای رسانه ها متولد شد و موجي از خوشي ها و امیدواری ها را برای عموم ملت آزادیخواه افغان بار آورد؛ این درحالیست که بسیاری رسانه های وابسته چه خارجي و چه داخلي با نشر اخبار ضد و نقیض از تحولات در ولسوالي یاد شده، با جدیت فراوان،

تلاش ورزیدند که اخبار فتح و پیروزی مجاهدین را معکوس گزارش کنند و روی سیاه اداره اجیر را با تبلیغات دروغین سفید نمایند؛ اما دیری نپایید که اسباب رسوایي حکومت اجیر در امر سقوط ولسوالي کران و منجان تا جایي فراهم گردید که دیگر جای هیچگونه اغماضي از شکست فاحش نیروهای دولتي، باقي نماند و تعدادی از رسانه های بین المللي نیز بر خلاف میل باطني خود (مثل رادیو آزادی) به شکست حکومت اجیر در کران و منجان اعتراف نموده و در صفحه خبری خود (خبر) پیروزی مجاهدین را نشر کرد.

جا دارد قبل از هر سخني از صمیم قلب به مجاهدین غیور، فداکار و حماسه آفرین در ولایت بدخشان بگوییم: برادران مجاهد و قهرمانان سلحشور! واقعا مانده نباشید آفرین بر این غیرت و ایمان شما، آفرین بر این بازوی پرتوان شما، آفرین بر این صبر و استقامت شما، آفرین بر این شجاعت و مقاومت شما، شما با این حمله های هدفمند، منظم، تاکتیکي، افتخارآفرین و دشمن شکن خود، پشت اشغالگران خارجي و نوکران وطنفروش داخلي، از کابل (افغانستان) (تا واشنگتن (آمریکا) را به لرزه درآورده و خواب راحت را از چشم سلاطین ظلم و ستم گرفته و قدرت و شوکت ظاهری طاغوت متکبر را شکسته، وجهه و اعتبار بین المللي خون آشامان مظلوم کش را در سطح جهان از بین برده و از همه مهمتر قدرت واقعي ایمان های شکست ناپذیر را در پیش چشم جهان و جهانیان با افتخار و اقتدار تمام به نمایش گذاشتید؛ آفرین بر شما و مانده نباشید!!!

جهاد در افغانستان به برکت اخلاص و دلسوزی فرزندان واقعي کشور دیگر همه جا را فرا گرفته است و همه اقوام و ملیت های مختلف ، با نظری واحد و ایماني مستحکم به اجرای این فریضه مقدس الهي روی آورده اند ؛ امروزه از هر کجای افغانستان صدای اسلام خواهي و حریت طلبي و نجات کشور از چنگال وحشیانه استکبار جهاني به گوش مي رسد ؛ از قندهار تا بدخشان ، از هلمند تا هرات ، از نیمروز تا فاریاب ، از بادغیس تا جلال آباد ، از مزار شریف تا کابل ، از غرب افغانستان تا شرق و از جنوب تا شمال ، از قلب کشور تا مرزها ؛ خلاصه اینکه از همه جا ملت قهرمان افغانستان با بیداری و هوشیاری کامل ندای بر حق جهاد را سر مي دهند ؛ (وعملا) یا صفوف جهاد تشکیل مي دهند و یا با تمام شوق و ذوق ایماني خود ، مجاهدین را تمویل ، کمک و همیاری مي کنند ؛ دیگر همه از کفر اعلان برائت مي کنند و از فساد گسترده ، رشوه ستاني ، اعمال نامشروع غیر اخلاقي ، ظلم بي امان غرب پرورده ها و حکومت دست نشانده به ستوه آمده ، و حکومت عدل الهي را در سایه امنیت سرتاسری و آزادی کامل کشور از شر بیگانه های غارتگر را فریاد مي زنند!!!

و اینهمه ثمره اخلاص پیهم مجاهدیني هست که از ابتدای ورود شوم اشغالگران خارجي و تباني نوکران وطنفروش داخلي ، تا به امروز با قبول کردن هزاران در هزار قرباني های طاقت فرسا ، بر راه جهاد و مقاومت ، استوار و محکم مانده اند و دشمنان دین ، ملت و خاک افغانستان را از جاهایي مورد تعرض و حمله قرار مي دهند که قبول آن برای دشمنان خیلي سخت و ناگوار ؛ ولي پراهمیت تلقي مي شوند و هرگز در تصور دشمنان نمي آمد که روزی از مناطقي مورد یورش مجاهدین قرار بگیرند که فکر مي کردند هیچ راهي نفوذی برای مجاهدین نیست چه از نظر استحکامات امنیتي و چه از نظر استقبال مردمي ؛ و امروز بخاطر همان دست کم گرفتن قدرت ایمان و زور جهاد و شهامت مجاهدین ، چوب مي خورند ؛ و هیچگونه احساس آرامش و امنیت نداشته و در آینده نیز نخواهند داشت و فرزندان غیور و به حق کشور (در خطه بدخشان) مي روند تا از بدخشان هلمندی دیگر بسازند ... ان شاءالله!

و هرچه زمان برای پایان یافتن ماموریت نظامي اشغالگران خارجي نزدیک تر مي شود ؛ (طبعا) ناتواني ، ضعف ، فساد ، اختلافات ذات الیني ، تشویش و نگراني های دولت دست نشانده و وابسته نیز به اوج خود رسیده و بیشتر مي شوند ؛ و در عین حال بي لیاقتي و بي کفایتي ارکان اجیر و فرومایه ، پیش چشم خارجي ها بیش از پیش نمودار گردیده است ؛ و برعکس آن علي رغم انف دشمنان دیرینه و پر کینه ، بر قدرت چشمگیر و نفوذ گسترده مجاهدین در بخش های مختلف در کشور ، روز به روز افزوده شده و چانس پیروزی فرزندان غیور (و به حق افغانستان) بهتر و بیشتر بطرف تثبیت و باور قطعي مي رود .

دارزګان ولایت دجهادي چارو عمومي مسؤل مولوي محمد شفیق له مورچل سره په مرکه کې :

ارزګان ولایت کې خارجیان له ټولو مهمو قرارګاوو تښتېدلي او اجیري ملېشې یې په ډېري وار خطایي د تېښتي لار لټوي.

ارزګان ولایت چې د افغانستان له مرکزي ولایاتو څخه شمېرل کېږي جنوب ته یې کندهار او زابل، شمال ته یې دایکوندي ، ختیځ ته یې غزنی او لوېدیځ ته یې د هلمند ولایت موقعیت لري. اروزګان ولایت دافغانستان له هغو ولایاتو څخه شمېرل کیږي چې زیاته برخه یې غرونو نېولې او هواري ځمکې ډېري کمې لري. دغه ولایت چې نږدې درې پرځلور برخې یې غرنی دي ۱۲۲۷۴ کېلومتره مربع مساحت لري اونفوس یې د وروستیو شمیرنو له مخې نږدې څلورلکه تنه ښودل شوی دی. اروزګان په مرکز ترینکوټ سربېره پنځه ولسوالی یا اداري واحدونه لري چې له دهراود ، چورې ، چارچینو ، چنارتو او خاص روزګان څخه عبارت دي.

ددغه ولایت اوسېدونکي که څه هم په اقتصادي، روغتیایي او د ژوند په نورو برخوکې زیاتې ستونزې لري او ډېری خلک یې د ژوند لازمي اسانتیاوې نلري مګر په غیرت ، کلکې عقیدې او د اسلامي سنګر په ساتلو کې له ښه نامه څخه برخمن دي. د شوروي یرغل پرمهال یې نومیالي غازیان درلودلي. د امریکایي یرغل په مقابل کې د اتلوشاه زلمیانو پوخ سنګر پاتې شوی او د اسلامي امارت په جهادي صفوفو کې هم ډېر مشران او د سنګرونو قهرمانان له دغه ولایت سره تړاو لري.

مورچل مجلې دا ځل د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې د ارزګان ولایت له جهادي مسئول محترم مولوي محمد شفیق صاحب سره مرکه کړې او ددغه ولایت د وروستیو جهادي پرمختګونو او جریانو په اړه یې ورسره د زړه خواله کړې ؛ هیله ده جهادي تنده مو پرې ماته شي.

پېژندنه :

مولوي محمد شفیق صاحب په کندهارښار کې زېږېدلی لومړنۍ زده کړې یې همدلته ترسره کړې او د منځنیو او لوړو اسلامي زده کړو لپاره یې د دارالهجرت په مختلفو مدارسو کې درسونه لوستي

اوله شیخ الحدیث علامه عبدالغني صاحب رحمه الله څخه د حدیثو ددوري په لوستلو سره له اسلامي علومو فارغ التحصیل شویدی.

د اسلامي تحریک د تأسیس په لومړیو کي یې له نورو ملګرو طالبانو سره یو ځاي جهاد پیل کړ او د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال یې په نیمروز او هرات ولایتونو کي ښلابیل مسئولیتونه ترسره کړي دي، پر افغانستان د امریکایانو له وحشي حملې لا کال نه وو پوره شوی چې په کندهار ښار کي یې چریکي ګروپونه منظم کړل او له ملګرو سره یو ځاي یې پر دښمن چریکي حملې پیل کړې. مولوي محمد شفیق صاحب له تېرو دوو کلونو راهیسي د اسلامي امارت په تشکیلاتو کي د اروزګان ولایت د عمومي مسئول په حیث دنده ترسره کوي.

پوښتنه: محترم مولوي صاحب که مهرباني وکړئ د مرکې په پیل کي د اروزګان ولایت پر عمومي جهدي بهیر او په دغه ولایت کي پر وروستیو حالاتو رڼا واچوئ.

ځواب: په ارزګان ولایت کي الحمدلله جهادي بهیر له لویو بریاوو سره د پرمختګ په حال کي دی او په نژدې راتلونکي کي له لوي الله جل جلاله څخه د سترو فتوحاتو امید لرو، د دغه ولایت ډیري داسي سیمې وې چې مخکي مجاهدینو پکي دقدم اینبودلو ځای نه درلود، مګر اوس د الله جل جلاله په فضل مجاهدین هلته پراخ شتون لري او دښمن یې له سیمې تېښتي ته اړ کړیدی، بلکه د خوښۍ خبره داده چې په ارزګان ولایت کي خارجیان له ټولو مهمو قرارګاوو تېښتېدلي او اجیري ملښې یې په ډېرو ارخطایي د تېښتي لار لټوي، که تاسو د اسلامي امارت د جلب او جذب کمپسیون لخوا د تسلیم شویو افرادو وروستۍ شمېرې کتلې وي هلته اروزګان ولایت دهغو ولایاتو په لومړي قطار کي راځي چې تر ټولو زیات عسکر پکي تسلیم شویدي.

پوښتنه: محترم مولوي صاحب تاسو په دې وروستیو کي د اروزګان ولایت په بیلا بیلو ولسوالیو کې له جهادي سنګرونو لیدنه کړې او وروسته ګرځیدلي یاست که د موجوده وضعیت په اړه معلومات راکړی مهرباني به مو وي.

ځواب: ما د ارزګان ولایت ټولو ولسوالیو ته سفر وکړ، د مرکز ترینکوټ د اړوندو مهمو سیمو په شمول مې په دهراود، چارچینو، چوره، خاص اروزګان او چنارتو ولسوالیو کي له مجاهدینو سره په سنګرو کي وخت تېر کړ او ټول وضعیت مې له نژدې وکوت. الحمدلله د اروزګان ولایت په ټولو ولسوالیو کي امریکایان او استرالیایان له خپلو نظامي مراکزو تېښتېدلي او یوازي یې د مرکز ترینکوټ په هوایي ډګر کي فوځیان پاتي دي، مجاهدین الحمدلله په لوړ مورال له اجیري اردو، پولیسو او اربکیانو څخه د سیمو په تصفیې او د هغوی په مقابل کي په پراخو تعرضي حملو بوخت دي او تر اوسه یې ډیري سیمې ددوي له ناپاک شتون څخه پاکې کړیدي.

پوښتنه: مولوي صاحب که مشخصاً د هغو سیمو په اړه معلومات راکړی چې دا مهال د مجاهدینو لخوا تصفیه شوي او ددښمن په وړاندي مجاهدین سنګرونه پکې لري

ځواب: مجاهدین الحمدلله د ارزګان ولایت د مرکز ترینکوټ په اړوندو سیمو پای ته وي، سپمرغاب او دروښان، لوړ دروښان، مرآباد، خانقا، لنګر، ګرمو او چنارکي قوي حضور لري او د ترینکوټ په ښار کي د چریکي عملیاتو ترڅنګ په نومورو سیمو کي هم مجاهدین کامیاب عملیات ترسره کوي.

په چارچینو ولسوالي کي د خود او خوني په نامه بشپړ ناوې او د ګوارګین او دّوانو پراخي سیمي د مجاهدینو تر کنټرول لاندي دي، چې یادي مفتوحه سیمې د ټولي ولسوالۍ اتیا فیصده برخه تشکیلوي، یادي ولسوالۍ ته ددښمن ډېر زیات متوجه دی او د مجاهدینو پرمختګ سخت وار خطا کړیدی، ددښمن د وار خطایي اټکل تاسو له دې څخه کولای شئ چې یوازې په ټېرو دریو میاشتو کي داخلي او خارجي دښمن پنځه ویشت ځله چاپې وهلي او دغې ولسوالۍ ته له کندهار او ترینکوټ څخه له دوه ویشتو زیاتي قوې او نظامي قطارونه راغلي او د مجاهدینو له سخت عکس العمل سره مخ شویدي.

دهراود ولسوالي چې له امریکایي اشغال ځخه وروسته امریکایانو د اروزګان ولایت په سطحه خپله لویه قرارګاه پکي جوړه کړېوه، د دښمن د پراخ نفوذ سیمه وه چې او سمهال یې مجاهدینو الحمدلله مهمي سیمي فتح کړي او د تنګي او غاړو د سیمو په شمول په زیاتو سیمو کي قوي حضور لري او د اجیرو ملېشو تلفات هم پکي زیات دي، د مجاهدینو د عملیاتو په ترڅ کي په دې ورستیو کي د اجیرو عسکرو یوازې پنځلس تنه قوماندانان وژل شوي دي.

خاص ارزګان ولسوالي چې د مجاهدینو تر واک لاندي سیمي یې تر اویا فیصده زیاتي دي د امریکایي ځانګړو ځواکونو د روزل شوي قاتل حکیم شجاعي د ۲۵۰۰ اربکیانو او مجاهدینو ترمنځ د جګړې تود ډګر دی او چې کله د دغه ظالم اربکیان د مجاهدینو له لوري په جګړه کي ووژل شي دوي یې انتقام له عام اولس نه اخلي، د مخکښو خونړیو پېښو په تعقیب په دې ورستیو کي کله چې د دغه ظالم یو شمېر ملېشې د مجاهدینو له لوري ووژل شوي دوي په خپل ډارن عمل سره د دې پرځای چې له مجاهدینو سره مخ مخ مقابله وکړاي شي د عام اولس پر کورونو یې چپاو راوړ، د متکزو د شالۍ په ناوه کي یې نژدې ټول کورونه وسوځول، د دغه سیمي وړوکي بازاریې ټول چور کړ او د یوه مجاهد د ورور کورته یې پداسي حال کي اور واچاوه چې یو کوچنی ماشوم هم هلته موجود وو، هغه ماشوم هم له کورسره یوځای لولپه سو او په شهادت ورسېد.

د چنارتو ولسوالي چې مخکي مجاهدینو ته پکي هرډول عملیات خورا سخت وه اوس مجاهدین پکي پراخ شتون لري او له دغې ولسوالۍ سره ګاونډ د مرکز اړوند د مرآباد ترسیمي مجاهدین را نژدې

شوي دي او الله جل جلاله ته امید لرو چي په نژدې راتلونکي کي يې ټولي سيمي فتح شي، په دغه ولسوالۍ کي مخکي داسي اوږمهاله اولسي ستونزي لاينحله پاتي وې چي حلول يې ډير ستونزمن وه مګر کله چي زه هلته ورغلم دالله جل جلاله په نصرت سره مي هغه ستونزي هواري کړې او د سيمي له مشرانو سره په مفاهمه کولو دوي له اسلامي امارت سره هر ډول همکاري ته چمتو شول.

د چورې په ولسوالي کي الحمدلله مجاهدين زيات فعال دي او د دغه سيمي د يوه ظالم اربکي قوماندان علاء الدين په وژلو سره اربکيان سخت کمزوري شوي او د کنيسان په ناوه کي چي مخکي هلته د مجاهدينو ورتګ ناممکن وو اوس الحمدلله مجاهدين کامياب عمليات کوي او سيمي د دښمن له شتون څخه پاکوي.

پوښتنه: څه موده مخکي د اروزګان ولايت په مرکز ترينکوټ کي يوه کاميابه فدايي حمله ترسره شوه چي د دښمن د لويو قوماندانانو په وژلو سره يې هغوي ته لوي ګوزار ورکړ، آيا تاسو د خپل اوسني سفر په ترڅ کي د دغه برید اثرات او د دښمن په عملياتو کي مو د کمۍ او کمزورۍ کومي نښې وليدې؟

ځواب: بلي هو؛ تاسو ته له بشپړ ځواب درکولو مخکي بايد ووايم چي په اروزګان ولايت کي د کرزي رژيم امنيه قوماندان مطيع الله داسي يو کس دی چي د ولايت، قوماندانۍ، استخباراتو او بالاخره د ټولو چارو مسئوليت يې په خپل لاس کي نيولی او دا هرڅه د خپلو امريکايي بادارانو په بشپړ ملاتړ او خوښه ترسره کوي، د امريکايي يرغل په اولو کلونو کي مطيع الله د خپلې کورنۍ او نژدې اقربا وو څخه يوه ټولګه ځوانان امريکايي استخباراتو ته وسپارل ترڅو د چاپو وهلو تعليم ورکړي او هغوي هم په کوم بهرني هيواد کي دده دا خواهش ورپوره کړ، له هغه وروسته په اروزګان ولايت کي اکثره چاپې د دغو روزل شوو کسانو لخوا وهل شوي او ډېري ميندي يې بوري کړيدي، کله چي په ترينکوټ کي د قوماندان مطيع الله د ريزرف کنډک پرلوړپورو چاروا کو اتلوال فدايي برید ترسره سو ۲۱ تنه نظامي کسان پکي مړه او ټپيان سول، په وژل شويو کسانو کي د مطيع الله خان خاص قومندانان او معاونين لکه دده لومړی مرستيال قومندان محمدزی تکر، ميدو دولايت د ټولو چاپو مشر، قومندان عيسی محمد د قومندانۍ مالي، قومندان رحمت الله د چاپو کارکونکی او قومندان سات محمد اوداسي نور شامل وه، همدا راز په ټپيانو کي د مطيع الله ورور شفيع الله، قومندان دستګير او ګل آغا شامل وه، دغه فدايي برید د دښمن ملا ورماته کړه، مه په سيمه کي د دغه برید سره هممهاله د چاپو بند بدل او د دښمن وارخطايي وليدله، ځکه په لږي پرتو سيمو کي اجيري ملېشې پر مجاهدينو او عام اولس چاپې د ځان خلاصۍ او بېغمۍ لپاره حيرتي عمليات بولي او که نه وي نو دوي به مجاهدين ژوندي ونيسي، کله چي د چاپو عمومي مشر او نور عسکر ووژل شول نو دوي سخت وارخطا دي او د تېښتي لار لټوي، د دغه برید په پايله کي بل انکشاف چي رامنځته شو هغه د مطيع الله او ده ته د نژدې

کسانو او خادیانو ترمنځ سخت اختلاف دی، دوي تر اوسه پدې نه پوهیږي چې فدایي څرنګه وتوانېد چې کنډک ته ورننه او د مهمو چارواکو په منځ کې فدایي حمله ترسره کړي، خلاصه دا چې دوي په خپل منځ کې سخت سره بې اعتماده شوي.

پوښتنه: مولوي صاحب محترم تاسو مخکې له سیمې د بهرنیو ځواکونو د تېښتې خبره وکړه که ووایاست چې د خارجیانو تېښتې پر داخلي ګوډاګیانو څومره تاثیر کړیدی؟

ځواب: د خارجیانو په تېښتېدلو سره یې ګوډاګیان الحمدلله په ډېر وارخطا حالت کې قرار لري او پر دوو ډلو وېشل شویدي: لومړی ډله یې هغه ده چې د حقایقو په درک کولو سره یې پر خپلو تېرو کړو توبه ایستلې او د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شویدي او دا بهیر لا ګړندی روان دی او بله ډله یې هغه ده چې لا د ګوډاګۍ رژیم په لیکو کې د مظلوم اولس په ځوروولو بوخته ده، هره ورځ په مختلفو بهانو د خپل اولس په شهادت رسولو، بندي کولو او غلاوو سره ځان د دنیا او آخرت تاوانې کوي، دغه ډول خلکو ته د اسلامي امارت مجاهدین سخت متوجه دي چې ترڅو یې دغه خلک یا له منځه نه وي وړي او یا یې توبې ته نه وي اړ ایستلي ترهغو به د دوي په وړاندې برحقې مبارزې ته دوام ورکوي.

پوښتنه: مولوي صاحب تاسو په خپلو خبرو کې د دښمن د تسلیمدونکو کسانو په اړه خبره وکړه که مهرباني وکړي په ارزګان ولایت کې د دښمن د تسلیمېدونکو کسانو په اړه درنو لوستونکو ته لنډ معلومات ورکړی.

ځواب: هغه دقیق او کره معلومات چې موږ د اسلامي امارت د جلب او جذب کمیسیون څخه ترلاسه کړي په تیرو اوولسو میاشتو کې په ارزګان ولایت کې **۵۲۹** تنه عسکر تسلیم سوي چې ۱۲۱ میله کلاشنکوفونه، ۳۱ میله ثقیل ماشیندار، ۸ آرپي جي راکټان، ۲ میله ایم شپارلس ډوله پرمختللي توپک، دوه ۷۰ تکه، یو ۱۰۰ تکه، ۱۱ وړې مخابرې، ۲ هوانه، ۲ دهشکې او ۴ موټران د اسلامي امارت مجاهدینو ته تسلیم کړیدي.

په دومره زیات تعداد د دښمن د عسکرو تسلیمېدل د دې ښودنه کوي چې ګوډاګیان د خپلو بادارانو له تېښتې وروسته ډېر وخت ځان نشي ټینګولای او که خدای جل جلاله کول ډېر ژر به د ګوډاګي رژیم د عسکرو د حقایقو د درک کولو او تسلیمېدلو بهیر پراخ او ډله ایز شي او له الله جل جلاله څخه د سترو فتوحاتو او نصرتونو امید لرو.

پوښتنه: د اروزګان ولایت هغه سیمې چې دا مهال د مجاهدینو تر واک لاندې دي؛ تاسو یې څنګه اداره کوئ؟ که په دغه سیمه کې د اسلامي امارت د اداري تشکیلاتو په اړه درنو لوستونکو ته معلومات ورکړی خوښ به سو.

ځواب: ارزګان ولایت لکه د افغانستان د نورو ولایاتو په څېر الحمدلله د اسلامي امارت له لوري مکمل اداري تشکیلات لري او دا تشکیلات په نظامي او ملکي دواړو برخو کې موجود دي، مورچل په هره ولسوالي کې یو نظامي مسئول او یو د ملکي چارو مسئول لرو چې له دوي سره د تعلیم او تربیې، ارشاد او دعوت/جلب او جذب، مؤسساتو او شرعي محکمې مسئولین یوځای خدمت کوي او خپلې چارې سمبالوي. د اولسي او حقوقي مسائلو د حل په موخه د ولسوالۍ ملکي مسئول او قاضي شپه او ورځ د خلکو په خدمت کې وي او د دوي هرې ستونزې ته د حل لارې لټوي.

همدارنګه د ولایت د ټولو اړونده ولسوالیو مجاهدین فعال مخابراتي سیستم لري چې په خپل منځ کې د رابطې، د نظامي فعالیتونو د انسجام او د پېښو د خبر رسولو لپاره د ولایت د مرکزي مخابرې سره په تماس نیولو کې ګټه تري اخلي، د ولسوالیو د نژدې سیمو لپاره هم مخابراتي سیستم فعال دی او په ولسوالۍ کې سره نژدې مجاهدین د عملیاتو ، ترصد او معلومانو لپاره ورځنه ګټه اخلي.

پوښتنه: مولوي صاحب ! آیا ولسوالیو ته د خپل سفر په جریان کې مو له اولسي خلکو سره د خبرو پرمهال داسې ستونزه یا غوښتنه ترلاسه کړه چې اولس د اسلامي امارت له مشرانو یکې مرسته غوښتې وه ؟

ځواب: هو ،اولسي خلکو په هره سیمه کې له ما او د اسلامي امارت له مشرتابه نه په کلکه داغوښتنه کول چې زمورږ داولادونو تعلیم او تربیې ته زیاته توجه وکړئ. د ارزګان ولایت متدین اولس له لسو کالو ځخه زیاته موده کېږي چې د جګړو ، د اشغالګرو له مظالمو او د داخلي ګوډاګیو نو له بې کفایته اداري ، فساد او ځور ځخه کړېږي، اوس چې الحمدلله مجاهدینو د غه ولایت زیاتې سیمې ترخپل واک لاندې راوستې او دا بهیر لا ګړندی روان دی ؛ دامنیت په تأمیندلو سره د دې زمینه مساعده شوې چې هلته زمورږ بچیان نور د جهالت په تاریکیو کې پرېښودل شي، د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې کمیسیون له محترم مشرتابه نه مې هیله داده چې د غه ځوریدلي اولس ته چې اکثریت بچیان بې له تعلیمه بې برخې دي ؛ زیاته توجه وکړي او هلته مدرسې او ښوونځي په پراخه کچه پرانیزي.

د اولسي خلکو بله غوښتنه د اسلامي امارت له مشرتابه نه داوه چي د خلکو د حقوقي مسائلو پرسر د رامنځته شويو اختلافاتو په لیري کولو کي ورسره مرسته وکړي او په هره سیمه کي شرعي محکمې جوړي او حق حقدار ته ورسوي، د خلکو د دغي غوښتني په برخه کي الحمدلله ډېر کارشوی او په اکثرو مناطقو کي شرعي محاکم عملاً خپل کارونه پرمخ ببیي او د لا پرمختګ او بهترۍ لپاره به يې په راتلونکي کي انشاء الله نوري هڅې هم کوو.

پوښتنه: مولوي صاحب که دمرکې په پاي کي د اروزګان ولایت مؤمن اولس ته کوم پیغام لرې مهرباني وکړئ !

ځواب: د ارزګان ولایت مسلمان ، پردین مین او مجاهد پرور اولس ته مي پیغام دادی چي د الله جل جلاله په نصرت سره ستاسو مجاهدو بچیانو نړیوال کفري یرغلګران مات کړي او ډېر ژر به يې انشاء الله د تېښتي ړغ واوړئ، مکار دښمن هم د خپلې تېښتي په ترڅو شیبو کي ارام ندی ناست، هره شېبه دا فکر کوي چي څنګه له مؤمنو افغانانو د بري تاج واخلي او دوي په خپل منځ کي په جنګ جګړو سره اخته کړي، د اروزګان د مسلمان اولس له هوښیارو مشرانو مي دا غوښتنه ده چي نور مه پرېږدئ چي ستاسو اولادونه کفار او د دوي مزدوران په مکر او فریب خپلو لیکو ته جذب کړي او دنیا او آخرت يې ورخراب کړي، تاسو له خپل نفوذ، مشرتوب او محبوبیت نه پوره کار واخلئ او هغه کسان چي د اجیري اردو، امنیت ملي، پولیسو او خاصتاً د اربکیانو په شکل د ګوډاګي رژیم په خدمت کي دي ؛ دې ته وهڅوئ تر څو د دوي له لیکو راجلا او د اسلامي امارت په پُرامنه لمن کي هوساژوند غوره کړي.



د اسلامي امارت په استازیتوب زه تاسو ته ډاډ درکوم چي ستاسو هره نېکه مشوره مورډ منو او عملي کولو ته يې د خپل توان مطابق چمتویو، په آخر کي دیوې خبري غوښتنه درڅخه کوم او هغه داچي ستاسو خپل مجاهد بچیان ستاسو هرډول مرستي ته ضرورت لري لطفاً يې ترنظر لاندي ولرئ !

والسلام علیکم ورحمة الله

چیره خور غرب بانگ آزادی

سعیدی

بتاریخ (۹-۸-۲۰۱۳)بمناسبت یاد بود از سالگرد کشته شدن مسعود کنفرانسي در کابل بر گذار گردید در این کنفرانس سیاف بار دیگر بخاطر اعتماد سازی وخوش نگهداشتن باداران غربیش غیظ خودرا در برابر مجاهدین امارت اسلامي چنین بیان داشت نمبر – 1 گویا (مجاهدین امارت اسلامي افغانستان مزدور هستند لذا با مزدور مصالحه ومذاکره صورت نگیرد . نمبر 2 طالبان روی ندارند که با ما بشینند) قبل از اینکه در ارتباط سخن این فارغ جامع الاظهر و باصطلاح رهبر جهادی تبصره نماییم تمهیدا باید بگویم که یکي معلومات است (انفارمیشن) دیگری علم است اما معیار توصیف شخص بعلم هماناعلم نافع که تعلق به اعمال خوب وپسندیده و گفتار مسایل حقه میباشد وعلم نور الهي است تشعشعاتش ظلمت وضلالت را زایل مینماید بناء الله (ج) این حلهٔ مبارک را بهر فطرت فروش عطا نمیکند چنانچه محدث معروف حضرت وکیع (ح) خطاب به امام شافعي (ح) نموده میفرماید (فان العلم نور من الهي –ونورالله لایعطي لعاصي)یعني برای شقي وگمراه نور الهي که عبارت از علم است داده نمیشود اما جمع آوری معلومات را یک یهودی که در دانشگاه ودر بخش آشنایي ادیان مختلفه که درآن علوم اسلامي نیز داخل است کرده میتواند اما در عقیده وکردارش کدام تفاوت مهمي بوجود نمیاید . حالا بوجدان سلیم رجوع بکنیم شاگردیکه از یک مرکز مشهور علمي فارغ شده ، در فاکولتهٔ شریعت بصد ها متعلم درس قرآن وحدیثراياد داده ودر زمان اشغال روس ها فتوای جهادرا داده در مقام رهبریت وزعامت جهادی قرار گرفته و.....امروز جهاد بر حق علیه صلیبي ها را تحریف ، اشغال بواح غربي هارا توجیه ، کشتار ومظالم اشغالگران را اغماز و بفداییان اسلام چنین توهین وجرأت را مینماید ضمیر هر شخص بیدار حکم میکند که اینگونه عناصر فطرت خدا داد خویشرا ضایع نموده در انجام خداوند متعال نور خودرا از قلبش کشیده ودر عوض مهر کتمان حقایق و هرزه سرایي را لگانده . اگر ازاین مدافع اشغال گران غرب پرسیده شود جهاد یکه در زمان تجاوز روسها مشروعیت داشت با جهاد امروزی چه تفاوتي دارد ؟ وادارهٔ نام نهاد کرزی با ادارهٔ کمونست ها و نجیب چه فرقي دارد ؟ روس ها همراه با مزدوران خویش در تطبیق فلان های شوم مسکو و کرملین از هر گونه جنایات علیه ملت مسلمان افغان دریغ نمیکرد وعین روش ننگین را بلکه نسبت بروس ها ستیزه جو تر درنده گان غربي در رأس آن امریکا با معیت فارغین فرهنگ بردگي دساتیر قصر سفید را بالای مردم مظلوم افغان تحمیل مینماید ودر حالیکه در زمان تجاوز روسها یک حکومتي از خلق وپرچمي ها وجود داشت وآنها گفته میتوانست که آمدن روسها مبتني بر یک معاهده است اما تاریخ گواه است که ادارهٔ که جناب

شما استاد در یک موقفي قرار دارید اساس وبنیادش بعداز سرازیر شدن غول های درندۀ غربي نهاده شد وشما واندیوالان تان در آن وقت کدام حکومتي نداشتید که با امریکایي ها کدام پروتکول امضا کرده باشید پس بغیرازعنوان اشغال هیچ تعبیری ندارد وعلاوه بر آن همان دوست های صلیبي تان بار بار اعتراف نمودند که ما افغانستان را در تحت اشغال خود آوردیم پس شما بفرمایید کسیکه در زیر چتر یک ادارۀ که غربي ها آنرا تأسیس نموده کار میکند واز معاشات دالری آن حظ وبهره میبرد مزدور ،غلام وبلي گوی آن غربي ها نمیباشد؟

دیروز بروطن فروشان وابسته بشرق تافۀ کفر ،الحادوغلامي را میلگاندید امروز در قطار آنها قرار گرفته در سفرۀ غلامي بانگ آزادی را میزنید عجب است یک بام دوهوا این ضمیر مسخ شدۀ شما هست که بر فرزندان اصیل وطن که با بصیرت تام وبا زراکت وهوشیاری وبادرک حقانیت فرهنگ جهاد بفرمان الهي لبیک گفته در سنگر های داغ جهاد روی آوردند وتمام مواقف دنیاوی را زیر پا نموده حتي بپارچه های تن زیبایشان هم التفاتي نکرده بر علیه استکبار جهاني میرزمند گاهي از مرجع فتوای ناتو حکم اعدام مجاهدین را میدهید وگاهي هم خود رآزاده وآزادهگان حقیقي را به القاب مزدور یاد میکنید معلوم شد که در اقلیم جسم و روح شما محبت منصب وموقف ولو بهر قیمتي باشد حلول نموده وحواس وادراک تان را جامد نموده اگر به موضوعي لب میکشایید جز از یاوه سرای ، تحریف حقایق وتوجیه ا باطل دیگر موقفي ندارید نهایتا مصداق (واشربوا في قلوبهم العجل) گردیدید

دیگر در ارتباط جملۀ دیگر این مزدور درجه دو که گویا طالبان روی ندارند که با ما بشینند باید گفته شود که بلي مجاهدین امارت اسلامي که الحمد لله با روحیۀ عالي نظامي امروز قرار دارد ضرورتي دیده نمیشود که با این چنین هیکل هایمسخ شده در میز مذاکره نشسته در حل معضلۀ افغانستان بحث وگفتگو نماید ونمي خواهد چهره های منحوس شان رامخاطب خود قرار بدهد چرا که اینهادرساختمان پارلمان جز از پوزیشن سازی واختلاس اموال عامه کدام برنامه وموضوعي ندارند چونکه همۀ نقشه ها وپلان ها اعم از سیاسي ،نظامي ،فرهنگي از آنسوی مرز انتقال میابد اینها در برابر آقایان شان جز از جسم های بیجان وهیکل های بیروح چیز دیگری نیستند پس مذاکره با همچون کالبد های خالي وبي حس بالخصوص در رابطه به موضوع وطن ومردم هیچ معنای ندارد آیا کدام اختیار بر نفس هایشان دارند که فرا تر بروند بسر موضوع یک کشور صحبت نمایند ودر سر نوشت یک ملت ابتکاری بخرچ بدهند ملت آگاه ومجاهد پرور افغان بیقین رسیدند که در افغانستان تنها وتنها پلان های ترتیب شدۀ غرب وصلیبي ها تطبیق میشود وکشور شان توسط صلیبي ها بي رحمانه اشغال شده وجهاد مقدس ،دفاع از نوامیس ملي ودفاع ازحریم اسلام را فریضۀ خود میپندارند وچهره های که دیروز بخاطر منافع شان شهر ها وهم شهری مارا بخاک خون یکسان نموده بودند ،بخوبي میشناسند وهیچ وقت به هرزه گویي های آنها فریب خورده پهلوی فرزندان اصیل ومجاهد خود را خالي نمیگذارد (یریدن لیطفؤا نورالله بافواههم والله متم نوره ولو کره الکافرون)

ذبیح الله " مجاهد"

څوشېبې له خپل ولس سره

پوښتنه : دشهامت مجلي چې د افغانستان داسلامي امارت په امتیاز خپریږي، پرلپسې څلویښتمه ګڼه مې کتله. په ۵۹ ام مخ کې په مقوس لیک لیکلي وو(دټولو دیني مدارسو لپاره واحد تعلیمي نصاب)ترې لاندې مبارک حدیث(طلب العلم فریضة ...)او ژباړه یې په پښتو ژبه کښل سوې وه.سریزه هم پښتو وه او په پای کې لیکلي وو(پورتنی نصاب دابتدایي اومتوسطې په شمول په یولس درجو کې دټولو افغاني دیني مدارسو لپاره واحد نصاب ترتیب شوی او په عملي کولو یې هرمحترم مدرس او طالب العلم مکلف دی. ومن الله التوفیق)

دانصاب داسلامي امارت دتعلیم او تربیې کمیسیون جوړ کړی و.

مهال ویش له ابتدایي پیل او په درجه حادي عشر(۱۱) (دوره حدیث) پای ته رسیده ،درسي ساعتونه دورځې اووه وو. ډیرکتابونه په عربي ژبه ووچې باید وي.خودعربي ترڅنګ دري(فارسي) هم څرګند ځای درلود. پیل یې په ابتداییه کې په پنج کتاب ، دوام یې ګلستان ، بوستان... او پای یې په درجه تاسعه(۹) کې په مثنوي شریف شوی وو.

دتعجب ځای راته داوو چې له پیله تر پایه دپښتو په هکله نه دکوم کتاب نوم لیدل کیده او نه کوم درسي ساعت ورته ځانګړی شوی وو.

زه نه پوهیږم چې ددې لپاره پښتو نه وه چې هغه خو مورنۍ ژبه ده ، دهرچا زده ده. خوداخبره دمنلو وړ نه ده، ځکه له ځینو پرته، همدا کسان په پښتو لیکنه کولای نسي او که دغسي وای بیاخوبه زموږپوونده ټول دپښتو لیکوالان وو او دعربو اعرابیان به ټول دقرآن کریم په باریکیو پوهیدل. که وایي چې دا نصاب دفارسي ژبو لپاره دی، هم نه منل کیږي، ځکه هغوی هم پښتو ته اړتیا لري او دهغوی به بیا فارسی ته اړتیا نه وه ځکه مورنۍ ژبه یې ده په خپله به یې زده وي. له ماسره دژبې په هکله تعصب نشته خو داوایم چې په مورنۍ ژبه زده کړه خورا اسانه او دهرچا حق دی.

په هر حال، زه خو په رښتیا ورته حیران سوم ،که په اړه یې ځواب راته وویل شي ډیره به ښه وي.

مزمل حقمل

د پورته ورور پوښتنه او اندیښنه مو د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې له کمیسیون ددیني برخې له مسئولینو سره شریکه کړه ، هغو په دې اړه لاندې وضاحت او ځواب را استولی چې زه یې کټ مټ تاسو ته لاندې خپروم.

ځوابـ د تعلیم او تربیې کمیسیون څه موده مخکې د(۱۴۳۳) هجري کال درجب میاشت او د(۱۳۹۱) لمریزکال دجوزا میاشت او(۲۰۱۲) میلادي کال دجون په میاشت کې ددیني مدارسو لپاره یو متفقه واحد تعلیمي نصاب ترتیب کړ چې دامارت له مقام څخه منظور شو او بیا د شهامت په مجله پرلپسې څلویښتمه ګڼه کې خپور شو

چې دټولو اړونده دیني تعلیمي ادارو او ټولو مینه والوته دخوشحالي یو زیری ده چې د اسلامی تعلیماتو د څرنګوالي، توحید او کیفیت دلوړوالي په ډګر کې یولوی ګام پرمخ واخیستل شو ، د وخت او شرائطو غوښتنو ته مثبت ځواب وویل شو.

یو ورور په دې اړه پوښتنه کړې ، د اسلامی تعلیماتو په دغه نصاب کې یې دژبې ارخ ته کتنه کړې او بیا یې له فارسي ژبې په اړه ګیله کړیده او ... مونږ د دې ترڅنګ چې په اړه دفني او مسلکي علماوو او باحساسه اشخاصو نظریات تو او مشورو ته سترګې په لار یو تر څو دنصاب دکیفیت دلوړوالي او په مسلکي توګه دنصاب دلانبه والي په اړه زمونږ سره مرسته وکړي خو له خپلو دوستانو څخه داهیله هم لرو چې دمختلفو نصابونو خپل معیارونه ، مشخصات او ځانګړتیاوې هم په نظر کې ولري او په دې برخه کې دپوره معلوماتو په رڼا کې خپل نظر څرګند کړي، مونږ نو موږې کس ته دنصاب دځینو مشخصاتو په اړه یو څو لنډې نکتې او یوه ګیله مخ ته ایږدو هیله ده د انصاف له مخې قضاوت پرې وکړي.

معلومات مو دادي:

۱. لکه څنګه چې تاسې پخپله هم پوهیږئ چې دغه نصاب د اسلامي او دیني تعلیماتو لپاره جوړ شوې دی ، د اسلامی او دیني تعلیماتو بنسټ او بنیاد د قران کریم او حدیث نبوي «صلی الله علیه وسلم» په زده کړه او دهغو پر لفظي او معنوي مزایاوو باندې پر پوهیدلو ولاړ دی او دغه دواړه (قرانکریم او حدیث نبوي «صلی الله علیه وسلم») په عربي ژبه دي او عربي ژبه دفصاحت او بلاغت په لحاظ دبې شمیره حکمتونو څخه ډکه ده چې د دغه نصاب زیاتره فنون لکه صرف ، نحو ، معاني ، بیان ، بدیع او . دعربي ژبې دګرامر، فصاحت او بلاغت او نورو ارزښتونو دزده کړې لپاره ځای شوي دي نو آیا ضروري نه ده چې دعربي ژبې دزده کړې لپاره د داسې موثرو وسائلو له لارې استفاده وشي؟

۲: دغه نصاب کوم نوی جوړ شوی نصاب نه دی بلکه دفنونو په لحاظ زمونږ د اسلامی تاریخ یوه ډیره پخوانۍ لړۍ ده چې زمونږ دنیکو اسلافو څخه راپاتې ده اوس صرف دفنونو او کتابونو په لحاظ درجه بندی پکې شوې ده خو له پخوا څخه تر اوسه دا دول تبصره مونږ نده اوریدلې ، نه پوهیږو چې اوس د دې ضرورت څنګه احساس شو؟

۳. تر اوسه د ديني او اسلامي تعليماتو د نصاب په چوکاټ کې د پښتو د اسې مشکل او سخت کتاب نه ده راغلی چې درسي ويلو ته ضرورت ولري او که موجود وای نو به خامخا تدريس کيدلای.

۴: په دغه نصاب کې ځينې کتابونه چې د وخت له غوښتنو سره سم داخل شوي او پرته له عربي په نورو ژبو وو لکه (اردو) هغه ټول مورډ په پښتو يا فارسي سره ترجمه کړي او چاپ کړي او د مدرسو په واک کې مو ورکړي دي

۵. د فارسي ژبې کتابونو د موجوديت په اړه مورډ دا وايو چې د فارسي ژبې کتابونه لکه (پنج کتاب، گلستان، بوستان او مثنوي) دا ديوه علمي فن په حيث لکه ديني احکام، ادبيات، تصوف او تاريخي واقعيتونو په توګه راغلي دي نه ديوې ژبې په توګه.

۶: د پښتو بلکې د هرې ضروري ژبې د زده کړې لپاره مورډ ځانګړي د عصري تعليماتو اداره له ابتدائي يعنی کليوالي کچې څخه نيولې د پوهنتون او مسلکي تعليمي ادارو تر کچې پورې لرو چې په هغو کې د هرې ضروري ژبې خصوصاً د پښتو ژبې د ګرامر، لغت، اصل او قوانينو د زده کړې پوره انتظام او اهتمام شوی دی چې په مسلکي لحاظ د هغې په زده کړه سره يو ځوک د ژبې متخصص او ليکوال جوړيدای شي، مينه وال کولای شي د دغو ادارو له لارې چې هغه هم زمورډ د تعليمي لړۍ يو جزء لاينفک دی خپله مينه ماته کړي او خپلې ژبې ته خدمت وکړي، چې مونږ پخپله د کليوالي مدرسو لپاره د درېو کلنو يو نصاب په پښتو کې ترتيب کړی او غواړو چې د فارسي ژبې لپاره يې فارسي ته هم ترجمه کړو.

او ګيله مو داده:

دغه د ژبې مينه وال ولې د عصري تعليمي ادارو نصابونو ته متوجه نه دي چې زمورډ د دين، وطن او فرهنګ دښمنانو پرته له نورو خرافاتو او لاس وهنو يوازې د ژبې په لحاظ ځومره تيری کړی او د نصاب زده کړه او تعليم يې په ځينو لوړو اداروکې په پردی ژبه لازمي ګرزولي او نور هم کوښښ روان ده تر څو ټولې عصري اداري د خپلو ژبو تر اثر لاندې راولي او هرڅه په پردی ژبه ولوستل شي چې دا نه کوم ديني ضرورت دی او نه هم فني او مسلکي اړتيا.

آيا نه ګورئ! چې په ځوانانو او د عصري تعليمي ادارو په شاګردانو کې يې د بهرنيو ژبو ځومره د شوق او رغبت فضا رامنځ ته کړې ده؟ تر څو د پردیو ژبو د زده کړې لپاره په رسمي او شخصي کورسونو کې د خپل وس تر اندازې پورې فيس او اجوره ورکوي. تر څو پردی ژبه زده کړې چې د نصاب په زده کړه کې ستونزه ونه لري، نو اوس ايا داخبره پرځای نه ده چې د هغو تر څنګ تر ممکن حده کوښښ وشي چې د عربي ژبې زده کړې لپاره هم زمينه برابره شي تر څو زمورډ ځوانان او راتلونکی نسل د قران کريم د لفظي اعجاز او د فصاحت او بلاغت له کچې خبر شي او په ديني عقايدو کې يې نور قوت راپيدا شي، د خپل دين په ژبه پوه شي، د خپل پيغمبر په خبره مخامخ پوه شي، هيله ده ټول مسلمانان په دغه خدمت کې زمورډ سره شريک شي.

والسلام

دعوت او ارشاد

د ۲۰۱۳ز، د دعوت ، او ارشاد د (سپتمبر) د میاشتې تفصیلي راپور

دافغانستان اسلامي امارت د دعوت ، ارشاد ، جلب او جذب کمیسیون په هڅو ، دځایې مجاهدینو په ملاتړ د تېرې څېرد سپتمبر په میاشت کې هم دهیواد په لرا و بر کې د کابل د شورېدلي رژیم دپیلابیلو ارګانونو څخه ۸۷۸تنه بااحساسه هیوادوال راوویل او داسلامي امارت سره یوځای شول.

دوی مختلفه النوع سلاوي او وسایط مجاهدینوته وسپارل اوژمنه یې وکړه چې نور به د خپل دولس ترځنګ دریږي او دیرغلګرو صلیبیانو او دهغوی د اجیر رژیم پرضد یې به خپله اسلامي او ملي وجیبه جهاد کوي او د اسلامي امارت د مجاهدینو پوره ملاتړ به کوي.

د اسلامي امارت مجاهدینو په تېره د دعوت او ارشاد ، جلب او جذب کمیسیون مشرت به د دوی همدانیک اقدام ډیرو ستایه ، جایزې او انعامونه یې ورکړل ، د سرا و مال د حفاظت تضمین یې ورکړ او دلوی الله څخه یې د دارینو کامیابي او سرلوړي ورته وغوښتل.

تفصیل یې په لاندې ډول دی:

د سپتمبر په ۱ نېټه د پروان ولایت په شینوارو ولسوالۍ کې 2 تنه پولیس دکونړ په چپه دره کې ۲تنه عسکر ، د پکتیا په خیرکوټ ولسوالۍ ۴تنه اربکیان او د ننګرهار په حصارک ۸تنه عسکر او د پکتیا په زرمت ولسوالۍ کې ۱تن عسکر ، د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې ۲تنه اربکین او د میدان وردګ ولایت په نرخ ولسوالۍ ۲تنه عسکر د مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په ۲ نېټه د پروان ولایت په شینوارو ولسوالۍ کې ۱تن اربکیا و د ننګرهار په مهمند دره کې ۳تنه عسکر او پکتیا په ځاځي اریوب کې ۳تنه اربکیان ، د فریاب ولایت په قیصار ولسوالۍ ۲تنه ، او د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې ۱تن له مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په ۳ نېټه دپروان ولایت په شینوارو ولسوالي ۱تن عسکر ،دلغمان په علیشنګ کي ۵تنه اربکیان ،دکاپیسا ولایت به نجراب کي ۲اربکیان اودپکیتیا په احمدابادکي ۱تن اربکی ،دبادغیس ولایت داب قمري ولسوالی کي ۱تن ،اودکندهارولایت کي ۵تنه عسکر له مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په ۴ نېټه دفراه ولایت دبالابلوک ولسوالي کي ۱تن اربکی، دپکتیاپه سیدکرم کي ۱تن عسکر اودپروان ولایت په شینوارو ولسوالی ۲ تنه اربکیان له مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په مختلفو نېټو دکونړ مختلفو ولسوالیو او کلیو نه د اجیرې اوردو پولیسواو اربکیوله لیکو څخه ۲۸۵ تنه کارکونکي دکابل دمنفورژیم څخه رابیل اوداسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځاي شول.

د سپتمبر په ۵ نېټه دروزګان ولایت ددهراود ولسوالي کي ۱۸تنه عسکرله فسدی اداری راجلاشول دپکتیکاپه اورمای کې ۲ سرحدي پولیس اودننګرهارپه حصارک کي ۷پولیس او ۳تنه اربکیان دقومندان سهیل زامن له مجاهدینو سره یوځای شول.

دسپتمبرپر۶مه نیټه دکندهار ولایت کی ۳تنه عسکر ،دننګرهارولایت په سپین غرولسوالی کې ۴۰ تنه پولیس او عسکر چې دکلونو را هیسې یې په مختلفو ولایاتو کې د کابل اداري په امنیتي ارګانونو کې دنده اجرا کوله داسلامی امارت دمجاهدینو سره یوځای شول دغه رازدغزنی ولایت ددهیک، قرباغ، خوګیانو ،رشیدانو اوګیلان په ولسوالیو کی ۳۰تنه عسکردکابل له شړیدلی اداري څخه راجلا اوداسلامی امارت ملګری شول. همدارنګه دهلمند دموسی قلعه ولسوالی کي قومي مشرمحمدجان خان چي داربکیانومشرو و دحقائقو په درک کولو سره دفسدی اداری له صفه راجلاشو اوداماارت له عفوی مستفید شو.

د سپتمبر په ۷ نېټه دهرات دشین ډنډ په ولسوالي کي ۲تنه اربکیان ،دفراه دبلابلوک ولسوالی کي ۲تنه اربکیان ،دروزګان ولایت دخاص روزګان ولسوالی کي ۸تنه پولیس ،دهلمند ولایت دسنګین ولسوالی کي ۲تنه عسکر دکابل اداري له لیکوراووتل ،دننګرهر ولایت په اچین ولسوالی ۱تن عسکراو دهرات ولایت دشین ډنډ په ولسوالی کي ۱تن عسکر له مجاهدینو سره یوځای شو.

د سپتمبر په ۸نېټه دپکتیاپه جاني خیل کې ۱تن عسکر،دکندهار ولایت دمعروف ولسوالی کي ۱تن عسکراودکندوزولایت په علي ابدکې ۳تنه اربکیان له مجاهدینوسره یوځای شول.

د سپتمبر په ۹ نېټه ددایکنډی ولایت دګزاب په ولسوالي کي او دبیری ،شیران، تمیزان، قوخوراوداسي نورو کلیو کي ۲۹کسان له فاسد حکومت څخه راووتل اوداسلامی امارت ملګری شول. دغه رازدپکتیکا ولایت دجاني خیل ولسوالی کي داردو ۲تنه عسکر،دهلمند ولایت دسنګین ولسوالي کي ۲تنه عسکراوپکتیمرکزګردیزته نژدې ۲تنه عسکردمجاهدینوسره یوځای شول.

دسپتمبرپر۱۰مه ددایکنډی ولایت دګزاب ولسوالی کي ۱تن عسکرله مجاهدینوسره یوځای شو.

د سپتمبر په ۱۱ نېټه دروزګان ولایت مرکز ترینکوټ په بیلابیلو کلیو ۱۵تنه اربکیان ، دهرات ولایت دپښتون زرغون په ولسوالی کي ۹تنه اربکیان له فاسدی اداری څخه راجلاشول ،دپکتیکا ولایت په یحی خیل ولسوالی ۴تنه اربکیان،دتخارولایت اشکمش کي ۱تن عسکر، دروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالی کي ۲تنه عسکر له مجاهدینوسره یوځای شول.

د سپتمبر په ۱۲ نېټه دبلخ ولایت په البرز ولسوالی ۴تنه اربکیان ،دهرات ولایت دادرسکن په ولسوالي کي ۲تنه عسکر او دکندهارولایت دخاکریزولسوالی کي ۱تن اربکی له مجاهدینوسره ملګري شول.

د سپتمبر په ۱۳ نېټه دبغلان په مختلفوولسوالیوکي ۲۷تنه داردواوپولیسوعسکر،دپکتیکا ولایت په یحی خیل ولسوالی کي ۲تنه اربکیان ، دهلمند ولایت دباغران ولسوالي کي ۷تنه اربکیان او دګرشک ولسوالي کي ۲تنه عسکر داسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شول.

دسپتمبرپر۱۴مه دفراه دبالابلوک ولسوالي کي ۱عسکر،او دهلمند ولایت دزمینداورکي ۱تن عسکرله مجاهدینوسره یوځای شو.

د سپتمبر په ۱۲ نېټه دلغمان ولایت په دولت شاه ولسوالی کي ۴تنه اربکیان ،دپکتیا ولایت په احمداباد ولسوالی کي ۱تن کماندو عسکر اودغزنی ولایت دګیلان ولسوالي کي ۱تن عسکر له مجاهدینوسره یوځای شو.

د سپتمبر په 17 نېټه دفاریاب ولایت ددولت اباد په اولسوالي کي ۵تنه عسکر،اودپکتیکا جاني خیل کي دخوشامندامنیه قومندان عبدالرحمن سیلاب له ۵عسکروسره دمجاهدینوسره یوځای شو.

د سپتمبر په ۱۸ نېټه دننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ ۳تنه عسکر، اودهلمند دواشیر په ولسوالي کې ۵تنه پولیس له مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په ۱۹ نېټه دننګرهار ولایت په خوګیانو ولسوالۍ ۱تن اربکی اودپکیتاپه څمکنو کې ۵تنه عسکر، دلغمان ولایت په علیشنګ ولسوالۍ کې ۱۵تنه عسکرله مجاهدینو سره یوځای شول.

د سپتمبر په 21 نېټه دهلمندولایت دواشیر ولسوالی کې ۳تنه او دګرشک ولسوالی کې ۱تن عسکر ،دمیدان وردګ ولایت په چک ،جغتواوسیدابادکې ۳۸ تنه حکومتي کارمندان(اربکیان، اوردو ، پولس، او په اصطلاح ملي امنیت) له فاسدې اداري راجلا اود اسلامي امارت له مجاهدینو سره ملګرې شول.دغه رنګه پرهمدې نېټه دننګرهارولایت په چپرهارکې دانتخاباتومحلي رئیسان(عوض اورحمت الله) له مجاهدینو سره یوځای شول.

دسپتمبرپرمختلفونیټود جوزجان ولایت په خمیاب، درزاب، فیض اباد ، خانقاه او آقچه ولسوالیوکې ۲۷ تنه عسکرد اسلامي امارت له مجاهدینو سره یوځای شول.مجاهدینو دیادو عسکرو تود هرکلی کړی او په سیمه کې د ارام اوسپدو ډاډ یې ورکړی او عسکرو له مجاهدینو سره وعده کړې چې نوربه په ګوډاګۍ اداري کې دکارکولو په ځای له مجاهدینوسره وروښو سره اوږه په اوږه د دین او وطن دفاع کوي.

دسپتمبرپر۲۳مه دروزګان ولایت دچوری ولسوالي کې ۱تن عسکردمجاهدینوسره یوځای شو.

دسپتمبرپر۲۴مه د بادغس ولایت دمرغاب په لسوالی کې ۲تنه عسکر دمجاهدینوسره ملګري شول

دسپتمبرپر۲۵مه دهلمند دلشکرګاه بنار اوسیدونکي ۲تنه عسکر له فاسدې اداري راجلا اوداسلامی امارت ملګري شول

داسلامي امارت مجاهدینوته سپرل شوي وسلې اووسایط چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱تانګ، ۱۳۴میله کلاشینکوفونه ،۱۱میله ثقیل \ پیک ،۸راکټ ارپي جي ،۲تکتیر،۴هوانونه ۲سل ډزي ،۱غټه مخابره ،۲وړې مخابرې ،۱۵۰۰ثقیل مرمي ،۲۰۰۰دکلاشینکوف مرمي ،۵چانټې ،۱توپانچه موترا و۱موترسایکل

پیوسته به گذشته.....

ام الفضل (لبابه بنت حارث)

مادر دانشمندامت و امام تفسیر

سعادت و خوشبختی ام الفضل تنها در این حد نبوده و بس، بلکه سعادت و شادمانی اش با پسر محبوبش «عبدالله بن عباس» مضاعف شد. پسری که در شعب ابی طالب موقع محاصره ای که قریش بر بنی هاشم تحمیل کرده بود، به دنیا آورد. این امر سه سال قبل از هجرت بود. ام الفضل، نبوغ پسرش و تبحر و تفوقش در علوم و دانش های دینی را می دید، و آن مژده عظیمی را به یاد آورد که پیامبرص موقعی که ام الفضل، عبدالله را در شکم داشت، به او داده بود.

از ابن عباس روایت شده است که می گوید: ام الفضل بنت حارث برای من حدیثی نقل کرد و گفت: در حالی که من عبور می کردم و پیامبرص در اتاق بود، فرمود: «ای ام الفضل!». گفتم بله، ای رسول خدا. فرمود: «تو به پسری حامله می شوی». گفتم: چگونه می شود در حالی که قریش سوگند خورده اند که زنان، فرزندی را به دنیا نمی آورند؟ آن حضرت فرمود. «آن چه به تو گفتم، همان می شود. هرگاه وضع حمل کردی، او را نزد من بیاور». وقتی او را وضع حمل کردم، وی را نزد پیامبرص بردم. پیامبرص او را عبدالله نام نهاد و آب دهانش را به کام او مالید و فرمود: «او را ببر، در آینده او را انسانی زیرک و باهوش خواهی یافت». نزد عباس رفتم و این خبر را به او دادم. او لبخندی زد و سپس نزد پیامبرص آمد. عباس، مردی زیبا و بلندقد بود. وقتی پیامبرص او را دید، به سویش رفت و پیشانی اش را بوسه زد و او را در سمت راست خود نشاند. سپس فرمود: «این فرد، عموی من است، هرکس خواست، عمویش را پدر خود بداند». عباس گفت: ای رسول خدا، چرا چنین می گوئی؟ آن حضرت فرمود: «چرا این را نگویم در حالی که تو عموی من، و باقیمانده پدران من هستی و عمو به منزله پدر است.»

نائل آمدن به دعای پیامبرص برایش

ابن عباس در حدود سی ماه، همراه و همنشین پیامبرص بود. او انسانی خوش چهره، زیبا، بلندقد، باهیبت، خردمند، وارسته و از افراد پخته و کامل بود.

از ابن عباس روایت شده است که می گوید: پیامبرص مرا به سینه خود چسباند و فرمود: «خدایا، حکمت را به او بیاموز.» در روایتی دیگر آمده که ابن عباس می گوید: «پیامبرص دستی بر سرم کشید و از خداوند خواست که حکمت را به من بیاموزد.»

از ابن عباس روایت شده است که رسول خدا ص در خانه میمونه بود. من آب وضو را در شب برای پیامبر ص آماده کردم. ابن عباس می گوید: آنگاه میمونه گفت: ای رسول خدا، عبدالله بن عباس، این آب را برای تو آماده کرده است. آن حضرت فرمود: «خدایا، فهم و درک دین را به او عطا کن و علم تأویل را به او بیاموز.» همچنین از ابن عباس روایت شده است که می گوید: رسول خدا ص دوبار برای من دعا کرد که حکمت به من داده شود.

پیامبر ص وفات یافت و ابن عباس تنها سیزده سال داشت. او دانشمند امت بود و به خاطر فراوانی علمش، بحر علم نامیده شد. و عمر و عثمان م او را همراه اهل بدر به جلسه شورا دعوت می کردند تا نظر خودش را اظهار نماید. او تا موقع وفاتش در زمان خلافت عمر و عثمان، فتوا می داد. این چنین خداوند سینه مادرش را شادمان گرداند وقتی می دید که قدر و منزلت و جایگاه او روز به روز، بالا می رود.

جبران مافات

پس از آن که عباس، اسلامش را آشکار کرد، ملازم و همراه پیامبر ص بود و هرگز از او جدا نمی شد. در جنگ ها و موقعیت های حساس همراه پیامبر ص حضور داشت و آرزو می کرد که جان و مال و تمام دارائی اش را فدای آن حضرت کند.

در روز حُنین، وقتی مردم شکست خوردند و از اطراف پیامبر ص پراکنده شدند، عباس ملازم و همراه پیامبر ص بود و از او جدا نمی شد.

عباس رضی الله عنه می گوید: وقتی مسلمانان و کفار با هم برخورد کردند، مسلمانان عقب نشینی کردند. و رسول الله ص استرش را در جلو کفار می دواند و من افسار استر رسول الله ص را می گرفتم و آن را می کشیدم تا سرعت نگیرد. و ابوسفیان شتر آن حضرت را گرفته بود. آن گاه رسول خدا ص فرمود: «ای عباس! اصحاب بیعت رضوان را صدا بزن. ( )» عباس. که مردی بلند آواز بود. می گوید: با صدای بلند گفتم: اصحاب بیعت رضوان کجایند؟ عباس گفت: به خدا قسم، وقتی صدایم را شنیدند، دلم برایشان سوخت.»

زیرکی و هوشیاری

ام الفضل زیباترین روزهای زندگی اش را گذراند و از سنت و بردباری و اخلاق و علم پیامبر ص برمی گرفت حتی احادیثی چند را از آن حضرت روایت کرده است. بلکه دو پسرش، عبدالله و تمّام، و انس بن مالک و عبدالله بن حارث و دیگران از او حدیث را روایت کرده اند.

گذشته از آن، خداوند او را مورد اکرام قرار داد؛ او و شوهرش عباس همراه پیامبر ص به حجه الوداع رفتند. و در روز عرفه موضع گیری عظیمی داشت.

از عمیر برده آزاد شده عبدالله بن عباس، از ام الفضل بنت حرث روایت شده است که در روز عرفه چند نفر در نزد او (ام الفضل) راجع به روزه رسول خدا ص با هم نزاع داشتند. عده‌ای گفتند: آن حضرت، روزه است و عده دیگری گفتند: او روزه نیست. پس من هم لیوان شیری را برای آن حضرت فرستادم در حالی که او در عرفه روی شترش بود. پس آن شیر را نوشید.

فراقی دردناک

در حالی که سعادت ایمانی بر روی زندگی ام الفضل پرواز می‌کرد، ناگهان دید که ابر غم و اندوه بر آسمان مدینه خیمه زده است. رسول الله ص وفات یافت و ام الفضل بسیار اندوهگین و ناراحت شد تا جائی که نزدیک بود دلش پاره شود، اما صبر و تحمل پیشه کرد تا به ثواب و پاداش صبرکنندگان نائل آید.

پس از وفات پیامبر محبوبص، هم‌چنان عبادتگذار، زاهد، شب‌زنده‌دار و روزه‌دار ماند و بلکه به دنبال علم و دانش دینی می‌رفت و در راه دعوت به سوی خدا بسیار تلاش می‌کرد.

ابوبکر و عمر و عثمان قدر و منزلت و جایگاه او را نزد رسول الله ص می‌دانستند و در نهایت احترام و ادب با وی برخورد می‌کردند. او از سابقین به سوی اسلام بود و همه چیزش را جهت نصرت و یاری دین خدا، بخشید.

اینک زمان رحلت فرا رسیده

پس از آن سفر طولانی از بذل و بخشش به خاطر دین خدا، ام الفضلک بر بستر مرگ خوابید پس از آنکه چیزهای باارزشی را تقدیم کرد. برای او بس است که «دانشمند امت» عبدالله بن عباس را تحویل امت اسلام داد. او در روز قیامت در ترازوی نیکی‌های مادرش قرار خواهد گرفت، چون آن حضرت ص فرموده‌اند: «إذا مات الإنسان انقطع عمله إلاّ من ثلاث: صدقة جارية أو علم ينتفع به أو ولد صالح يدعو له»: «هرگاه انسان بمیرد، عملش از این دنیا قطع می‌شود به جز در سه چیز که در آنها تا روز قیامت، عملش هم‌چنان باقی می‌ماند این سه چیز عبارتند از: صدقه جاریه، علم مفید و سودمند، و فرزند صالح که برای او دعای خیر می‌کند.»

ام الفضل رحلت کرد تا تمام خیر و نیکی و فضل و نعمتهای جاوید را نزد پروردگارش در بهشت و قرارگاه رحمتش را بیابد.

خداوند از او راضی باد و او را راضی و خشنود گرداند و بهشت برین را جایگاهش گرداند!

از کتاب بانوان نمونه عصر پیامبر ص

جنګي جنايتونه (ستمبر)

سید سعید

دراون(۲۰۱۳ز)کال دسپتمبر پرلومړی نیټه داخلي عسکرو دبغلان ولایت په درمبک کلي کي شپږ تنه مشومان چي عمرونه يې د ۹ او ۱۴ کلو ترمنځ ووشهیدان کړي اویو هلک و نجلۍ يې ټپي کړي ده ،دعيني شاهدانو په وینا یادشوي کوچنیان وروسته له هغه دپولیسو دبرید ښکارشول چي ددوی په امریې په سیند کي له لامبو وهلو لاس وانخیست.

دسپتمبر پرلومړی نیټه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ دشیوان په سیمه کي دنظم عامه پولیسو ددرنو وسلوپه ډزوکي یوماشوم(عین الدین)شهید اویوه ښځه ژوبله شوې ده.

دسپتمبر پر۴مه د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ په منزلاري کلي دداخلي عسکرودډیسي توپ دلګیدو له امله دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دسپتمبر پر۵مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالۍ په جعفرو کي ګډوځواکونو دعملیاتو پرمهال یوعام کلیوال(عبدالولي) شهید کړی اویو بل تن يې زخمي کړی ،همدارازدغو عملیاتو په دوهمه ورځ يې دوه تنه نورولسي وګړي(خان محمد اومحمدولي) هم شهیدان کړي دي .

دسپتمبر پر۶مه د زابل ولایت دمرکز(قلات) بازار په خوتجارتي سرایونو کورنیو عسکرود غلام سخي روغ لیوني یه مشري چاپه ووهله ،لس تنه تجاران يې بندیان کړي اتلس لکه افغانۍ اونورشیان يې هم له خلګو وړي دي.

دسپتمبر پر۶مه اشغالګرودمیدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ په صالح خېل سیمه کي چاپه وهلې ،دکورنوترتلاشي کولواوخلګوته دمالي زیانونواړولووروسته يې شپږتنه ملکي وګړي بې له څه تورپوري کولو له خان سره بندیان کړي دي.

دسپتمبر پر۷مه د کونړولایت په وټه پور ولسوالۍ کې دیرغلګروځواکونو په درون حمله کي شپاړس تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي ،په شهیدانو کي اوه مشومان ،پنځه ښځي اوځلورنارینه

شامل دي. دغه پينښه هغه مهال رامنځته شوه چې دولسي خلګو دسورلۍ موټرديادي شوي ولسوالۍ څخه وګمبير سيمې ته په لاروو چې بې پيلوټه الوتکې برید پرې وکړاوټول سپاره کسان پکې له منځه ولاړل. دکونړولايتي چارواکي هم ديرغلګرو په دغه برید کې ولسي خلګو ته يادشوي تلفات تائيدوي .خو يرغلګرد تل په شان په همدې حمله کې هم دمخالفو وسله والو دوژل کيدلو دعوه کوي.

دسپتمبر پر ۸مه دکندهارولايت د ميوند ولسوالۍ په اشخاب دسيمه کې داخلي عسکرو دخپلې قرارګاه څخه ګڼ شمير دهاوان مرمۍ توغولې چې له املې بې څلورماشومان اويوه ښځه شهيده شوې اوپنځه کوچنيان ژوبل شوي دي

دسپتمبر پر ۸مه يرغلګرو دهلمند ولايت د باباجي ولسوالۍ په لوی مانده سيمه کې دچاپې پرمهال درې تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي.

دسپتمبر پر ۸مه اشغالګرو عسکرو دغزنې ولايت د خوګيانو ولسوالۍ په ولې کلاکې دتلاشيو وروسته څلورتنه ملکي وګړي بنديان کړي دي.

دسپتمبر پر ۹مه دهلمند ولايت دخانيشن ولسوالۍ په قلعه نوسيمه کې پوليسو اواربکيانو دولس تنه ملکي هيوادوال بنديان کړي دي.

دسپتمبر پر ۹مه دفراه ولايت د بالابلوک ولسوالۍ دشيوان دسپين مسجد په سيمه کې دداخلي عسکرو په ډزوکې ملاامام (مولوي عبدالرحيم) چې دهرات ولايت دشينډنډ ولسوالۍ اوسيدونکی ؤ شهيد شوی دی.

دسپتمبر پر ۱۰مه دکاپيسا ولايت د نجراب ولسوالۍ په غين دره کې يرغلګرو څواکونو داستوګنې پرسيمه بمبارکړی چې له املې بې يو سپين ږيری شهيد شوی اوځلورتنه نورولسي وګړي ټپيان شوي دي

دسپتمبر پر ۱۲مه دغزني ولايت د شلګرولسوالۍ داتل کلي دوه تنه ولسي هيوادوال (صفی الله اوعبدالله) چې څوورځې مخکې اربکيانو له ځان سره بهولي ووجسدونه بې په يوباغ کې وموندل شول ،ددوی له اجسادوداسې معلوميده چې لومړی شکنجه شوي اوبياشهيدان شوي وي.

دسپتمبر پر ۱۳مه اشغالګرو دهلمند ولايت د باباجي ولسوالۍ دکوپکي په سيمه کې دچاپې په ترڅ کې درې تنه ولسي وګړي بنديان کړي دي.

دسپتمبر پر ۱۴مه دهلمند ولايت د مارجې ولسوالۍ په عبدالله قلف سيمه کې بې پيلوټه الوتکې يوملکي سړی چې پرموټرسايکل سپورؤ شهيد کړی دی.

دسپتمبرپر۱۴مه یرغلګرو دارزګان ولایت د دهراودولسوالی دغاړو په سیمه کي دچاپې په ترڅ کي دوه تنه کوچیان ژوبل کړي اویو تن یې شهید کړی دی.

دسپتمبرپر۱۴مه د کندزولایت د چهاردرې ولسوالی په نوابادسیمه کي یرغلګرو ځواکونو دشپنیو عملیاتو په لړکي خلګو ته دډیرو مالي زیانونو اړولووروسته شپارس تنه ملکي وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دسپتمبرپر۱۵مه رسنیو خبرورکړچي دکندز ولایت په دشت ارچي او امام صاحب ولسوالیو کي داخلي عسکرواواربکیانودیولوی بریدپه ترڅ کي دولسي خلګوله کورنوڅخه موټرسایکلونه ،مختلف قیمتي توکي اوځاروي له ځان سره وړي ،هیره دی نه وي چي ملکي خلګوته یادشوي زیانونه هغه مهال واوښتل چي دکابل حکومت دکندز دشت ارچي او امام صاحب په ولسوالیو کې دطالبانو پر ضدد عملیاتو پیل اعلان کړ.

دسپتمبرپر۱۵مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالی دشبار دچمبرانو په سیمه کي نیواکګرو عسکرودوه تنه ولسي افغانان له کوره ایستلي وروسته چي خلګ دمعلوماتو لپاره پسي ورغلل یرغلګروهمدادوه کسان په دغه سیمه کي دانګوروپه یوباغ کي شهیدان کړي ؤ.

دسپتمبرپر۱۲مه دغورولایت د تیوري ولسوالی په بازارکي اربکیانودوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړي دي.

دسپتمبرپر۱۲مه دکاپیسا ولایت د نجراب ولسوالی په افغانیه اوغین دره کي دکورنیو عسکروپه هوایې ډزوکي دوه تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي ،څلورنځي اودوه نارینه پکي ژوبل شوي دي.

دسپتمبرپر۱۷مه یرغلګرود بلخ ولایت د البرز ولسوالی په ۴ساري سیمه کي دچاپې پرمهال پنځه تنه ولسي وګړي له ځان سره دبندیانو په توګه وړي دي.

دسپتمبرپر۱۸مه دفراه ولایت د پشتکوه ولسوالی مرکزته نژدې دولسوالی استخباراتي عسکرویو ملکي هیوادوال (لعل محمد)ترنیولووروسته شهیدکړی دی.

دسپتمبرپر۲۰مه د پکتیکاولایت داومنه ولسوالی په مرکزي سیمه کي داخلي عسکرودخلګو پرکورونودچاپې پروخت لس کسه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دسپتمبرپر۲۰مه دمیدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالی په اونخي دره کي اشغالګرو عسکرو یوتن محصل (ضیاءالرحمن)چي دسید جمال الدین دښوونځي داتم ټولګي زده کونکی ؤشهیدکړی دی.

دسپتمبر پر ۲۱ مه دزابل ولایت د شاجوی ولسوالی په سریزو کلي کي دیر غلګرو اوداخلي عسکرو په چاپه کي دوه ملکي هیوادوال شهیدان اودوه تنه ژوبل شول. ددې پیښې په دوهمه ورځ داشغالګرو دهمدې عمل په عکس العمل کي په زرهاو خلګو دیر غلګرو اوداخلي

عسکرو دکرنو پرضد دهمدې ولسوالی په بازارکي مظاهره وکړه ،لاریون کونکو اخطارورکړکه بیاهمداسی څه تکرارشي دحکومت پرضد به پاڅون وکړي اوپه یومخیزه توګه به له طالبانو سره ودریږي.

دسپتمبر پر ۲۲ مه نیواکګرو عسکرو دپروان ولایت د کوه صافي ولسوالی په ښرکي کلي کي یوعام سړی شهید کړی دی.

دسپتمبر د ۲۴ مي په مابنام یرغلګرو دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالی دحیدرابد په محمدزو کلي کي دچاپې په مهال خلورتنه ولسي وګړي له ځان سره دبندیانو په توګه وړي دي.

دسپتمبر پر ۲۴ مه اربکیانو دقوماندان اختر په مشري دکندوزولایت د دشت ارچي ولسوالی په مختلفو سیمو کي پنځه تنه ملکي وګړي په دې تورچې خپلوان یې له طالبانو سره دي بندیان کړي دي

دسپتمبر پر ۲۵ مه یرغلګرو اوداخلي ملګرویې دننګرهار ولایت دبتې کوټ ولسوالی په لاچپور سیمه باندي چاپه وهلې ،دوی دچاپې پرمهال اتیا (۸۰) تنه ولسي هیوادوال له خپلو کورونو څخه رایستلي ،وهلي اوټوله ورځ یې دکلي په جومات کي لاسته ترلي بندیان کړي وو ،دسیمه ییزو خلګو په وینا په دغه چاپه کي اشغالګرو اوکورنیو عسکرو ددوی له کورونو څخه نغدي پیسې ،زراو نورقیمتي شیان هم وړي دي.

د سپتمبر پر ۲۵مه د کندز ولایت مرکز اړوند د حضرت سلطان د سیمې دګارو په کلي باندې د اربکیانو په چاووکي دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي او درې تنه ژوبل شوي دي ،د ځایې خلګو دوینا په اساس اربکیانو په دغه برید کې د خلګو له کورنو څخه مختلف قیمتي توکي وړې دي.

د سپتمبر پر ۲۵مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په دوست محمد شاخ سیمه کې اربکیانو دوه تنه سپینږیري (یار محمد ګل او پهلوان) په شهادت رسولي دي.

د سپتمبر پر ۲۵مه د اروزګان ولایت د چنارتو ولسوالۍ په پاتان سیمه کې یر غلګرو ځواکونو د علمیاتو پر مهال اته تنه ولسي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د سپتمبر پر ۲۸مه د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د حیدرابادپه سیمه کې یر غلګرو د شپې پر مهال د حاجي حسن خان دانګورو پر باغ چاپه وهلې ، ځلورتنه د باغ کارکونکي یې شهیدان کړي او دوه تنه یې بندیان کړي دي.

د سپتمبر پر ۲۹مه یر غلګرو د اروزګان ولایت د چوري ولسوالۍ په تیلبي سیمه کې د چاپې پروخت دوه ولسي وګړي شهیدان کړي دي.

د سپتمبر پر ۲۹مه یر غلګرو د اروزګان ولایت د مرکزترینکوټ اړوند د پای ناوې په سیمه کې د چاپې پر مهال دوه تنه ملکي وګړي (پلار او زوی) شهیدان کړي دي

د سپتمبر پر ۲۹مه د غزني ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په مختلفو سیمو کې کورنیو عسکرو د عملیاتو پر مهال سل (۱۰۰) تنه ولسي وګړي بندیان کړي ،دوی د خلکو کورونه تلاشي کړي ،د نورو قیمتي شیانو ترڅنګ یې اتیا (۸۰) عرادې موټرسایکلونه هم له ځان سره وړي دي.

د سپتمبر پر ۳۰مه د هلمند ولایت د باغران ولسوالۍ په مشترک سیمه کې ځایې پولیسو د خپلې پوستې مخ ته پر غځیدلی سړک دوې ښځې شهیدانې کړې او یه ماشومه ژوبله کړې ده.

د سپتمبر پر ۳۰مه د پکتیا ولایت د جاني خیل ولسوالۍ په میاکاله سیمه کې د اربکیانو د سپکو او درنو ډزو له امله یو ملکی سړی شهید شوی او لس تنه ولسي هیوادوال ژوبل شوي دي.

مأخذونه: [بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،روهي وېبپاڼه ،لراوبر = ،نن ټکی اسیا = اوبینوا =]

د اسلامي امارت فرمان او اعلامیه

په دا وروستیو کې د کمونستانو درژیم د ظلمونو دلړۍ دیو لوی جرم نوی سند هم را ښکاره شو، چې د پخواني کمونست رژیم د اګسا استخباراتي ارګان لخوا زمونږ ۵۰۰۰ مظلوم او مسلمان هیوادوال د مسلمانۍ په جرم په ډلیز ډول په شهادت رسول شوي او اوس يې لست خپور شو، اسلامی امارت د افغانستان د مسلمان ملت د شهیدانو د ریښتوني وارث په توګه یوځل بیا دغه لویه غمیزه په ترټولو کلکو الفاظو غندي، د عاملینو د محاکمې ژمنه يې کوي او د شهیدانو له ورثوو، خپلوانو او کورنیو سره د زړه له تله خواخوږي ښیي، اسلامی امارت د خپل حاکمیت په زمانه کې د دغو شهیدانو موضوع ته جدي پاملرنه کړې وه، د کابل د فتحې په لومړۍ ورځ يې د دغې غمیزې ځینې مشهور عاملین د خپل عمل په سزا رسولي وو، همدا راز هغه زمانه اسلامي امارت په یو بې ساري ګام کې د سترې محکمې اودهیواد جیدو عالمانو په پلټنې او تحقیقاتو سره د دغو شهیدانو په اړه شرعي حکم معلوم کړ او په یوه فرمان کې د عالیقدر امیر المؤمنین لخوا په کمونستي دوره کې ټول نادرکه شوي افغانان شهیدان وبلل شول، فاتحې يې واخیستل شوی او د هغو د کونډو او میراث په اړه د شریعت د حکم د تطبیق غوښتنه وشوه، په یوبل ګام کې اسلامي امارت په هغه وخت کې د روسانو څخه د یوې الوتکې د نیولو په موضوع کې چې د اسلامي امارت مخالفینو ته يې نظامي سامان آلات بار کړي وه او د اسلامي امارت د هوايي ځواک لخوا په کندهار کې را کښته کیدو ته مجبوره شوه، الوتکه او روسي عمله يې ونیول شول، هم په روسانو د خبرو په جریان کې فشار وارد کړ، چې باید زمونږ د ورکوشویو افغانانو حال معلوم کړي او که د دوئ په ژوندانو کې ژوندي وي، باید را خوشې يې کړي، چې متأسفانه له ډیرو پلټنو او تحقیقاتو وروسته معلومه شوې وه، چې د هغو کسانو نه څوک ژوندي نه دی پاتې، بلکې د کمونستانو لخوا په شهادت رسول شوي دي، مورد د اعلامیې سره جوخت د شهیدانو په اړه د هغې زمانې (۴۳) نمبر فرمان هم خپروو! چې لوستوالو ته يې په اړه پوره معلومات په لاس ورشي.

د افغانستان اسلامی امارت

۱۹/۱۱/۱۴۳۴هـ ق

۷/۱۳۹۲/هـ ش ـ 2013/9/25م

د مورچل وږمي

فدايي ځوانه

قاري محمد يونس

تل مې ستا اخلاص ته فدايي ځوانه سلام دی
داجذبه چې ته لرې دا ستا دعشق انعام دی

ته چې د معشوق په مينه خپل ځان لوليه کاندې
دا د رب له لوري ستا ولوړ شان ته اکرام دی

ته چې د دې ښکلي نړۍ هره ښکلا شاته کړې
بيا پر ملائکو هم واجب ستا احترام دی

څوک چې د رښتيني عشق په راز ځان پوهول غواړي
ستا ټوټې ټوټې بشر هغو ته هم پيغام دی

کاشکې ستا د مينې په راز پوه دا څو وګړي واي
ولې د دنيا د عاقلانو فکر خام دی

حال چې يې بيان د مبارکو فدايانو کړی
ځکه د يونس هم مبارک دغه کلام دی

احساس

مولوي عبدالاحد ''حماد''

دښکلاوو زرين توري غزلونه
لونګين زونډي پرې پوري غزلونه

دنرګس په څير دارګ په سپين ګلدان کې
خدايه شنه کې طالب لوري غزلونه

چار چاپېر ترېنه اغزي خومست احساس ته
لکه وي چې په هر لوري غزلونه

راشه وليکو دشنه اسمان پر دړه
سپوږمۍ تک سپين لکه ستوري غزلونه

په ليدو دي دغزلو پيغمبر شوم
دا دی ګوره پرې را اوري غزلونه

جل وهلی مين زړه لره مي کښلي
لکه ستا دزلفو سيوري غزلونه

نقادان يې شوخې سترګې ديار بولي
چې مي وګوري سر زوري غزلونه

غلي غلي په بڼو کې دي ـــ دي غلي
راته ګوره راته ګوري غزلونه

اې! بس کټ مټ لکه تاچې ځيني اورم
چې څوک وايي په زړه پوري غزلونه

د زړه بام ته مي دخيال کوترو راوړل
ستا له کلي غزلتوري غزلونه

دحماد دزخمي زړه روي مي ور وړی
په بدرنګو که په بلوري غزلونه

عزم

(طالب جان)

څه نخرې به وکړي مستانه مینه
بیا چې په څپوده ناز دانه مینه

عزم یې دستړي انقلاب کړي
اخلي به ولګه کې زمانه مینه

نن تر اندلسه سپین ایمان وروړي
بیا به زمزمه کړي ترانه مینه

ارګه د طالب سپینه حجره به شي
سترګو دي نیولې پښتنه مینه

څار دي شم ملنګه منصوري ادا
راوړه په کچکول کې صوفیانه مینه

اوړي او را اوړي په شمله کې دي
هغه زړه ویستونکې شاهانه مینه

بار دي په لیمو باندي راوړې ده
مسته او طالبه دیوانه مینه

زر کړه جزیرې درته په تمه دي
ور وړه د اسلافو نمونه مینه

اوښکې په ګریوان د طالب جان درومي
شوه پکې زرغونه زرغونه مینه

د شعار او عمل تر منځ فاصله

احمد شاه حقوقی

د مینې نه اظهار کې معصیت درنه څرګند شي
اقرار کې د وفا یو لوی خیانت درنه څرګند شي

تګلاره که همدا وي نو اخلاص ته کفن راوړي
پوخ عزم که ویش نه شي په ذلت کې به دا ژوند شي

هر بند کې د پرېکوڼ دي خپل بادار ته وفادار شه
بنده هلته بنده دی چې حدود وکې پابند شي

د زړه باغ چې ودان د شرعیت پر لوی دستوروي
هغه وخت په دنیا کې ټول کارونه په ښه خوند شي

شعار او د عمل تر منځ دي ډېره فاصله ده
په دا ډول خطاب کې د زقوم په شان هر پند شي

هر وخت چې له خالق نه افتخار باندې فرار کړي
بېشکه آخرت کې به عذاب باندې درد مند شي

احساس د حقوقي د ویښتابه بلنه وکړه
ای کاش چې د نېستمنوو چو زړونو ته سربند شي



دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مورچل

مياشتني خبرونه

دتلفاتو مياشتنی جدول

اووم کال،اتمه ګڼه، پرلپسې ۶۰ ګڼه،شوال المکرم، ◄ ◄ ► □ - اګست

دجهادي عملياتو انځورګر ولايتونه

شماره	ولايت	صفحه
1	ارزګان	84
2	پروان	89
3	پکتيا	91
4	پکتيکا	۱۰۰
5	خوست	۱۰۴
6	دايکيندی	۱۰۸
7	زابل	۱۰۹
8	غازی آباد	۱۲۳
9	غزنی	۱۲۵
10	فراه	۱۳۰
11	کابل	۱۳۴
12	کاپيسا	۱۳۶
13	کندهار	۱۳۸
14	کنړ	۱۵۳
15	لغمان	۱۶۰
16	لوګر	۱۶۱
17	ميدان وردګ	۱۶۷

شماره	ولايت	صفحه
۱۸	ننګرهار	۱۷۸
19	نورستان	۱۸۷
20	هلمند	۱۸۷
21	قندوز	۲۱۰
22	بغلان	۲۱۷
23	تخار	۲۲۰
24	بدخشان	۲۲۱
25	بلخ	۲۲۴
26	سمنګان	۲۲۵
27	جوزجان	۲۲۵
28	سرپل	۲۲۷
29	فارياب	۲۲۹
30	هرات	۲۳۱
31	بادغيس	۲۳۷
32	غور	۲۳۸
3۳	نيمروز	۲۴۰
۳۴	پنجشير	۲۴۲
35	باميان	۲۴۲

غـــــزل

(مفتون)

دا دستور دی دژوندون دبهارونو
چې تل نه کا شفقت په سرو ګلونو
یوځل مستې شان غوټۍ په خندا کاندي
بیا یې پاڼې پاڼې کړي په خزانونو
دنیمګړې دنیا ډیر عجیب نظام دی
څوک خندیږي څوک اخته په فریادونو
یوه ورځ په کې دبلې په شان نه وي
یو ډګر دی دنیمګړو ارمانونو
چې دحسن او اخلاقو نمونې وې
نن هغه مخونه پټ دي په ګردونو
بیا دحق او دباطل مقابله ده
انقلاب دی ورځې شپې دي دجنګونو
خو ډیر زر به دشهید ارمان پوره شي
دغه مسته تقاضاده د وختونو
زه مفتون طالب چې حورو ته ډالۍ وړم
په سینه به وړمه هار دپرهارونو

ارزگـــــان

ترینکوټ کې 2 اربکیان اویوسپی ژوبل شول

داروزگان ولایت مرکز ترینکوټ اړوند دلوړ درویشان په سیمه کې په اربکیانو دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله دوه تنه اربکیان اویوسپی یې سخت ژوبل شول. 2013/9/1

ترینکوټ کې یو عسکر دچاړي په مټ ووژل شو

داروزگان ولایت د ترینکوټ اړوند دسرمرغاب په سیمه کې داجیري اردو یو تن عسکر دمجاهدینو له لوري دچاړي په توسط ووژل شو. 2013/9/2

دهراودکې شوبله تخریب 3 عسکرووژل شول

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ ولسوالۍ اړوند ددهزک په سیمه کې داجیري اردوټانک رود ته ولوېدچې په بشپړه توگه تخریب او سپاره درې تنه عسکرووژل شول. 2013/9/3

خاص روزگان : غلچکي بریدکې یواربکی ووژل شو

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ په بازار کې یو تن اربکی دمجاهدینو له لوري دغلچکي بریدپه ترڅ کې ځای په ځای ووژل شو. 2013/9/4

دهراودکې 18 پولیس اواربکیان له مجاهدینوسره یوځای شول

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ په مربوطاتو کې 18 تنه پولیس اواربکیان دحقایقوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول، په تسلیم شویو عسکرو کې سیدجان ،جیلانـــي ، عبدالحمیـــد ،محمـــدلعل ،میرحمـــزه ،محمـدولي ،سیدولي ،الله دادولـد داودشاه آغـا ،نجیب الله ،ملک باریگل ،نجیب الله، حیات الله، عبدالرحمن، زمری ولد میرحمزه ،عبدالصمد، سیدجان، ملک امان الله ، زمری شامل دي. 2013/9/4

دهراودکې یواربکی قتل بل ژوبل شو

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند ددورجي سیمه کې په اربکیانو وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې یوتن اربکی مړ اویوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/6

ترینکوټ کې یواکمالاتي موټر تخریب شو

داروزگان ولایت دمرکز ترینکوټ هوایي اډي ته دنوې سړک جوړولو په اکمالاتي مازدا موټر دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله موټر تخریب اوچلونکی یې سخت ژوبل شو. 2013/9/6

دهراودکې ټانک تخریب 3 عسکرووژل شول

داروزگان ولایت ددهراودولسوالۍ اړوند په سیمه کې دگوډاگیوعسکروټانگ ماین ښکار شو، دچاودني له امله ټانک ویجاړ، درې تنه عسکرمړه اویوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/6

خاص روزگان کې 5 پولیس 3 اربکیان له مجاهدینوسره یوځای شول

داروزگان ولایت په خاص روزگان 8 تنه پولیس اواربکیان دحقایقوپه درک کولو له اسلامي امارت سره یوځای شول، په تسلیم شویو عسکرو کې قمبر ، عیدمحمد ، اسدالله ، جمادار ، میرزا ،احمد، خان محمد اونعمت شامل دي. 2013/9/6.

دهراودکې ټانک او 4 عسکر له منځه لاړل

داروزگان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند دزرتالي په سیمه کې دگوډاگیوعسکروپه ټانک دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ویجاړ، څلور تنه عسکرمړه اویوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/8

خاص روزگان : کې دقومندان په شمول 3 عسکرووژل شول

داروزگان ولایت دخاص روزگان ولسوالۍ اړوند دسنگرپه سیمه کېددښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه جریان کې پوسته فتحه اودقومندان ولي محمد [لالا] په شمول درې تنه عسکرمړه اودرې نورسخت ژوبل شول، وروسته په سیمه کې له نورو عسکرو سره هم جگړه ونښته

چې په ترخ کې يې دښمن ته تلفات واوښتل. په جګړه کې دوه تنه مجاهدين زخميان شول. 2013/9/9

دهراود د کمين په بريدکې 2 اربکيان ووژل شول

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند د کور په مانده کې په اربکيانو وسلوال بريد ترسره شو چې په مهال يې دوه تنه اربکيان ووژل شول. 2013/9/9

چوري کې ټانک تخريب 6 عسکر مړه اوژوبل شول

دا روز ګان ولايت دچوري ولسوالي. اړوند دخوشخديرپه سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو ټانک دماين ښکار شو. په چاودنه کې ټانک تخريب. يو عسکر مړ او پنځه تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/9/9

دهراود کې د ګوډاګيو عسکرو ټانک دماين ښکاښو

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند د کور په سيمه کې د دښمن په ټانک دماين چاودنه وشوه. دچاودنې له امله ټانک تخريب اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013/9/10

دهراود کې مجاهدينو پراخ عمليات پيل کړل

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. د دور جان، مسکنيکه، شورجي، سنګ سوراخ، بازيګر اودهزګ په شپږو پوستو اودتندر کوتل، دپوتي قرارګاه، د دير ايت کوتل دساګر کوتل په پوستو پراخ وسلوال بريدونه ترسره شول. د بريدونو په ترخ کې د تو تو دپوستې قومندان [عرب] تسليم اوعسکريې په ټبښته بريالي شول. 2013/9/11

دهراود غلچکي بريدکې يو اربکي ووژل شو

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند دغرم په سيمه کې يو تن اربکي [عبدالباقي] د مجاهدينو له لوري د غلچکي بريد په مهال ووژل شو. 2013/9/11

چارچينو کې 2 پوليس له مجاهدينو سره يوځای شول

دا روز ګان ولايت دچارچينو ولسوالي. په مربوط تو کې دوه تنه پوليس [ضياء الحق اوحضرت علي] د حقايقو په درک کولو له اسلامي امارت سره يوځای شول. نومورو له ځان سره يو کلاشنکوف اوبوه چانته هم مجاهدينو ته راوړل. 2013/9/11

ترينګوټ کې په رينجر دماين چاودنه وشوه

دا روز ګان ولايت دمرکز ترينکوټ اړوند د ګرم آب دساګې په سيمه کې د پوليسو په رينجر موټر دماين چاودنه وشوه، د چاودنې له امله رينجر تخريب او دوه تنه پوليس ژوبل شول. 2013/9/11

دهراود کې ماين 2 اربکيان قتل 3 ژوبل ګرځل

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند د مزار په سيمه کې په اربکيانو دماين چاودنه وشوه چې له امله يې دوه اربکيان مړ او دري نور سخت ژوبل شول. 2013/9/11

دهراود په بريدکې 3 عسکر ووژل شول

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند دانار جيو په سيمه کې د دښمن 2 پوستې تر بريدلاندې راغلې چې په ترخ کې يې دري عسکر مړه اوځلور نور سخت ژوبل شول. 2013/9/12

دهراود کې د ګوډاګيو عسکرو ټانک په ماين والوت

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند تور ناصر په سيمه کې د ګوډاګيو عسکرو يو شين رنګه ټانک په ماين والوزول شو، د چاودنې له امله ټانک ويجاړ اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013/9/12

د دهراود په جګړه کې 3 عسکر ووژل شول

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند د شنغولي په سيمه کې له دښمن سره د رنه جګړه وشوه، په جګړه کې دري عسکر مړه اوځلور تنه نور سخت ژوبل شول. 2013/9/12

دهراود کې 3 نور عسکر ووژل شول

دا روز ګان ولايت د دهراود ولسوالي. اړوند د صاب اغا غونډۍ په سيمه کې له دښمن سره د شديدې جګړې په ترخ کې دري تنه نور عسکر ووژل شول. 2013/9/12

چارچينو کې 2 پوستې فتحه شوې

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ اړوند دزنبوري اوکشي په سیمه کې دجګړي په ترڅ کې ددښمن دوې پوسته په بشپړه توګه فتحه، دوه تنه عسکر مړه اوپه دې سربېره درې میله کلاشنکوفونه غنیمت شول. 2013/9/13

دهراودکې له دښمن سره سخته جګړه شوي

داروزګان ولایت د دهراودولسوالۍ اړوند دمسکنیک ،دورجان اوغرغري په سیمو کې له دښمن سره سخته جګړه وشوه، په جګړه کې دښمن ته درانه تلفات واوښتل خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013/9/13

چهارچینوکې پوسته فتح قومندان او 2 پولیس ووژل شول

داروزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند ددوان په سیمه کې دپولیسو په یوه پوسته وسلوال برید ترسره شو، په بریدکې پوسته فتحه اودقومندان [معصوم] په شمول دوه تنه پولیس ووژل شول، دجګړې په مهال ددښمن بې پیلوټه الوتکي دبمبارپه ترڅ کې 5 تنه مجاهدین شهیدان شول، اناالله وانااليه راجعون، وروسته سیمي ته ددښمن چورلکي راغلي اوله سختي بمباري وروسته یې ګڼ شمیر عسکرپلي کړل چې دمجاهدینوله لوري ترسخت وسلوال بریدلاندي راغلل، په دي بریدکې دښمن ته دسر درانه تلفات واوښتل خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013/9/13

دهراودکې اربکیانوخپل منځي جګړه وکړه

داروزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند دمیاندوپه سیمه کې په یوه پوسته کې اربکیانو په خپلو ملګرو دمجاهدینوپه ګمان ډزي وکړي اوددواړوډلو ترمنځ نښته وشوه. 2013/9/13

دهراودجلابریدونوکې 5 عسکرووژل شول

داروزګان ولایت د دهراودولسوالۍ اړوند دتوتوپه سیمه کې دجګړې په مهال 2 تنه عسکر اودورجان په سیمه کې درې تنه عسکرووژل شول اوڅلور تنه نورسخت ژوبل شول. 2013/9/13

دهراودجلاپېښوکې 7 عسکرقتل یورینجرویجاړشو

داروزګان ولایت د دهراودولسوالۍ اړوند دبازیګر دشهیدمانده په سیمه کې له هغوپولیسو سره سخته جګړه وشوه چې په سیمه کې د2 محاصره شویو پوستو دمرستي په موخه روان وو، په جګړه کې 4 عسکرووژل شول، همدارازپه یاده سیمه یوه چاودنه ددښمن په پلیو عسکرو ترسره شوچې له امله یې درې تنه عسکرمړه اودوه نورسخت ژوبل شول اودوهمه چاودنه بیاددښمن په یوه رینجرموټروشوه چې موټریې په بشپړه توګه ویجاړاوپکې ناست عسکریې ووژل. 2013/9/13

خاص روزګان کې دقومندان په شمول 3 اربکیان ووژل شول

داروزګان ولایت د خاص روزګان ولسوالۍ اړوند دشالي ناوې دمعلمانوپه سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، په بریدکې داربکیانو دپوستي قومندان د3 اربکیانوپه شمول ووژل شو، له دې جګړې وروسته هغه عسکرهم په شاوتمبول شول چې سیمي ته دعملیاتوپه موخه راووتل. 2013/9/13

دهراودغلچکي بریدکې 2 پولیس قتل یوژوبل شو

داروزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ اړوند دغونډۍ دپوستي پرپولیسووسلوال برید ترسره شو، په بریدکې دوه تنه پولیس مړه اویوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/14

دهراودکې ټانک اوپکې سپاره عسکرله منځه لاړل

داروزګان ولایت د دهراودولسوالۍ اړوند دګوري شیلي په سیمه کې دګوډاګیوعسکرو ټانک دماین ښکارشو، دچاودني له امله ټانک ویجاړ اوپکې سپاره عسکر ووژل شول. 2013/9/14

ترینکوټ کې تکتیکي چاودني 1 قومندان 5 پولیس ووژل

داروزګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند دیکلنګي دیخچال مانده په سیمه کې ددښمن په پوسته کې دډوډۍ خوړولو په مهال دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله

دپوستې دقومندان حاجي په شمول پنځه تنه پوليس مړه. ګڼ نور سخت ژوبل اوپوسته يې په بشپړه توګه تخريب شوه 2013/9/14.

دهراودکې اشغالګرو 2 کوچيان زخميان يوشهيدکړ

دارزګان ولايت د دهراودولسوالۍ اړوند دغاړو په سيمه کې اشغالګرو دچورلکوپه توسط عمليات ترسره کړل. دعملياتوپه مهال دښمن دوه تنه کوچيان زخميان اويوبل په شهادت ورساوه. انالله وانااليه راجعون2013/9/14

دهراودکې ددښمن قرارګاه محاصره شوه

دارزګان ولايت ددهراودولسوالۍ اړوند دباريکې قرارګاه ترلوړې محاصرې لاندې راغله. تردې دمه په جګړه کې يوتن عسکرمړاودړې نورسخت ژوبل شوي دي. 2013/9/14

چهارچينوکې ايمبولانس چورلکه وويشتل شوه

دارزګان ولايت دچهارچينو ولسوالۍ اړوند ددوان درې په سيمه کې دچاپې په مهال داشغالګرو يوه ايمبولانس چورلکه دمجاهدينوپه رسابريدکې رانسکوره اوپه بشپړه توګه ويجاړه شوه. 2013/9/15

چهارچينوکې په قرارګاه برید7 عسکرووژل شول

دارزګان ولايت دچهارچينو ولسوالۍ اړوند ديخدان په سيمه کې داجيري اردوپه قرارګاه دهشتاد 2 برید ترسره شو، په برید کې تاکل شوی هدف ولګيدچې له املې يې 7 تنه عسکرووژل شول. 2013/9/15

چهارچينوکې دګډدښمن له خواپراخه چاپه ووهل شوه

دارزګان ولايت دچهارچينو ولسوالۍ په مختلفوسيمو کې ګډدښمن 5 ځايه چاپه ووهله. په خبر کې تر دې مهاله دجګړې يا کومې بلې پېښې يادونه نه ده شوې. 2013/9/15

ترينکوټ کې ماين 2عسکرووژل

دارزګان ولايت دترينکوټ اړوند دپای ناوې په سيمه کې وپه پليو عسکرو دماين چاودنه وشوه چې له املې يې دوه تنه عسکرووژل شول. 2013/9/15

دهراودکې ماين 1 عسکرزخمي 2 قتل کړل

دارزګان ولايت ددهراودولسوالۍ اړوند دکلامرچي په سيمه کې ددښمن په پلي ګزمه دماين چاودنه وشوه، چاودنې دوه تنه عسکرمړاوبوبل سخت زخمي کړ. 2013/9/15

خاص روزګان کې 2 اربکيان قتل وسلې يې غنيمت شوې

دارزګان ولايت د خاص روزګان ولسوالۍ په بازار کې دوه تنه اربکيان چې په موټر سايکل سپاره وو دمجاهدينولپاره لوړې ديوه غلچکي بريدپه ترڅ کې ووژل شول او کلاشنکوفونه اودوې چانتې يې ولجه شوې. 2013/9/15

دهراودکې په پوستو اوقرارګاه توغنديزبريدوشو

دارزګان ولايت د دهراودولسوالۍ اړوند دحاجي ظاهر کاريزپه سيمه کې دقومندان شير کې په پوستو اوهغې ته نژدې قرارګاه باندې توغنديزبريدترسره شو، په برید کې تاکل شوي هدفونوويشتل شول خو دښمن ته داوښتو تلفاتو کره شمېره نه ده څرګنده شوې 2013/9/16

چهارچينوکې 2شوېلي تخريب 7عسکرووژل شول

دارزګان ولايت د چهارچينو ولسوالۍ اړوند دکشي ناوې په سيمه کې ددښمن ټانک په ماين والوزول شو، په چاودنه کې ټانک ويجاړاوپکې سپاره درې تنه عسکرمړه اوبوبل سخت ژوبل شو. دغه راز په همدې سيمه کې ددښمن يو بل ټانک دماين ښکار اوله منځه لاړ، په دې سربېره څلور تنه عسکرمړه اوبوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/17

چهارچينوکې 2پوستې فتح دقومندان په شمول 9عسکرووژل شول

دارزګان ولايت د چهارچينو ولسوالۍ اړوند دسياسنګ په سيمه کې دګوډاګيوعسکروپه 2 پوستو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دواړې پوستې فتحه او دقومندان [کامران] په شمول 9 تنه عسکرمړه اونورې په ټپښته بريالي

شول، په پوسته کې دوه ثقیلان، شپږمیله کلاشنکوفونه او ګڼ شمیر نور مهمات غنیمت شول، دجګړې په مهال یو تن مجاهد هم دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانااليه راجعون 2013/9/18

ترینکوټ کې ماین دسړک ساتونکی عسکر وواژه

داروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دپای ناوې دډاکتر مانده په سیمه کې دماین په چاودني یو تن سړک ساتونکی عسکر وواژه. 013/9/18

چهارچینو کې یو موټر دماین ښکار شو

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ دښاروال دزوی موټر دماین ښکار شو، په پېښه کې موټر تخریب شو خوچاته پکې مرګ ژوبله نه واوښته. 2013/9/19

چهارچینو کې شوبله تخریب 2 پولیس ووژل شول

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ اړوند دکشي په سیمه کې ددښمن ټانک دماین ښکار شو، دچاوني له امله ټانک ویجاه او دوه تنه پولیس ووژل شول. 2013/9/19

چهارچینو جلاپېښو کې 2 عسکر 2 اربکیان ووژل شول

داروزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ اړوند دیخدان په سیمه کې له ګوډاګیو عسکر وسره سخته جګړه ترسره شوه چې په مهال یې دوه تنه عسکر ووژل شول، دغه راز دکشي په سیمه کې داربکیانو په موټر سایکل دماین چاودنه وشوه چې له امله یې دوه تنه اربکیان مړه او موټر سایکل په بشپړه توګه ویجاړ شو. 2013/9/19

دهراود په ګزمه چاودني 1 اربکی قتل بل ژوبل کړ

داروزګان ولایت ددهراود ولسوالۍ اړوند دغرم په سیمه کې داربکیانو په پلې ګزمه دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله یو تن اربکی مړ او یوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/19

چوره کې ددښمن یو قومندان سخت ژوبل شو

داروزګان ولایت دچوري ولسوالۍ اړوند دکوتل په سیمه کې ددښمن دیوې پوستي قومندان [قدیم] دیوه کمین په ترڅ کې دبرید په مهال سخت ژوبل شو. 2013/9/20

دهراود په جګړه کې یو تن عسکر ووژل شو

داروزګان ولایت ددهراود ولسوالۍ اړوند ددهزک په سیمه کې له ګوډاګیو عسکر وسره دسختي جګړې په مهال یو تن عسکر ووژل شو، په جګړه کې یو تن مجاهد دشهادت لوړ مقام ته ورسید. انالله وانااليه راجعون 2013/9/20

ترینکوټ کې چره دارماین یو عسکر وواژه

داروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ دلوړ درویشان په سیمه کې داجیر دښمن په پلې ګزمه دماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله یو تن عسکر مړ او یوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/21

ترینکوټ په برید کې 2 اربکیان ووژل شول

داروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ ددیجوز په سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دوه تنه اربکیان ووژل شول او نور په تېښته بریالي شول. 2013.9.22

چوره کې ددښمن ټانک دماین ښکار شو

داروزګان ولایت دچوري ولسوالۍ اړوند دخوش خدیر په سیمه کې داجیر دښمن یو ټانک دماین ښکار شو، په پېښه کې ټانک پوره ویجاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013/9/24

چوره په وسلوال برید کې 3 عسکر مړه یو ژوبل شو

داروزګان ولایت د چورې ولسوالۍ اړوند دخوشخدیر په سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو وسلوال برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې درې تنه عسکر مړه او یوبل سخت ژوبل شو. 2013/9/24

ترینکوټ کې داستخباراتو یو عسکر قتل بل ژوبل شو

اروزګان ولایت مرکز ترینکوټ اړوند داستخباراتو مرکزته څېرمه داستخباراتو په کارمندانو دچره دارماین چاودني یوتن عسکرو واژه اویوبل یې سخت ژوبل کړ.
2013/9/24

ترینکوټ کې ماین یوعسکرو واژه

داروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند دپای ناوې دډاکټرمانده په سیمه کې ماین یوتن عسکرو واژه.
2013.9.25

چنارتو کې اشغالګرو 8 کلیوال شهیدان کړل

داروزګان ولایت دچنارتو ولسوالۍ اړوند دپاتان په سیمه کې اشغالګرو عسکر 8 تنه کلیوال دعملیاتو په مهال په ډیر وحشت سره په شهادت ورسول. انالله وانااليه راجعون 2013.9.25

چهارچینو کې قومندان اویوساتونکی یې ووژل شو

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ اړوند دخارخوردي په سیمه کې داربکیانو دقومندان [ستار] په موټرسایکلدماین چاودنه وشوه، دچاودني له امله نوموړی له خپل یوه ساتونکي سره ووژل شو اوموټرسایکل یې په بشپړه توګه ویجاړ شو. 2013/9/27

چهارچینو کې 4 اربکیان قتل 2 موټرسایکل یې تخریب شول

داروزګان ولایت دچهارچینو ولسوالۍ اړوند دخارخوردي په سیمه کېپه اربکیانو وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه ترڅ کې ددښمن دوه عرادي موټرسایکل په بشپړه توګه تخریب اووربانديي سپاره څلور تنه اربکیان ووژل شول. 2013/9/28

ترینکوټ کې ماین یوعسکر قتل بل ژوبل کړ

دروزګان ولایت دمرکز ترینکوټ مرکزاړوند دارام شاه په سیمه کېپه ګوډاګیوعسکرو تکتیکي چاودنه وشوه، چاودني یوتن عسکر مړ اویوبل سخت کړ.
2013/9/29

پروان

کوه صافي کې دیرغلګروګزمه تربریدلاندي راغله

دپران ولایت دکوه صافي ولسوالۍ په ګاوکش کلي کې دیرغلګروعسکروپه ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل.
2013-09-02

کوه صافي کې دبریدپه مهال امریکایي افسرووژل شو

دپروان ولایت دکوه صافي ولسوالۍ په ګاوکش کلي کې له امریکایي عسکرو سره خونړۍ نښته وشوه. په نښته کې یوتن امریکایي پوځي افسر مړ او ګڼ عسکر ژوبل شول.
2013-09-03

شیخ علي کې 1 موټرتخریب او 8 عسکرووژل شول

دپروان ولایت دشیخ علي ولسوالۍ مرکزته نژدې داجیري اردوپه ګزمه دوسلوال بریدپه مهال 8 تنه عسکرمړه، دسیاه ګرد ولسوالۍ امنیه قومندان او ګڼ نورعسکر ټپیان او یورېنجرپوره تخریب شو، دجګړې په مهال یومجاهدهم سرسرکي ټپي شو. 2013-09-04

پروان مرکزته څېرمه دجاسوسي اداري کارمندووژل شو

دپروان ولایت دمرکزاړوندپه هوفیان سیمه کې دجاسوسي اداري یوتن فعال کارمند (حمید) دمجاهدینو له خوادغلچکي بریدپه مهال ووژل شو. 2013-09-05

بګرام کې دبریدپه مهال 7 اشغالګروته مرګ ژوبله واوښته

دپروان ولایت دبګرام ولسوالۍ دجمشیدخېلوپه سیمه کې داشغالګروعسکروپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې 4 عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او 3 نوریې شدیدټپیان شول. 2013-09-06

بګرام کې دترافیکي پېښي له امله یرغلګروته زیان واوښت

دپروان ولایت دبګرام ولسوالۍ په جمشیدخېلوسیمه کې داشغالګروعسکروزغروال ټانګ یوې کندي ته وغورځېد، په

پيښه کې ټانګ تخريب اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. 2013-09-06

شينوارو کې ماينونو موټر او 6 پوليس له منځه وړي

د پروان ولايت دشينوارو ولسوالۍ د کفشان درې په خوله کې په اصطلاح دنظم عامه ړينجر موټر په ماين والوزول شو. په چاودنه کې موټر له منځه لاړ او 6 تنه عسکر ووژل شول. کله چې سيمې ته نور عسکر دمرو دانتقال په موخه راغلل بله چاودنه پرې وشوه چې 4 تنه يې ووژل. 2013-09-07

بګرام: دلالاغاو بصير قومندانانو ترمنځ ښنته کې مرګ ژوبله اوښتي

د پروان ولايت دبګرام ولسوالۍ د توغچې په سيمه کښ دوو قومندانانو لالا آغا او بصير دوسلوالو ترمنځ ښنته وشوه، په ښنته کې لالاآغا ټپي او يو عسکر يې ووژل شو. دغه راز دبصير قومندان يو تن عسکر مړ اوبل ژوبل شو. 201309-07

سالنګ کې 3 عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ

د پروان ولايت دسالنګ ولسوالۍ دسالنګ تونل ته نژدې داجيري ار دوپه ګزمه وسلوال بريد ترسره شو. دبريدله امله ددښمن 3 تنه عسکر مړه، 4 ژوبل او 1 ړينجر موټر تخريب شو. 2013-09-08

شينوارو کې اربکی له مجاهدينو سره يوځای شو

د پروان ولايت دشينوارو ولسوالۍ په قول هير دره کې کې يو تن اربکی (غونچه ګل) د دعوت او ارشاد کميسيون د دعوت په نتيجه کې له مجاهدينو سره يوځای شو. 20130909

شينوارو کې په موټر چاودنې 5 اربکيان ووژل

د پروان ولايت د شينوارو ولسوالۍ په خاک سنګو سيمه کې دار بکيانو ړينجر موټر په ماين والوزول شو، په چاودنه کې موټر ويجاړ، 5 تنه اربکيان مړه او 2 نور يې شديد ټپيان شول. 2013-09-09

دبګرام هوايي اډه په ميزايلو وويشتل شوه

د پروان ولايت دبګرام په هوايي اډه 2 ميزايل توغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل اوله امله يې دښمن ته درانه مالي اوځاني تلفات واوښتل. 2013-09-10

دبګرام هوايي اډه 4 ځله په توغنديو وويشتل شوه

د پروان ولايت دبګرام په هوايي اډه څلور ځله توغنديې بريد ترسره شو، په بريدونو کې ټول توغنديې په ټاکل شويو اهدافوولګېدل اوله امله يې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل خو کره شمېره يې نه ده ترسره شوې. 2013-09-11

دبګرام هوايي اډه په ميزايلو وويشتل شوه

د پروان ولايت دبګرام په هوايي اډه 3 ميزايل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل اوله امله يې دښمن ته درانه تلفات واوښتل. 2013-09-11

جبل سراج کې دتيلوټانکروسوزول شو

د پروان ولايت دجبل سراج ولسوالۍ په ټپه سرخ سيمه کې په اکمالاتي کاروان وسلوال بريد ترسره شو، په بريد کې 1 دتيلوټانکروسوزول شو اوبل تخريب شو. 2013-09-12

پروان مرکزته خپرمه دتيلوټانکرد ماين خوراک شو

د پروان ولايت مرکزته نژدې په دوسر که سيمه کې داکمالاتي کاروان ټانکر موټر په مقناطيسي ماين والوزول شو، په چاودنه کې ټانکر اور واخيست او په بشپړه توګه وسوزېد. 2013-09-12

پروان مرکزته خپرمه دتيلوټانکرد ماين خوراک شو

د پروان ولايت مرکز چاريکارو ته نژدې داکمالاتي کاروان دتيلوټانکر په ماين والوزول شو او په بشپړه توګه وسوزېد. 2013-09-13

بګرام هوايي اډه په توغنديو وويشتل شوه

د پروان ولايت دبګرام په هوايي اډه 2 توغنديې وتوغول شول، په بريد کې توغنديې په ټاکلي هدف ولګېدل او له امله

یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل. 2013-09-14

سیاه گرد کې 3 عسکر ووژل شول

د پروان ولایت دسیاه گرد ولسوالي د پول خول په سیمه کې د دښمن له عسکرو سره نښته ترسره شوه. دبریدپه نتیجه کې 3 عسکر مړه او نور په ټپي شول. په بریدکې 1 راکټ لانچر او څه مهمات ولجه شول. 20130915

کوه صافي کې پوسته تر بریدلاندې راغله

د پروان ولایت د کوه صافي ولسوالي په باباخیلو سیمه کې د دښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو. دبریدله املې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2013-09-16

بګرام : په ټانګ چاودنې 4 یرغلګر له منځه یووړل

د پروان ولایت د بګرام ولسوالي په نیازبوسیمه کې د یرغلګرو عسکرو په زغرواټانګ چاودنه وشوه چې له املې یې ټانک ویجاړ او 4 تنه عسکر ووژل شول. 20130916

شینوار و ولسوالي وډانۍ تر بریدلاندې راغله

د پروان ولایت دشینوار و ولسوالي په وډانۍ وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې دولسوالي وډانۍ پوره زیانمنه اوپکې میشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-09-17

سیدخیلو ولسوالي وډانۍ تر بریدلاندې راغله

د پروان ولایت دسیدخیلو ولسوالي په وډانۍ وسلوال بریدترسره شو. دبریدله املې دولسوالي وډانۍ تخریب خو دمرګ ژوبلې په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2013-09-18

بګرام کې په ټانک چاودنې 4 یرغلګر ووژل

د پروان ولایت دبګرام ولسوالي د قلعه بلند په سیمه کې د یرغلګرو عسکرو زغرواټانګ په مایندواوزول شو. په چاودنه کې ټانک ویجاړ او 4 تنه بهرني عسکر ووژل شول. 2013-09-21

چاودنې دشینوار و ولسوالي ولسوال ټپي کړ

پروان ولایت دشینوار و ولسوالي وډانۍ ته نژدې دځای په ځای شوی ماین په چاودنه کې ولسوال امراکو ګل اودنوموړي 3 تنه ساتونکي عسکر ټپیان شول. 201309-22

کوه صافي کې اشغالګر یو عام وګړی شهیدکړ

د پروان ولایت د کوه صافي ولسوالي دښر کې په کلي کې اشغالګر وعسکرو دعامو خلکوپه کورونو چاپه ووهله چې په مهال یې یو تن عام وګړی په خور اوحشت سره په شهادت ورساوه. اناالله وانا الیه راجعون. 2013-09-22

دبګرام هوایي اډه په میزایلو وویشتل شوه

د پروان ولایت دبګرام په هوایي اډه 2 میزایل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل اوله املې یې دښمن ته تلفات واوښتل. 2013-09-25

بګرام هوایي اډه په میزایلو وویشتل شوه

د پروان ولایت دبګرام په هوایي اډه په 2 میزایلو په دقیق ډول وویشتل شوه. په بریدکې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل. 2013-09-27

سیاه گرد کې یو اربکی ووژل شو

د پروان ولایت دسیاه گرد ولسوالي مرکزته نژدې داربکیانو په ګزمه وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې یو تن اربکی ووژل شواونور په ټپي شول. 201309-28

پروان مرکزته ځېرمه دتیلوټانکروسوزول شو

د پروان ولایت مرکزچاریکاروته نژدې دښمن په کاروان وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې یو دتیلو ټانکر په بشپړه توګه وسوزول شو. 2013-09-29

دبګرام هوایي اډه په میزایلو وویشتل شوه

د پروان ولایت دبګرام په هوایي اډه 3 میزایل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل او له املې یې دښمن ته درانه مالي اوځاني تلفات واوښتل. 2013-09-29

پکتیا

میرزکه کې ماین د 2 پولیسو ژوند واخیست

دپکتیاولایت دمیرزکې ولسوالۍ په عملګي سیمه کې دپولیسوپه پلې ګزمه درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې 2 تنه پولیس مړه او ګڼ نور ټپیان شول.2013-09-01

پټان کې یوپولیس په درازکوف وویشتل شو

دپکتیاولایت دپټان ولسوالۍ په اینځر سیمه کې یوتن سرحدي پولیس په درازکوف په نښه او وویشتل شوچې ځای په ځای ووژل شو.2013-09-01

پټان کې پوسته تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په شپولي سیمه کې دسرحدي پولیسوپه پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدله امله دپوستې ودانۍ زیانمنه شوه خودمرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوې.2013-09-01

جاني خېلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

دپکتیاولایت دجاني خېلوولسوالۍ دسروبلزیوپه سیمه کې دسلمان شاه له اربکیانوسره نښته وشوه، په نښته کې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي په هکله تراوسه پوري دقیق معلومات نشته.2013-09-01

زرمت کې یوتن پولیس له مجاهدینوسره یوځای شو

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په سهاکوسیمه کې یوتن پولیس(نصیب الله) ددعوت او ارشاد کمیسون دهڅو په نتیجه کې له مجاهدینوسره یوځای شو. 201309-01

شواک کې 4 موټرتخریب او 5 عسکرووژل شول

دپکتیاولایت دشواک ولسوالۍ په ستوکنډو سیمه کې داجیري اردوپه موټریزه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال 5 عسکرمړه، 4 نورسخت ژوبل اوپه دې سربېره 4 عرادې رېنجرموټرپوره تخریب شول، کله چې مجاهدین له سیمي ووتل په سروټي سیمه کې پرې دبې پیلوټه الوتکي له خوابمبارو شوچې له امله یې 2 مجاهدین دشهادت لوړمقامت ته ورسېدل، انالله وانااليه راجعون.2013-09-02

جاني خېلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

دپکتیاولایت د جاني خېلوولسوالۍ په میاکاله سیمه کې له اربکیانوسره درنه نښته ترسره شوه، په نښته کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې.2013-09-02

پکتیاکې ددښمن په ګزمه چاودنه اوبریدوشو

دپکتیاولایت مرکزګردېزته نژدې دتېرې په سیمه کې ددښمن په ګزمه چاودنه اوبریدترسره شو، په پېښو کې دښمن ته داوښتو تلفاتوپه هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.2013-09-02

پکتیامرکزته څېرمه په موټرچاودني 4 پولیس ووژل

دپکتیاولایت مرکزګردېزته نژدې سیمه کې دپولیسوپه رېنجرموټر دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټرپوره تخریب، 4 تنه پولیس مړه او 2 تنه نورسخت ټپیان شول.2013-09-02

په زرمت کې دبریدپه مهال 4 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ د کولالګوپه سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال ددښمن 2 عسکروخپل ژوند له لاسه ورکړ او 2 نورشدیدټپیان شول.2013-09-03

زرمت کې داجیري اردوپه ګزمه بریدوشو

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ د ګلدادخېلوپه سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې 1 عسکرټپي شو او نورپه تېښته بریالي شول.2013-09-03

احمداباکې دبریدپه مهال 2 پولیس ټپیان شول

دپکتیاولایت داحمدابا ولسوالۍ په پیروزخېلوسیمه کې دپولیسوپه ګزمه دوسلوال په مهال ۲ تنه عسکرټپیان شول، په ټپیانوکې یوتن صاحب منصب او بل پولیس فاروق شامل دی.2013-09-04

دپکتیاپه سیدکرم کې کمپاین په هلوان وویشتل شو

دپکتیاولایت دسیدکرم ولسوالی په مش سیمه کې ددښمن په کمپاین دهاوان بریدترسره شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتوپه هکله دقیق معلومات نشته.2013-09-04

پتان کې په قرارگاه دهاوان بریدوشو

دپکتیاولایت دپتان ولسوالی په ځیلګر سیمه کې دسرحدي پولیسو قرارگاه دهاوان په 6 مرمیوودقیق وویشتل شوه، دبریدله امله ډقرارگاه ودانی تخریب شوه خودمرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې.2013-09-04

په پوسته برید، 2 عسکرووژل شول

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالی دزاو په سیمه کېداجیري اردوپه پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه مهال دپوستې ودانی زیانمنه،2 عسکرمړه اوبل سخت ژوبل شو.2013-09-05

لجه منګل ولسوالی، ودانی تربریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دلجه منګل ولسوالی په ودانی دسپکواودرنو وسلو بریدوشواوپه عیني وخت کې دعمومي سرک په سر ددښمن ګزمه هم تربریدلاندې راغله، په بریدکې دولسوالی ودانی زیانمنه او دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته.2013-09-05

سیدکرم کې کمپاین په هاوان وویشتل شو

دپکتیاولایت دسیدکرم ولسوالی په مش سیمه کې ددښمن کمپاین دهاوان په 5 مرمیوودقیق وویشتل شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتې زیان په اړه معلومات نشته.2013-09-05

احمدابا کې په ټانک چاودنې 3 پولیس ووژل

دپکتیاولایت داحمدابا ولسوالی په کوز فیروز خېلوسیمه کې دپولیسو ټانک په ماین والوزول شو، چاودنې ټانک تخریب،3 تنه پولیس مړه او2 یې شدیدټپیان کړل.2013-09-06

جاني خېلوکې په اربکیانوبریدونه وشول

دپکتیاولایت دجاني خېلوولسوالی په سنزایوسیمه کې په اربکیانو درې ځله وسلوال بریدونه ترسره شول چې په ترڅ کې یې اربکیانوته درنه مرګ ژوبله واوښته.2013-09-06

پکتیامرکزته څېرمه 1 پولیس ووژل شواوبل ټپي شو

دپکتیاولایت مرکزګردېزته نژدې په ابراهیم خېلوسیمه کې دپولیسوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې 1 پولیس ووژل شواوبل سخت ژوبل شو.2013-09-07

په زرمت کې په موټرچاودنې 2 عسکرووژل

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالی په مقرب خېلوسیمه کې داجیري اردو رېنجر موټرپه ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر تخریب،2 تنه عسکرمړه او2 نورې شدیدټپیان شول.2013-09-07

زرمت : په ګزمه برید، 3 عسکرووژل شول

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالی په نیک نام سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې 3 عسکرمړه او2 نورشدیدټپیان شول، په دې سربېره 2 موټرهم تخریب شول.2013-09-07

ځاځي اریوب کې په پوسته برید، 1 اربکی ووژل شو

دپکتیاولایت دځاځي اریوب ولسوالی دسکندرخېلو په سیمه کې داربکیانوپه پوسته وسلوال بریدترسره شو، دبریدله امله 1 اربکی ووژل شو او1 رېنجرموټر تخریب دغه راز دپوستې ودانی هم زیانمنه شوه.2013-09-08

جاني خېلوکې داربکیانوپه ګزمه بریدوشو

دپکتیاولایت دجاني خېلوولسوالی په سروبلزیوسیمه کې دقومندان سلمان شاه په اربکیانو وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوې.201309-08

احمداباکې په موټر چاودني 3 اربکیان ووژل

دپکتیاولایت د احمداباولسوالۍ دمچلغوپه سیمه کې داربکیانو رېنجر موټر په ماین والوزول شو، دچاودني له امله موټر ویجاړ، 3 تنه اربکیان مړه او 4 نور سخت ژوبل شول. 2013-09-08

پکتیکامرکزته نژدې په پولیسو دلاسي بم بریدوشو

دپکتیکاولایت دښرني بازار ته نژدې دپولیسوپه ګزمه دلاسي بم دبریدپه مهال 1 تن پولیس سخت ټپي شو. 2013-09-09

په زرمت کې 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ اوګردېز ترمنځ دغزېدلي لاري په سر داجیري اردوپه ګزمه دوسلوال بریدپه مهال 2 عسکرووژل شول او 3 نور شدیدټپیان شول. 2013-09-09

لجه منګل کې جنګي چورلکه وویشتل شوه

دپکتیاولایت د لجه منګل ولسوالۍ دشرني دغره په څوکو کې ددښمن جنګي چورلکه په دهشکه وویشتل شوه اودڅمکنو ولسوالۍ په کمپاین کې یې بیړنۍ ناسته وکړه. 2013-09-09

پکتیامرکزته نژدې 2 عسکرله مجاهدینوسره یوځای شول

دپکتیاولایت مرکز ګردېز ته نژدې په تیره سیمه کې داردو دوه تنه عسکر (نعمت الله او احمدالله) د دعوت او ارشاد کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینوسره یوځای شول. 2013-09-09

پکتیامرکزته څېرمه چاودني ټانګ او 3 عسکرله منځه یوړل

دپکتیاولایت مرکز ګردېز ته نژدې دتیرې په سیمه کې داجیري اردو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک ویجاړ، 3 تنه عسکر مړه او 2 سخت ژوبل شول. 2013-09-10

په زرمت کې 3 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په مقرب خېلوسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې 1 عسکرووژل شواو 2 نور شدیدټپیان شول. 2013-09-10

څمکنوکې په اربکیانوبریدوشو

دپکتیاولایت د څمکنو ولسوالۍ په میزدي سیمه کې داربکیانوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، په برید کې اربکیانو ته داوښتي مرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013-09-10

سیدکرم کې ماین د 2 عسکرو ژوندواخیست

دپکتیاولایت دسیدکرم ولسوالۍ په چینوسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه دماین چاودني داجیري اردو 2 تنه عسکر ووژل اوګڼ نوریې ژوبل کړل. 2013-09-11

ګرده څېړۍ کې عسکرپه درازکوف وویشتل شو

دپکتیاولایت د ګردي څېړۍ ولسوالۍ په سراني سیمه کې کمپاین ته نژدې یوتن سپیشل فورس عسکر په درازکوف وویشتل شوچې ځای په ځای ووژل شو. 2013-09-11

جاني خېلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

دپکتیاولایت دجاني خېلوولسوالۍ په میاکله سیمه کې له اربکیانوسره درنه نښته وشوه، دنښتي په ترڅ کې 1 اربکی سخت ژوبل شواونور په تېښته بریالي شول. 2013-09-11

زرمت کې دګډدښمن 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ د کولالګوپه پټان سیمه کې دګډدښمن په عسکرو وسلوال بریدترسره شو، په برید کې 2 عسکرمړه او ۳ تنه نور ژوبل شول. 2013-09-12

پټان کې چاودني اربکی قومندان ټپي کړ

دپکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په کوټ کلي کې داربکانوپه ګزمه د ماین چاودني اربکی قومندان اودهغه ګڼ ملګري سخت ژوبل کړل. 2013-09-12

ګردیزپه وسلوال بریدکې 3 عسکرووژل شول

دپکتیاولایت دمرکز دګردیزاروندد تیري په سیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې دري تنه اجیر عسکر ووژل شول. 2013/9/12

لجه منګل ولسوالی، په ودانی، بریدوشو

دپکتیاولایت دلجه منګل ولسوالی په ودانی وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته داوښتومالي اوځاني تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. 2013-09-13

جاني خپلوکې په اربکیانو 2 ځله بریدونه وشول

دپکتیاولایت دجاني خپلوولسوالی په سروبلزیوسیمه کې دقومندان سلمان شاه په اربکیانو وسلوال بریدترسره شواوپه ترڅ کې یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. دغه راز دمیاکاله په سیمه کې دقومندان زخمي په اربکیانو هم ددرنو وسلو بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013-09-14

جاني خپلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

دپکتیاولایت دجاني خپلوولسوالی په سروبلزیوسیمه کې له اربکیانوسره درنه نښته وشوه، په نښته کې ګڼ شمېر اربکیان مړه اوژوبل شول. 2013-09-14

سیدکرم کې ماین د2 عسکرو ژوندواخیست

دپکتیاولایت دسیدکرم ولسوالی په چینوسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه دځای په ځای شوي ماین چاودني داجیري اردو 2 تنه عسکرمړه او2 تنه نور سخت ژوبل کړل. 2013-09-14

زرمت : په موټرچاودني 2 عسکرووژل

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالی په مقرب خپلوسیمه کې داجیري اردو رېنجرموټرپه ماین والوزول شو. چاودني موټر تخریب، 2 تنه عسکرمړه او 1 بل سخت ژوبل کړل. 2013-09-14

پکتیامرکزته خبره 3 عسکرو ژوندنه لاسه ورکړ

دپکتیاولایت مرکزته ګردېزته نژدې په تیره سیمه کې دبریدپه مهال داجیري اردو 3 تنه عسکرمړه او 2 نور شدیدټپیان شول. 2013-09-15

جاني خپلوکې په اربکیانوبریدوشو

دپکتیاولایت دجاني خپلوولسوالی په میاکله سیمه کې داربکیانوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. 2013-09-15

برمل کې پوسته تربریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دبرمل ولسوالی په شپاز ترلي سیمه کې داجیري اردوپه پوسته وسلوال بریدترسره شو. دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتوپه اړه دقیق معلومات نشته. 2013-09-16

جاني خپلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

دپکتیاولایت دجاني خپلوولسوالی په رباط سیمه کې له اربکیانوسره درنه نښته ترسره شوه، په نښته کې دښمن ته داوښتو تلفاتوپه هکله دقیق معلومات نشته. 2013-09-16

احمدآباد کې دجاسوسي اداري کارمندووژل شو

دپکتیاولایت د احمدآباولسوالی په مچلغوسیمه کې دجاسوسي اداري یوتن کارمند (خان) دځمکني ماین په چاودنه کې ووژل شواوموټرسایکل یې په بشپړه توګه ویجاړشو. 2013-09-16

ځمنګوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

د پکتیاولایت دځمکنو ولسوالی په مزدي سیمه کې له اربکیانوسره خونړۍ نښته وشوه، په نښته کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خوګره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. 2013-09-16

زرمت کې کمپاین په هلوان وویشتل شو

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالی په کولالګوسیمه کې ددښمن کمپاین دهاوان په 2 مرمیودقیق وویشتل

شو دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتو په هکه دقیق معلومات نشته.2013-09-16

څمکنو کې په اربکیانو بریدوشو

دپکتیاولایت دڅمکنو ولسوالۍ په مزي کلي کې په اربکیانو وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې یواربکی ټپي شو او نورپه تېښته بریالي شول.2013-09-16

څمکنو کې داربکیانو په ګزمه بریدشو

دپکتیاولایت د څمکنو ولسوالۍ په نوزي سیمه کې داربکیانو په ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته.2013-09-17

زرمت : ماین موټرتخریب او 2 عسکرووژل

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په مقرب خېلوسیمه کې داجیري اردو په رېنجر موټر درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر پوره تخریب، 2 عسکر مړه او بل سخت ژوبل شو.2013-09-17

لجه منګل ولسوالۍ ودانۍ تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت دلجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ اوهغې ته نژدې دپولیسو په پوسته وسلوال بریدترسره شو، په بریدونو کې ودانیو ته زیانونه واوښتل اوپه دې سربېره 2 تنه پولیس ووژل شول.2013-09-17

زرمت کې په موټرچاودني 1 عسکروواژه

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نژدې په زرګر ګودر سیمه کې داجیري اردو رینجر موټرپه ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټرپوره تخریب شواویوعسکرپکې ووژل شو.2013-09-17

زرمت کې یوپولیس په درازکوف وویشتل شو

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ دهستوګني په سیمه کې داجیري اردو یوتن پولیس په درازکوف وویشتل شواو ځای په ځای ووژل شو.2013-09-17

پکتیامرکزته نژدې په کاروان برید، 6 عسکرووژل شول

دپکتیاولایت مرکز ګردېز ته نژدې په ابراهیم خېلوسیمه کې داجیري اردو په کاروان وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې 6 عسکرمړه او 4 نورشدیدټپیان شول، په جګړه کې یوتن مجاهد دشهادت لوړ مقام ته ورسېد. انالله وانااليه راجعون.2013-09-17

جاني خېلوکې په اربکیانوبریدوشو

دپکتیاولایت د جاني خېلوولسوالۍ په سنزایوسیمه کې داربکیانوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې اربکیانو ته درنه مرګ ژوبله واوښته.2013-09-18

لجه منګل کې وسلوالۍ په ودانۍ بریدوشو

دپکتیاولایت دلجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ او نژدې پوسته وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې ودانیو ته په زیان اوښتوسربېره 2 تنه پولیس مړه او ګڼ نورټپیان شول.2013-09-18

پټان کې په قرارګاه اوپوستوبریدونه وشول

دپکتیاولایت دپټان ولسوالۍ په شپولي سیمه کې دسرحدي پولیسو په قرارګاه اوپوستو وسلوال بریدونه ترسره شول چې له امله یې دښمن ته درانه تلفات واوښتل.2013-09-18

پکتیامرکزته څېرمه داجیري اردوپه ګزمه بریدوشو

دپکتیاولایت ګردېز ته نژدې په ابراهیم خېلوسیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدترسره شوچې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته.2013-09-18

څمکنو کې 5 عسکرله مجاهدینوسره یوځای شول

دپکتیاولایت په څمکنو ولسوالۍ کې 5 تنه عسکرچې په سرحدي پولیسو، اجیري اردو او اربکیانو کې یې دندي ترسره کولې دجلب اوجذب کمیسیون د دعوت په پایله کې داسلامي امارت له مخالفت نه لاس په سر شول.2013-09-19

ځاځي اریوب کې په ګزمه بریدوشو

د پکتیاولایت د ځاځي اریوب ولسوالۍ په هشتیاسیمه کې د پولیسو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې یوموټر تخریب شوخودمرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوې. 2013-09-19

پټان کې په قرارګاه اوپوسته بریدوشو

د پکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په ځیګړ سیمه کې ددښمن په قرارګاه او سرحدي پوسته وسلوال بریدونه ترسره شول، دبریدونوله امله دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. 2013-09-19

پکتیامرکزته څېرمه دیرغلګروټانګ په ماین والوت

د پکتیاولایت مرکز ته نژدې په تېره سیمه کې دیرغلګروعسکروزغروال ټانګ په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک پوره تخریب شوخودمرګ ژوبلي دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2013-09-20

پکتیامرکزته نژدې په موټرچاودني 2 عسکرووژل

د پکتیاولایت په مرکز ګردېز کې د پاچاخان زدراڼ دفتر ته نژدې په بلندمنزلوسیمه کې د ګوډاګیوعسکروپه رینجرموټرچاودنه وشوه چې له امله یې 2 عسکرمړه، 2 ټپیان او موټرهم پوره تخریب شو. 2013-09-20

جاني خېلوکې له اربکیانوسره نښته وشوه

د پکتیاولایت دجاني خېلوولسوالۍ په میاکاله سیمه کې له اربکیانوسره درنه ښته وشوه چې په ترڅ کې یې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل. 2013-09-20

ځاځي اریوب کې 3 اربکیان ټپیان شول

د پکتیاولایت دځاځي اریوب ولسوالۍ په علي سنګي سیمه کې داربکیانوپه ګزمه بریدوشو، دبریدله امله 3 اربکیان ټپیان شول او نورپه تېښته بریالي شول. 2013-09-20

احمدابا کې درئیس ارکان په موټرماین وچاودېد

د پکتیاولایت د احمداباولسوالۍ په مچلغوسیمه کې درئیس ارکان رېنجرموټرپه ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټرپوره تخریب شوخو درئیس په اړه دقیق معلومات نشته. 2013-09-20

زرمت کې پولیس په درازکوف وویشتل شو

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په هستوګنه سیمه کې یوتن پولیس په درازکوف په نښه او وویشتل شوچې سخت ټپي شو. 2013-09-21

احمدخېلوکې 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیاولایت داحمدخېلوولسوالۍ دشوات په سیمه کې دپولیسو او اربکیانوپه موټریز کاروان بریدترسره شو، په برید کې 2 عسکرمړه او 3 نورشدیدټپیان شول. 2013-09-21

زرمت کې دبریداوچاودني له امله 5 عسکرووژل شول

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ دمقرب خېلوپه سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدوشوچې په مهال یې 2 عسکرووژل شول او 2 نورشدیدټپیان شول. له بریدوروسته په همدغې سیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه درنه وشوه چې له امله یې 3 تنه عسکر ووژل شول. 2013-09-21

پکتیامرکزته څېرمه 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیاولایت مرکز ته نژدې په ابراهیم خېلوسیمه کې داجیري اردوپه پلې ګزمه وسلوال برید ترسره شو، په برید کې 2 عسکرووژل شول او 2 نورشدیدټپیان شول. 2013-09-21

